

Ketabton.com

ښاغلی قیام‌الدین خان « خادم »
د «روهی ګاونه» مؤلف

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپښتو ټولنې له خپرونو څخه :

دخپرونو لمبر ( ۷۱ )

# روهي ګلونه

مؤلف

قيام الدين « خادم »

دپښتو ټولنې ددائرة المعارف دترجمې دڅانګې مدير

۱۳۲۵

دکابل

عمومي مطبعه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زېرى

بلبلان پسې ناري وهي رحمانه ! د بهار گلونه شويدي كه نه دي ؟

«رحمان»

* * *

د سوند ک مو ند ک سپلی اخری کېنږي په بلبلو زېرى و کړه : بيا بهار دى

«خوشحال»

* * *

د گلونو قدر چا زده ؟

د بلبل يا د بو را زده

«خوشحال»

تقریظ:

# روهي ګلونه

هرطرف ته نو بهار دی غوړېدلی
سترګی وخوره چه به دا ننداره نه کا
(خوشحال)

دا ښکلي ګلونه چه د ښاغلي خادم په زیار راغونډ شوی دي او د پښتو ادب مینانو ته د سوغات په توګه وړاندې کېږي، هغه ګلونه دي چه پښتنو د ښخوا نیو شاعرانو د زړه په وینو روزلي شوي دي.

ښنګه چه تراوسه پوري د پښتو ژبې په ادبیاتو کښې داسې یو جامع منتخبات نه و، او ښاغلي خادم (چه د پښتو یو پیاوړی ادیب دی) په دې کارګوتې پورې کړې او بریالی شوی دی، نو پښتو ټولنه داخپله وظیفه ګڼې چه د دې فاضل د ادستایلو وړ خدمت وستایي او په دې انتخاب دده ته تبریک ووایي او هم په دې ګلونو سره د هغو پردیسانو روح ښاد اویاد کړي چه د وی به د خوازه وطن په بېلتون کښې وېل:

قاصدان له روهه نه راځي مدت شو
سلام باد را رسوی منت ئې تم دی

او له خدایه غواړي چه داسې ډېر آثار پښتنو ته وړاندې کړي.

(عبد الرؤف «بېنوا»)

د پښتو ټولنې عمومي مدیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تهدیه

زه دا درنګ رنګ تا زه ګلونو دسته هغه چانه په مخکښې ږدم چه تر هر چا اوتر څه دروه په ګلانو مین دی !

دشاهانو ور کړه لعلو جواهر وی          دادب دخاوندانو ! دزړه وینې

« خادم »

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بسم الله الرحمن الرحيم

د لوي څښتن حمد او ثنا وایو . او دده په هغه استازي چه تر ټولو غوره دی ؛ او په آل او اولاد ئې ، درود لیږو او ددې شکر کوو چه په لنډه موده کښې مونږ د خپل ملت (پښتو او پښتو نولي) په خدمت کښې «چه زمونږ د مشرانو او خصوصاً د ګران ټولواك اعلیحضرت محمد ظاهرشاه رضامندي هم په دې کښې ده»
څومره چه کښېدی شوه دغې ته ډېر کامیاب شو . یعنی په کوم وخت کښې د پښتو خدمتګارانو زیات آثار و لیکل ؛ چه لږ له دغو څخه چاپ شوي دي ؛ او ډېر لا پاتې دي په فرصت کښې به چاپیږي او د ذوق خاوندانو ته به وړاندې کیږي .

یو له دغو آثارو څخه چه د پښتو په ادب کښې ورته ډېره اړتیا لیدی شوه دا کتاب دی چه د «روهي ګلونو» په نامه نن له چاپه راووت . دا کتاب د ډېرو پخوانو هغو شاعرانو د اشعارو انتخاب دی ، چه نن یې آثار ډېر لږ کښیږي . دا اشعار او د دغو شعراؤ دیوانونه ما په ډېر کوښښ پیدا کړیدي . او په ډېر زحمت سره مې تري دا مجموعه جوړه کړېده ؛ چه په خپل ډول او ترتیب کښې د نورو ژبو د یوې ، انتخاباتو ته هم نده ورته .

او د اله دې کبله چه د پښتو شعر او ادب ځانته روح او ځانته لاری لری . ما دغه روح او دغه اسلوب په نظر کښې نیولی دی ؛ او هغسې مې د کتاب د ترتیب نقشه جوړه کړېده . او بیا مې دا کتاب لیکلی دی ددې کتاب په ترتیب کښې نوې خبره داده چه د تهجي تورو یا د ردیف او قافیې په لحاظ ندی ترتیب شوی بلکه په ترتیب کښې موضوع او معنی ته زیات اهمیت ورکړی شوی دی ، نو هر څومره چه دا مجموعه یوه ادبي مجموعه ده ؛ او دا د ادب او شعر د نزاکتو او شاهکار یو څخه ډکه ده ؛ هغومره د ژوند او زندګی د اسرارو خزانه هم ده !

په دغه شان سره د پخوانو کلاسیکي شعراؤ شعر په شپږو بابونو وېشل شویدی چه په هر باب کښې فصلونه دي ؛ او په فصلونو کښې هم ځانته ځانته عنوانونه دي . او د هر عنوان لاندی د مختلفو شاعرانو اشعار لیکلی شویدی . امید دی چه د قدر دانانو په نزد به زما دا خواری ځای و نیسي ؛ او په درنه سترګه به ورته وګوري !

کابل - تسند وز سازی - قیام الدین خادم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی باب

## مینه او محبت

لویه خدایه ، لویه خدایه ! ستا په مینه په هر ځایه
غر ولاړ دی درناوی کښې تو له ژوی په ځا ری کښې
د لته د ی د غر و لمنی زموږ کنږدی دی پکښې پلنی
داو ګړی ډېر ګړی خدا یه !
لویه خدایه ، لو یه خدا یه !

دلته لنږ زمو ږ اور بل دی وړ کور ګی دی، وړ بورجل دی
مینه ستا کښې مونږ مېشته یو د بل چا په مله تله نه یو
هسک او ځمکه نغښته ستا ده د مهر و و د ه له تا د ه
دا پیا لنه ستا ده خدا یه !
لویه خدایه ، لویه خدا یه !

« بېت بابا »

❀ ❀ ❀

پرلویو غروهم په دښتو کښې په لوی سهار په نیموشپو کښې
په غاړه ژغاو په شپېلکو کښې یاد وېر ژ لیو په شپېلو کښې
ټول ستادیاد ناري سوري دی!
دستا د مینې نند ار ې دی !

جنډی زرغون که په بېدیا دی ډېر ښه خواته په خند ا دی
ترناك چه خړدی په ژړا دی دا ټول اغېز د مینې ستا دی
ټوله ښکل دی ستا له لا سه
ای دپا سوالو پا سه پا سه !

که نمر روښانه مخ یې سپین دی یا دسپوږ میه تندی ورین دی
که غردی ښکلی پرتمین دی لکه هنداره مخ یې سپین دی
ستا دښکلا د ا پلو شه ده
دا یې یو سپکه ننداره د ه

---

لغات : هسك آسمان ، مېشته : ډېره ، ځاری : عجز ، جنډی : ګل ، ترناك : دیورود نوم دی ،

دلته لوی غرونه زرغونیږی        دړوند وږمې پـکښې چلیږی
بوراوې شا وخوا کړیږی        ستړ گی لیدو ته یی هیښیږی
لویه خاو نده دا ټوله ته یی
تل دنړ ی په ښـکـلیدو یی

خاونده! ښـکلی ستاجمال دی        ښـکاره یی لوریه‌لور کمال دی
که‌ورځ که‌شپه که‌پیری کال دی        ستادقدرت کـمکی مثال دی
ستا د لور ونو یوه ر ڼا ده
دلته چه جوړ ه تما شا ده

زړه‌مې‌داستا دمینی کوردی        سوی دعشق په‌سوځندا وردی
رب یی وتاته په هر لوردی        بیله‌دې‌هیڅ‌دی‌ورك یی پلوردی
ستا دجمال په لید و ښاد دی
که نه‌وی‌دغه نور بر باد دی

په‌غرو کښې‌ستادعشق‌شپېلکی‌دی        ددې نړ ی په عشق سمی دی
که‌غټ که ووړ که‌پنډه نری‌دی        ستا د جمال بحری هر شی دی
چه‌پردنیامې‌ستر گی‌پړې شوې
ستا دجمال په ننداري شوې

نه هستٔ نه مځـکه وه‌تورتم‌ؤ        تیا ر ه خیره وه ټول عدم ؤ
نه دا ابلیس نه نی آدم ؤ        ستا د جمال سو چه پر تم ؤ
چه‌شوښـکاره ښـکلی دنیاشوه
دپنځ پر لوری یی ر ڼا شوه

زه‌چه‌خبر گند پردې‌دنیاشوم        د ښـکلی مخ په تما شا شوم
ستا پرجمال بانډی شیداشوم        له خپلی ستـی را جلا شو م
په ژړا ژړام چه بیلتون دی
یمه پردیسی بل مې تون دی

وگړیو ، ولې «متی» ژاړی        سورې یی اوری‌غاړې غاړی
څه‌غواړی‌،څه‌وایی، څه‌باړی        خپل‌تون‌او کورو کـلی غواړی
چونی چه بیل‌شی‌نیمه خواشی
تل یی دبڼ‌په لو ر ژړا شی

« شیخ متی : کلات بابا »

❀ ❀ ❀

---

لغات ـ هیښ : حیران ـ تون : ځای ـ چونی : بلبل ـ بڼ : باغ

الهی ! د محبت سو زو گداز را
ن پروربلبل دي عیش کاندی پر گلو
که مي نزموبی په ویاړ دوزو ستر گو
چه نظر له ناتوانی و چا ته نه کا
چه مي نوی سر کوزی چاته بي ښکلیو
اضطرا ب د حرص مي کړي له زړه گی اري
که مي نه فاشوي سرزید و عمر ته
خو به گورم د قیامت و ورځو شپو ته

چه خپل بر گئ په آب د چرخ نکړم سر سبز
چه مدام وی په چشمه د آفتا ب ولي
چه کباب یي په گرمی ، زما ځیگر شی

چه بلبل یي و دیدن ته انتظار کا
که مي نه محتاجوي د صبا باد ته
سرخرو یي زما نصیب لکه لاله کړه

په اوبو کښي یي د کاملی گوټ پیدا کړ
په سجود یي مځکي سردی لگولی

الله مي رب د ی زه یي مربوب یم
غرق په اوبو کښي کله اوبه وینی

د د ه په حکم با لا پستی شی
نه تل بهار وی نه تل خزان وی

چه زما په چمن راشی گستاخی کا
چه آزاد ه د منکر تر سره پر بوځی
چه کشور د افغا نا نو معطر شی
الهی ! د خپل حبیب له بر کته

په داور کښي دستی(۱) سمند رساز را
پروانه لره په اور ز ما گداز را
می د عیش په میخانه کښي د مجازرا
د هغو بیمارو ستر گو نازو نیا ز را
له دولت د عشقه هسی کبر و ناز را
قنا عت قوی لنگر دد ې جهاز را
خپل زانو لکه نرگس محرم راز را
دا انجام په دم قدم کښي د آغاز را

«عبدالمجید مهمند»

د همت علو پشان د کهکشا ن را
د سحرپشان درست عمرسپین دامانرا
دلاله غوندی پهجام مئی جوشانرا

کاظم خان «شیدا»

ن و ماوته گلشن د هغه با غ را
بوی د یار د تورو زلفو په دماغ را
پرسینه له محبته هسی دا غ را

«شمس الدین کاکړ»

ده ور کړی پکښي اورلره مکان دی
هم یي زوړندپهر کوع سره آسماندی

«عبدالرحمن مهمند»

بنده دده یم که خوب نا خوب یم
نعمت یي نه وینم په نعمت ډوب یم

«عبدالقادر ختك»

مستی خما ر شی خما ر مستی شی
هستی نیستی لری ، نیستی هستی شی

«خوشحال ختك»

د شبنم په څېر یي عمریوزمان کړي !
د فلك په څېرمي توره د زبان کړی !
دهر بیت مصر ع مي زلفي د خوبانکړی !
دا : ساده انشار نگینه درحمان کړي !

«عبدالرحمن مهمند»

---

(۱) په اکثرونسخو کښي د (ستی) پځای (سهی) لیکلی شویدی ؛ خومونږ یي په معنی نیوهېږو «خادم»

روغی گلونه(٥٢٥) ب سردار محمد : ح سراج الدین : ر محمد امین : ن محمد نعیم : ه اجرائیه پښتو ټولنه لیل۱۸ : ۸-۲۰-ع

الهی د مینی درد را　　گرم دل آهو نه سردرا
خلاص کړه ما له بې دردۍ　　له دې هسې د لسردی
زړه په شان د غنچې را کړه　　آتشی ز ما مینا کړه

«کاظم خان شیدا»

پر هر چا چه حق یاد نشی ناتمام دی　　پر کاغذ اول دده پنام م.قلم ږده

«دوات لوانی»

## ب : داستاځی په مینه

که رنا ده پیروی د محمد ده　　گنې نشته په جهان بله رنا

«عبدالرحمن مهمند»

ړندې ستر گې چه دزړه مې برې بیناشوې　　یم پیدین د محمد آخر زمان خوبن

«عبدالعظیم رانیزی»

توره تاریکی توله لدې جهانه لاړه　　نوردپاك رسول چه په جهان کښې شه پیدا

«میانعیم متی زی»

ما مختار یکښې مذهب د حنیفه کړ　　چه مختارؤخود په ستورو کښې مهتاب

«پیر محمد کاکړ»

راغلم ووجود ته د حبیب له برکته　　شوم لکه ذره هسې په نمر سره اظهار

«پیر محمد کاکړ»

توره تاریکی توله له دې جهانه لاړه　　نوردپاك رسول چه په جهان کښې شو پیدا

«میانعیم متی زی»

په زر گونو انبیا تر دنیا تېر شو　　محمد غوندې بل نه ؤ پیغمبر هیڅ

«دولت»

## ج : عشق . . . ؟

هسې پټ گرځم دا زیړرخسار له خلقو　　لکه زرچه خوك له خلقو پټ پنهم ږدی
راحت نه دی بې زحمته چا موندلی　　کوم طبیب دی چه په روغ صورت ملهم ږدی
زه هر گوره خپل صنم پورې شرمیږم　　برهمن چه سر په پښو دخپل صنم ږدی
وآسمان ته لاس د عقل نه رسیږی　　داخوعشق دی چه په عرش کرسی قدم ږدی

«عبدالرحمان مهمند»

که د سربندل دشوار په ما و تا دی
اندېښنه سړی بیدار کاندي له خوبه

دا په عشق کښې سهل کاردي دشوار ندی
کم اندیشه که بیدار دی بیدار ندی
«عبدالرحمان مهمند»

که په کاردي د سروشو نخوشیرینی وی
درحمان په عاشقی کښې سترګې وشوي

د خپل ځان په وینو سو رلکه انار شه
ځوك چه وايي عاشق ګوند دی هغه خوار شه
«عبدالرحمان مهمند»

عشق د نفس له خاصیته منزه دی

کاردستر ګو به ځوك څرنګ پدهانګا
«عبدالرحمان مهمند»

څه حکمت دیار په مینه کښې رب کېښود
داباران نه دی چه اوری له آسمانه

چه عاشق لره همدرد او همدوا شوه
د مرغانو په رحمان باندی ژړا شوه
«عبدالرحمان مهمند»

چه په زړه باندی زرداغونه جوړ شی

چه دیار له داغه آه کاښه ګرم دی
«خوشحال خټك»

زه تر عشق جار ېږم : تر هغو چه عاشقان دی
رایشی له کومه ځای په څوو کا په زړه کښې
هی دخدای دپاره تفحص راپسی مکړه

واړه عشق یکاردی حقیقت دی که مجازدی
هیڅ پری نه پوهېږم عشق یوڅه سوزو ګدازدی
پلارته وایه نشی عشق یو هسی مخفی رازدی
« خوشحال خټك »

عاشقان دعشق له کاره انکار نه کا

فاسقان به په خپل زړه کښې اری غلا
« خوشحال خټك »

ځینی هوس کامینه په باغ لری
داد واړه ګرو هه بوالهو سان دی

ځوك می پسر سته حب دا یاغ لری
عاشقان مینه د زړه په داغ لری
« عبدالقادر خټك »

لیونی غوندی دعشق په کارو بار کښې

دخپل ځان په سودو زیان نه یم هر ګز
« عبدالحمید مهمند »

که هرڅومې تندتېزه توسن دعقل

عاقبت شو په دنبال د مینی پاتی
« میا نعیم متی زی »

دعشق یوسبق کافی دی

نور ددرست جهان دفتر هیڅ
« صدرخان خټك »

عاشق ګرم او شوقی وی
چه دعشق په لاره درو می

زاهد سوړ بی حمیته
خالی ندی له تهمته
« دولت لوانی »

خام خاطر مې مشوش و په هجران کښې
چه تمام دعشق په اور وسو متین شو
«دولت لوانی»

معرفت ځنې پیدا شو
عشق د عقل پلارو مور دی
«مرزا خان انصاری»

دغه عقل چه په عشق با ندې شیدا شو
دعرب په مینه گوره چه عجم مری
«مرزا خان انصاری»

وقبلې د عشق مخ د کل عالم دی
ودریاب ته ځی که سیل له هر جا پاځی
«مرزا حنان»

په هرداغ مې دخیل زړه هسې باوردی
چه په مرگ به راته شمع شی په گور کښ
«عبدالحمید مهمند»

که شهید نکړی خیل ځان دعشق په توره
نوش به کله جام دحوض کوثر نکړی
«عبدالعظیم رانیزی»

دسیماب په شان په لاس کښې نیوی نه شم
آئینې غوندی هر ولی هر ناولی
عشق را هسی گرم هم نرم هم لطیف
شی مهمان ځما په کور کښې بی تکلیف
«شمس الدین کاکړ»

هر یو زړه چه شی پیدا غه بېکار نه دی
چه بی مهره شی برات هغه باطل دی
«مرزا حنان»

ته دعشق په لذتو نو خبر نه شوې
هغه چاری چه دعشق په جذبه کېږی
په سراب دځان مشغول کړ، له دریابه
کله کېږی په لښکرو په افواج
«خواجه محمد بنگښ»

جریده د عشق په لار ځم همراه نه لرم بې عشقه
بی رفیقه، بی پناه ځم، پناه نه لرم بې عشقه
هرساعت چه بیلتون یاد کړم په خپردادو فریاد کړم
ځکړم چاو ته فریاد کړم، نیکخواه نه لرم بې عشقه
مدام غوښې د زړه خورمه، دزړه وینې به تل څښمه
ځکړم ځکړم چرته ځمه، همراه نه لرم بې عشقه
معتقد یدا خیل رزق یم، مبرا په زړه له فسق یم
واړه سرتر پا په عشق یم، یو گناه نه لرم بې عشقه
دافقیر دولت نفسی یم، و گناه ته هوسی هم
خدای مې بیامرزه عاصی یم، گناه نه لرم بې عشقه
«دولت لوانی»

عشق دی دا که یو فساد دی نه پوهېږم
په جهان کښې چه داشورو شر پیداشه
بیا به روغ دعاشقی له رنځه نشی
په هرتن کښې چه دغه اثر پیدا شه
«عبدالرحمان مهمند»

(c) ketabton.com: The Digital Library



باد شاهانو که قصرو نه کړه آباد — ماد عشق عمارتونه کړه آباد (۱)
نوم د کوم یوه بادشاه هسی یادېږی — لکه نوم دی دمجنون او د فرهاد
عشق عاشق لره یوهسی پیر استاددی — چه به نه دی بل دا هسی پیر استاد
دغه واړه کرامت د عاشقی دی — چه څوك غوث کاندی، څوك قطب څوك اوتاد

« عبدالرحمان مهمند »

د رحمان شراب له عشقه — نه انگور (۲) نه له عنبه

« عبدالرحمان مهمند »

عاشقی ده خدای له اوره پیدا کړی — چه په اور کښي یې وطن وی څه به خوب کا

« عبدالرحمان مهمند »

مدام ناست یم وچ کو گلستر کی په نم کښي — عشق راو ښود بحروبر په خپل حرم کښي

« عبدالرحمان مهمند »

دا یو څرنگه ژوندون دی نه پوهېږم — خواب وخیال دی که افسون دی نه پوهېږم
دېښنگ او د بلبل ترمینځ حیران یم — مخ دي اوردی که گلگون دی نه پوهېږم
عشق په هسی رنگ مقام باندی قائم کړم — چه وصال دی که بیلتون دی نه پوهېږم
د رحمان څهره یی زیړه زعفرانی کړه — خدای زده عشق دی که طاعون دی نه پوهېږم

« عبدالرحمان مهمند »

خودخو گندوی لکه صبح به جهان کښي — هر گوهر وان چه په یاری کښي دریده شی
بی مطلوبه بی هیڅ فهم په چا نه وی — هر طالب چه په طلب کښي فهمیده شی
یا به قند یا به نبات او یا به شهد وی — هر کلام چه له رحما نه شنیده شی

« عبدالرحمان مهمند »

سر اومال مي شو تالا په تور د عشق — لا مي ندی لاړ له سره شور د عشق

« عبدالقادر خټك »

چه د عقل په تدبیر مي عاشقی کړه — پوهېدلی په تدبیر وم د د بیر کج
هیڅ مدد له عقله مه غواړه په عشق کښي — د دغه طبیب دارو لری تاثیر کج
راهبران دعقل واړه رهزنان دی — لېږ د عشق له لاری مه بیا په بهر کج

« عبدالحمید مهمند »

په هر ځای کښي ناست ولاړ زانگم له غمه — مینی مخ راته د ځمکی گهواره کړ

« عبدالحمید مهمند »

ته چه ما له عشقه اړ وی نا صحه ! — دا عبث دی پول د سحر په دریا زدی

« شمس الدین کاکړ »

عشق دعقل په تدبیر چلاوه نشی — په دي ناوي نه جوړېږی پسول د چا

« عبدالحمید مهمند »

---

(۱) په مجنون نسخو کښي (بنیاد) راغلی دی (۲) دانگور په ځای که (خورما) وای، ښه به وای «خادم»

(c) ketabton.com: The Digital Library



داجهان دی خدای له عشقه پیدا کړی — د جمله ؤ مخلوقا تو پلار دی دا
تر عشق غوره بل څه کار په دنیا نشته — تر همه کارو نو غوره کار دی دا
« عبدالرحمان مهمند »

بل به هسی سرگردان په جهان نه وی — یا عاشق دی یا آسمان دی یا آسیا
ته چه ز غوري سروما ل په عاشقی کښي — عاشقی دا هسی کله ده و یریا
چه یی کسب عاشقی ده د دلبرو — نظر نه کاندی په کسب د کیمیا
« عبدالرحمان مهمند »

بیدردان دعشق له درده خبر نه شول — براهیم څکه منت بار دا هل درد یم
« ابراهیم »

هیڅ می نزده محبت که او ر دی دا — یه اور سوزم یه رضا که زور دی دا
چه په تله د سرو مال راڅخه نه ځی — واقعی د تورو ستر گو تور دی دا
چه یی زه له بله غمه په امان کړم — دعشق غم دی که زما غمخور دی دا
چه می ولیدو «حمید» دعشق په کار کښي — لیونی د مجنون کشر و رور دی دا
« عبدالحمید مهمند »

یاد شکیلو دپا ولیو شرنگها ر دی — یا د عشق د لیونیو د ز نځیر
« عبدالحمید مهمند »

بی رهبره یون دعشق په لاره گران دی — دلیه بویه چه پیدا کاندی رهبر څوك
« عبدالرحمان مهمند »

خپله مینه یی ر هبر پیر کامل دی — عاشقان څکه طلب دبل پیر نه کا
« مطیع‌الله پیرخیل »

آرام زړه په عشق کښي نشته سرله سره — خوب محال په هغه څکه چه توده شی
« عبدالله پوپلزی »

چه اثر د میني نه وی باندي شوی — هغه زړونه گویا کا نی د بیدیا دی
« ملا جمعه »

-------•••◆◆◆•••-------

# غزلیات

که څوك یار په جهان غواړی یار دی دا — یار دی دا که دجهان سنګار دی دا
خیال دز لفو یی زما لـه زړه چا پیـر شو — که تر ګنجه چا پیر شوی مار دی دا
دا جهان دی خدای له عشقه پیـدا کـړی — د جملو ؤ مخلو قا تـو پـلا ر دی دا
تر عشق غـو ره بل څه کار په دنیا نشتـه — تر همه کـا رونو غـو ره کـار دی دا
بل بـلبـل بـه د ګـل نـوم ا خستـی نـه ؤ — که خبروی چه ګـل نه دی خار دی دا
بیـا را تلـه و دی جهان ته بل وار نشتـه — بل وار نشته بل وار نشته وار دی دا
د حباب عمر دي و ګـو ری چـه څـه دی — که څوك شمار کـاندی دعمرشماردی دا
د مجنون صورت په زړه کړه رحمان ګوره — ستا په عشق کښي هسی خوار زاردی دا
« عبدالرحمن مهمند »

چـه یـی و لیـد و ستـا حسـن بـېـحسـا ب — له دي قصد ه تـاو پیدا شو د آفتـاب
په آرزو یي دنر ګس ستـر ګی څلور شو ي — غنچه سره دزړه په وینو شوه غرقاب
ستاپه غم می دواړه ستر ګي سري ناغي شوي — که خیمی د ی سیاه پوشي سره طناب
که دي زلفي په مخ پیچ وتاب شوي ښایی — وبښته څه طـا قت لری د اور له تاب
در حمان بخت بـه هلـه له خوبـه ویـښ شی — که ستر ګي ورته پورته کړي له خواب
« عبدالرحمن مهمند »

کـه ساقی تـلخـه بـا ده دریا ی شور کـا — د فلـك په جام به مست کـله مخمور کـا
آرا ستـه وی تل محـفل د خنـد ه ر و یـو — زمانه به د ګـل جام څرنګه نسکور کـا
چه په لاس کښي یی تل چوب لـکه شانه وی — بی افسونه به نیو ل د تور منګور کـا
د لتنګی کـړم لـکـه ګـل بـه خنـدا ور کـه — کـه می بل دصبا باد په خونه اور کـا
چه په سریی سبز آسمان زری دستار ږدی — عا قبت یی لـکه شمع بیـا سر تور کـا
لـکه ګـل کـړی ګـران بـا ر تـر دا منـشی — باد دي څه لـکه غبار په کتف سور کـا
« کـاظم خان شیدا»

کـه ښکـا ره زما خا طر د لاله داغ کـا — په ژړا به ستر ګي سري د ګـلو باغ کـا
د حباب غونـد ي مي دك بـه آه سرد کړ — څوك زما په ګور به بل څرنګ چراغ کـا
افرو ختـه یی وی محـفل پـه شان دشمـع — چه سوخته دبل په کـار کښي خپل دماغ کـا
دګر دش نـو بت یی هېـڅ په ما دا نشی — که سا قی د ز ماني ، فلـك ا یاغ کـا
زنګه که هر کـله «شیدا» دتیغ جوهر خوری — دمکس په بالّ به څرنګ استفراغ کـا
« کـاظم خان شیدا»

چـه مـی ولیـد ه ا بـرو پـه مخ دیار کـج — له تعظیمه ور ته زه شوم په تـلوار کج
کنږي ورو ځی کوږ با نه کنږي یی ز لفی — منا سب دی له کنږو سره رفتـار کـج
مار په دا سبب مـد ام کـجر فتا ری کـا — چه یی ولید ه دا ستا د زلفو مار کج

هسې ژړا خلې اتر له همنشینه
چه معماري اول خښته کږه کښېږدي
ژړبه وا چوی یار دار چار پای په خاکښې
هیڅ جواب د پیغام نه راځی دیاره

په سبب د کږې ښې شي سم بازار کج
بیا ترسره پوری ځی هغه دیوار کج
که یی یو ځله څوك وځکوی مهار کج
پسی زما شوه تورلیمه په انتظار کج
« شمس الدین کاکړ »

څوږ ژوندون راپوري هسی کړ هجران تریخ
نو خطان چه د عاشق له ژړا بدوه دی
په وصلت کښې له رقیبه نه خلا صیږم
می حرام دی په مجلس کښې چه یارنه دی
چه می نوم ستا د هجران په ژبه وا خیست
که فرهاد ته شیرین غم د شیرینی دی

لکه حال وی پربند یانود زندان تریخ
پرسبزه باندې نا وخته وی باران تریخ
پرموسم د گل اوقات شی د باغبان تریخ
بی له گله وبلبل ته شی بوستان تریخ
لا تر او سه می په هغه دی دهان تریخ
داستا غم کړ شیرین عمر پرحنان تریخ
« مرزا حنان »

چه مي یار ولید په سینه د اغیار گه
د غه حق د بلبلا نو په چا نب دی
په امید د زلفو و ښېښتم په دام کښې
د دیدن په گدائی کښې مې ننگ نه شی
د وفا د گلو پیا نې پکښې نشته
زه رحمان ئې د فردوس له غمه خلاص کړم

له غیرته می لیمه شوه په خو نبار گه
خدای د نه کا مبتگیر کړم په لاله زار گه
رو هیلی وم ساده دل په هندو یار گه
درویز گریم د بتانو په بازار گه
کاشکی نه وی زه د دهر په گلزار گه
چه په کلی په کوخه شوم د خپل یار گه
« عبدالرحمن مهمند »

دا تور خط را غی په مخ د گلعذار
سپین رخساری په تورخط کښې هسی پټ شو
زما نه به بی سپین مخ دا هسی تور کا
هر کارساز نن په خپل کار کښې درمانده دی

که غالب شوه په کشمیر باندی کفار
لکه پته چه معنی وی په اشعار
چه غرض اری د بل په کا رو بار
او به کله وړای شی گرځ دخپل رخسار
« شمس الدین کاکړ »

او ښو د فراق دستر گو خواب را خخه یووړ
رنگ په رنگ ژړا کړم لکه نی دیار لغمه
نه مي را برسېره کړ گوهر دعشق له بحره
تل چه یی هوس کاندی سره لاس وخونریزی ته
یو طرف ساقی شو بل طرف شو جام دمیو
وا چولم یار د جدائی په سره دیگ کښې
هیڅ یی نظرونه کړ زما و خاکساری ته
سینه خوله دیار چه په خواست زه شمس الدین غواړم

کور زما دصبر دي سیلاب را څخه یووړ
زړه مي په یوه نفس احباب را څخه یووړ
زیات یی لاآرام لکه حباب را څخه یووړ
سري دهغو ستر گو قصاب را څخه یووړ
عقل یی له میانه په شراب را څخه یووړ
روح یی زما دځان لکه گلاب را څخه یووړ
زړه مي سیا چشمو په شتاب را څخه یووړ
خواست دهري وریحي دمخ آب را څخه یووړ
« شمس الدین کاکړ »

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما زړه ګوره چا یووړ — په دوه زلفو لیلی یووړ
ځکه د ی شوبې ارامه — چه د زلفو بلا یووړ
چه په خپل قوت غره وم — زړه قوت په تالا یووړ
دا کتاب زما دستر ګو — سیلا بو د ژړا یووړ
خه بازار چه مې د زړه ؤ — ...ن ستاحسن په غلا یووړ
حسن باج ؤ چا ورنکړ — ده جهان په یغما یووړ
ما ویل چه مینه نه کړم — زړه بېوا که شهپا یووړ
قراری دزړه مې نشته — بېقرار زلفو ستا یووړ
داتمام عالم ښادی کا — احمد غم دا شنا یووړ «احمدشاهابدالی»

...ستا د زلفو خیال چه زه افګار ساتم همېش — هسې په سینه کښې ګویا مارساتم همېش
زلفی دې سنبل مخ د ګلاب ستر ګې نر ګس دی — زه باندې باغبان یم دا ګلزار ساتم همېش
داله تلو سې نه چه پر قلب مې پېرزو نه شی — ځکه په ځګر کښې ستا ازار ساتم همېش
خلق زهیر پېژی چه مجلس لره ور دروم — پس له دې به زه نور ځان کنارساتم همېش
عکس د رخسار چه دې زما په زړه کښې ګرزی — زه په خپل ځګر کښې سورا نګارساتم همېش
زړه مې ستا له غمه همېشه آه و فغان کا — زه په خپل وجود کښې دابیمار ساتم همېش
ستر ګې مې څلور شی ستا پر خوا چه وعده و کړې — زه حنان له غیرو داستالار ساتم همېش
« مرزا حنان »

خط به مخ د صنم راغی که سپوږمی شوه په هاله کښې — دایی غابن په خوله کښې زیب کا که ژاله شوه په لاله کښې
هسې رنګ سحرو جادو کا په نظر د شهلا ستر ګو — نه یې سیال په هند کښې شته دی نه ثانی په بنګاله کښې
لکه ونهلی مرغی په سست دام د سلو لومو — هسې زه پر ښانو زلفو کښې یستم په کشاله کښې
دازما له غمه شپن زړه یکښې خیال د یار دلبو — هسې رنګ زیب وزینت کا لکه مې په شنه پیاله کښې
ماویل عین ګټ ګل دی دغنچې په لمن لښتې — که مې کوت یو ګل اندام ویروت په سبزه دوشاله کښې
شکلی مخ کا ولې ناسته، په مجلس د رقیبانو — په جوار د سپو کښې نه وی هیڅ ارام په غزاله کې
سرتر پایه تیغ د هجر لکه نی سوری سوری کړم — ځکه یم مدام داهسې په فریادو په ناله کښې
که یارغوادې هومره ژاړه خودر ځی عبدالحمیده! — دایه دا چه درمونده شی په دریاب نه په ناله کښې
« عبدالحمید مهمند »

زه داهسې دیوا نه او مجنون چا کړم — له رواج او له رسومه بیرون چا کړم
نه پوهېږم چه داهسې چارې څوک کا — لېونی د خپل نګاه په افسون چا کړم
کومې ستر ګې کوم بانړه کومه غمزه ده — دوب شهید غوندې په خاکه اوپه خون چا کړم
...وان توفیق چه دفتنو را خخه نه ؤ — په فتنې د تورو ستر ګو مفتون چا کړم
رحمان هیڅ له خپله ځانه خبر نه یم — چه دا هسې رنګه زبون اومحزون چا کړم
« عبدالرحمان مهمند »

زه دیدار په دردو غم کښې شاد مان یم — لکه ګل دبر ښانی په وخت خندان یم
تـه زما و بېکسی تـه نظر مـکړه — خدای ساتلی لکه ګنج په بیابان یم
لکه ونه د ځنګل په مېوه یو ره — په ویرا نه ویرا نی، کښې ابادان یم
یوو ښتـه مې دصورت بی عشقـه نـه دی — څوکیدار په هر نفس دخپل کار وان یم

دو صال مارغه داو ښو دا نه را کړه    لکه لعل ودر په غاړه د خوبان یم
د کاملي عقيدې له برکته    دروهي په غاړه ناست شاه جهان یم
روښنائي مې په طلب کښې شوه حاصله    شپه اوورځ لکه آفتاب په لار روان یم
چه صفت د تو رو زلفو د اشنا کړم    بلي ، سر په لو په لار د هندوستان یم
بې مینه مې هیڅ حال د صورت نشته    لکه بې مال ومتاعه تش د کان یم
دهوس بلبل ویسا را با ندې نه کا    دافلاس په کبل بو تسی د خزان یم
دلبرانو ته خاك تر تلی لا ندې    د دې نور جهان په سر لکه اسمان یم
چه دیار په دیدن سرو مال ښندمه    خلقو واوری زه هغه عبدالرحمان یم
«عبدالرحمان مهمند»

زه دیار په درو غم کښې غرقاب خوښ یم    په داوور کښې بیطاقته بیتاب خوښ یم
تر دا بوچې گفتگوی چه زه یې اورم    په نغمه په تر انه د رباب خوښ یم
چه دیار دخط وخال ښې پکښې وی    زوړ ند سر په مطالعه د کتاب خوښ یم
د ریا تر نا قبو له عبادته    دساقي په میو مست او خراب خوښ یم
چه نه علم نه تسبیح نه تلاوت وی    له دې هسې بیداری نه په خواب خوښ یم
دطوبی دونی سوری مې خوښ نه دی    ستا دمخ په لمبو سوی کباب خوښ یم
خاموشي که هر څو لو یه مرتبه ده    زه دیار سره په سوال وخوب خوښ یم
دیار دهري غمخوری یم عاجز کړی    رحمان ځکه په خوردن دشراب خوښ یم
«عبدالرحمان مهمند»

خوك چه بد راسره کا ورسره ښه یم    هم په دا ښو دبد انو تو ز لیمه یم
له هغو مې څه اندوه چه په خوی اوردی    په خپل خوی کښې سوړ اونرم تراوبه یم
چه وماته وزما عیب پښکښ را وړی    ددی هسی یار له خدا یه په غو ښته یم
نور زما دی ، نار زما دنو رو څه دی    دیتنګو غوندې مخ خیر دځان په سوه یم
په ایرو یې مخ سپیره شي چه نفاق کا    آینې غو ندې مخ سپینه تور په زړه یم
چېرې نه وی چه به بل مخ وته گوری    په هجران کښې خوښ دستر گو په واته یم
له نور چا کله گله عبد القادر کړم    زه خوار کړی خپلو ستر گو یم خپل زده یم
«عبدالقادر ختك»

مخ دې لکه نمر دې ورته ځير کتلی نه شم    ځکه یې دمدحې ترعهدې وتلی نه شم
زده یې راغلبیل کړ دهجران په ناو کیو    راز پکښې دیار د محبت ساتلی نه شم
اوس مې په معنو کښې ښه مین دستر گو کسی    کسی به د خلقو په ویل اېستلی نه شم

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه يې د زنخ په څاه کښېښند لکه يوسف کړم
بند يې د حواس په پنجره زه عبدالقادر کړم

د خپل يار له مينې هسې ديوانه يم
که يې آهه يې ناڅې بې زغه سوزم
دخال خيال يې ماضعيف لره کافي دی
چه يې خيال ساتم د سرولبو په زړه کښې

په جنت نه يم خوښ هرگز په درد يار مې قسم
زړه مې له نا وعده ډ د وصل هرگز و نه ليده
پر وايه گل ويه خار نه کړم د جنون له فيضه
که مې سرولاړ شي ستا په مينه لاخوشحاله يم زه
تور بخت مې ونه ليده هيڅ ستا د کنا کل شب قدر
ستا د گلگون رخساره شرقه زه حنان دا وښو

زه چه مين د يار پر مخ يم نوبهار څه کوم
چه وعده و کړي دهغې ترميان کړي تېر گلونه
رضا د ځان مې په رضا دخپل اشنا ور کړي
چه مې زړه وړی په منگوله هغه يار دی زما
که د وصال په هوا را شي يکشتنها دلبره

سپين رخسار دي وای سپين صبا شو قم
د صبا او د بيگا تر منځ حيران يم
سېر ينديځوندي قي کړی کوامي ناست يم
گنجينه شوم ستا د مينې له دو لته
چه ميرا در سره نه وی قلندر ره !
قلندر په کومه بوزه لاړشي صوات له
د ميرا صاحب له جوره قلندر ره !

مغنی گوتې په ځير ز دی په بم هم
ستا دعشق دغشی هسې ځای پرهار دی
ستا د زلفو مار چېچلی نه ر غيږی
تاچه مخ ورته ښکاره کړو ليونی شو
هغه راز د محبت چه پټ له تا دی
دخوښئ پياله په لاس کښېږ نن زما ده

بی يی د زلفيو درسی ختای نسه شم
زړه مې پرواز غواړی والې الو تلې نه شم
«عبدالقادر ختك»

چه خبر نه په کعبه په بتخانه يم
پر څراغ دمخ يې هغه پروا نه يم
دمېنړی په دود قانع په ابز دانه يم
دا په دا مدام د لعلو خزانه يم
« مرزا حنان »

خوښ په لذت يم دخواری په اعتبار مې قسم
په نامينډ گئ دتورې شپې دانتظار مې قسم
په سينه صافه آئينه د نو بهار مې قسم
په تېره تيغ داستاد جور جوهردار مې قسم
په تورو مينکو ستا دزلفو په هر تار مې قسم
گلان کړم هره گړی په لاله زار مې قسم
« مرزا حنان »

تماشه بې دياره مخه د گلزار څه کوم
بې له وصاله تش دخولې خالي اقرار څه کوم
دا که مې تول د يار په لاس دی خپل اختيار څه کوم
نورحسن داره بی له ده دقندهار څه کوم
نور منتونه زه جمعه به د ربار څه کوم
« جمعه بارگزی »

تور کنا کل دي وای تورشپه دتم
نه پوهېږم چه عمل و کړم په کم
دهجران لاس مې و کاږی زېروبم
اژ دهار را بادې گرزی دمبدم
ته چه صوات لره ورځې عذردی کم
چه ميرايی همراه نه وی هوس کم
دا يو ، لاړو ، السلام عليکم
« قلندر »

هم ساقي شته هم بهار و صنم هم
چه ريښه پرې ايښودای نشی مرهم هم
په ستا نوبه زيار تو نو په دم هم
پاس د غرو نو په سر گرزی په سم هم
زړه خبر ور ځنې نشو قلم هم
درد زحمت را څخه و تښتېده غم هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لذت دې د سروشرنګو کوثر هیڅ کړ
د یوه لاس نقاره دا سې آواز کا
که ناستې دیار کوې په خاورو مومې

د شبنم دا نه که تخم شي د ګلو
چه یې نشه لکه ګل ښه رخسارونه
حال د سوي طالع څه بیان کړم چا ته
معطل په عارضه د شام غریب دی
داسمان په شان یې تیز دقتنو تیغ کړ

پسرلی مې دخزان په تاتار تیر شو
اوس که ځان وهم که خاورې په سر اونم
لا مې غټ ور ته په ځیر کتلی نه وو
لکه تیر یری پیکر هم یې رو وو
وه ورخ په دا غنز و شي عاینغا نه

بې له یاره رابکاره ژوندون زبون شو
چه دعشق په مکتب ما دغه داستان اوست
دقلم په دود به چا که سینه ټق کړم
دحسرت ګوتې په غاښ کړي طبیبانو

سور پېزوان د په سروشو لهوهسې زیب کا
دسرو ټیک دشهزاده په جبین پروت دی
دوا ده لیچې دې وښکلې مصری نورې
ستا له غمه په ځان زوه در حمان سوزي

پارسائي یې د پارسا له لاسه یووړه
چه مې کړې وه توبه له مې خوارې
معجزه چه د احیاده په دوه لب یې
دلبرانو چه دعوی د دلبری کړه
را ته پاتې دا یوه مسلماني وه
ماوې زه به دعشق راز لرم په زړه کښې
چه د زړه صبر دیار له سخه غوا ړم
که د نورو هوښیارې په عشق کښې پس وړې

د حیات او به لا هم د زمزم هم
دا افسر کلا به ستا نه دی دم هم
باغ بهار د سکندر دی ارم هم
« سکندر خان خټک »

زړه به سوړ په دیدن نشي د بلبلو
څوك به څه کاتورې زلفې د سنبلو
لکه نمر زما جبین دی د داغلو
که مې زړه په حلقه بندشو د کاکلو
صبح و شام ګرزي ښکاره په سرو منګلو
« کاظم خان شیدا »

ما لا ګل بوی کړی نه ؤ بهار تیر شو
په هیڅ رنګ په پیر ته نه راز ی وار تیر شو
لکه برق رخشنده په تلوار تیر شو
هم هغه رنګه تیز رویږی وار تیر شو
چه فلانی هم لکه ګرد و غبار تیر شو
« علیخان خټك »

اشتیاق مې د زړه مرګ و ته افزون شو
هك حیران زا ته فرهاد دویم مجنون شو
دمرجان په طور ورینې مې لړ ون شو
له قانون اوله شفی رنځ بیرون شو
« صمد »

لکه جیم په قلم ښکلی کاتبانو
شینکی خال دې محاصل په بند یوا نو
دو یوه بڼرم سربه پر ښکړي دخوارانو
لکه شمعه په زیارت د شهیدانو
« عبدالرحمان مهمند »

دانائي ئې د دانا له لاسه یووړه
په چشمانو یې زما له لاسه یووړه
لاس په لاس د مسیحا له لاسه یووړه
دا دعوی یې د هرچا له لاسه یووړه
دا مې هم هغه ترسا له لاسه یووړه
دا خبره مې ژړا له لاسه یووړه
محبت مې دا دعا له لاسه یووړه
دخوشحال یې لا په خوا له لاسه یووړه
« خوشحال خټك »

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د زړه سختي مې سر تر پایه و لید نه
نوره دنیا نشته چه څه وه را ښځه خلقه
یار مې هغه وخت وي چه به شپه به سره ناست وو
گل چه شگفته شي عندلیب باندې ناري کا
تل گونه و هلې هر زمان ساده اهو نه
سرې لمبې به بلې د خوشحال خټک په زړه کړې

سنگ په سینه دوړ کړې ستا له هسې سخته دله
وار په وار مې واړه په دلبر و و ښندله
شمعې به ژړا کړه صراحي به خندېدله
نشته یوه ښکلې چه ږ ي و بو لم بندله
ما چه عاشقي کړه خود به ما به دا کېدله
سور خت يې اغوستی په دا لارې تېر بدله
«خوشحال خټک»

مست یم مې پرست یم رندي کړمه کړمه کړمه
نور شراب مې واړه تور عالم و ته بخښلي
موړ به څښني نه شم زه د مېو مستسقي یم
لار د محبت زه تل به روغ سلامت نه وم
څه وایې وماته حال د څه وُ په هجران کښې
خلق راته وایي رنگ دې بیا زیړ شو عاشق شوې
دور د عاشق دادې چه په عشق کښې ملامت وي

واوره محتسبه ! باده خورمه خورمه خورمه !
لام و بې مې مجادلې پسې مړمه مړمه مړمه !
تل که هسې د کې پیالې څښمه څښمه څښمه !
زه چه په دا هسې لارې تلمه تلمه تلمه !
نور خبر دار نه یم په زړه سومه سومه سومه !
هیڅ منکري نکړم خلقه شومه شومه شومه !
ځکه زه خوشحال ملامت وړمه وړمه وشړمه !
«خوشحال خټک»

توره چه تېره پسېږي خو گذاره اره کښه !
ولې راته وایي چه په ښکلو نظر مکړه
شیخ دې نو نسخ روزه کا زه به د کې پیالې اخلم
تا وې چه زما د خولې بوسه اخله دا روده
وینې مې د زړه خورې مگر نور څه لره نه دي
څه ژړا فریاد کړې د شپې د تورو زلفو
خو د به ستا د مخه د گناه غوندې څرگند شي
مې شته چنگ و نې شته د خپل یار سره خوشحاله؟

زلفې چه ول ول شي خو خپل یاره لره کښه !
سترگې چه پیدا دي خو دیدار لره کښه
هر سرې پیدا دی خپل خپل کار لره کښه !
غوا دم دا دارو د زړه پر هار لره کښه !
زړه زما پیدا دی تا خونخواره لره کښه !
نور تلې پیخوله دي ښامار لره کښه !
گل د لاله را وړه خپل رخسار لره کښه !
خپل باغ په لاس کښې ځه گلزار لره کښه !
«خوشحال خټک»

اکه مخ زما د یار دی نمر خو هسې وی کښه !
د عالم د پرې خبرې اور به اوز تورې لښکر یې
بې د عشق له شور و شره چه هر گز زما له سره
چه یې ریم عمل لا کا چه بې ورک کړې ځان پېړ کا
تاوې درومه او م مې زبر کړه بل سبق له زړه په لږ کړه
وهغه تعمې سر کوز دی چه معلوم ورته رموز دي
چه آزاد مربي ور درومې خپل مراد ورځني مومې
په یوه زمان ته یار د ورشې راشي خو گداره

اکه زه په عشق کښې زبریم زبر خو هسې وي کښه!
زړه مې نه خوځي له ځایه غر خو هسې وي کښه!
ته ځې نور څه هر څه درومې سر خو هسې وي کښه!
ورځ د شپه دا هسې کړ کړه کر خو هسې وي کښه !
تل مې ته یې په خاطر کښې زبر خو هسې وي کښه!
په خبره نه پوهېږي خر خو هسې وي کښه !
په هیڅ ځای دې تړلی ور خو هسې وی کښه !
د خوشحال خاطر تېز بردي پر خو هسې وي کښه!
«خوشحال خټک»

د وفا خبر پیدا ران دی بل خوا دروغ شی
دا متاع د زمانې په دکان نشته

مګر ځان وسپاری خدای ته په امان شی
ګنه بل خوا ته د هیڅ امان نشته

هغه یار به زه و ګورمی خواته غوا ډم
چه یی هیڅ پی منزل او مکان نشته

دلبران که هر څو ډیر دی په جهان کښې
زما یار غوندې د نبر په جهان نشته

چه هم قد لری هم زلفې هم سرې شونډې
دغه هسې رنګ آفتاب په آسمان نشته

عشق عاشق لره یو هسې ګلستان دی
چه وباغ و ته یې لار د خزان نشته

که مجنون غوندې په عشق کښې څوك صادق شی
د لیلی په دروازه کښې دربان نشته

دا نایان به د رحمان په قال پوهیږی
دا ته کار د هر نا اهل و نادان نشته

«عبدالرحمان مهمند»

ستا به مخ کښې چه حساب د جمال نشته
ځکه ما څخه د صبر مجال نشته

ته د سرو د مال وېره په ما مکړه
وېره ما څخه د سر او د مال نشته

روښنائی می د چشمانو ستا دیدن دی
په دا کور کښې بل چراغ او مشال نشته

په جو یبار زما دستر ګو سروته یی
په دا نهر باندی بل څه نهال نشته

مخ دې بی له خط و خاله هسې زیب کا
چه یې هیڅ حاجت په خط و په خال نشته

ستا په یاد و کښې رحمان هسې مشغول دی
چه په زړه کښې یې نور هیڅ غم و خیال نشته

«عبدالرحمان مهمند»

ګنج و عقل زار شه د عاشق د خاځکی او ښې
نه خروار د عقل سه د عشق یوه دانه

تیغ دیار له لاسه به مری د عاشقانو
هسې لذت کا لکه د میو پیمانه

خدای لره به ورسم په سودا دیار له مخه
بل مقصود می نشته په کعبه په بتخانه

څه که زاهد زهد کا دی و جنت دپاره
سر بند لی نه شی په ور بل د جانانه

ګوره د منصور هسې به دار نه شې رحمانه
مکره دا د عشق خبرې مې سته رندانه

«عبدالرحمن مهمند»

په ګلونو اواز ورو کوه بلبله!
پرېښه نهېږی ستا د شوره له غلغله

عقل و هوش عزیز تر هر څه بندل نه شی
ته یو څه رنګه ډیر ګران یی د مل جله!

خدای دې وه کاچیرې چوخ په دې په بېهوشی
قدم ورو ږده دراپیلو په ګل ګله!

ومطرب ته مینا وایی وایه وایه!
دا معنائی پیدا کیږی له قلقله!

صدقه یې هم تر پسل عبدالقادر شه
څه قدرت لری چه وایی اهدل دله!

«عبدالقادر ختك»

وینځه که اصیله وی که توره وی که سپینه
کښلې شی له حورو چه پرې ور شی د زړه مینه

شهد که څه نبات دی که شته شیرینی نورې
مینه که نې ګورې چه تر هر څه ده شیرینه

خیال یی د زلفینو لکه مار و ربا ندی پروت دی
نه پریږدی و زړه ته بله مینه چه ور ځینه

سل زخمه که و خوری تری به یو څاڅکی پرې نوځی
هسې رنګه وچه د صورت کا مینه وینه

خرب به یی بدل په بیداری خوښی پرې و پرشی
هر چه یی په زړه کښې د دلبرو مینه وینه

یار په هوا دندی که د زړه مینه پیدا کړی!
مینه هسې خېز دی چه نزدې لری کوینه

څه عبدالقادره! په خوله مینه مینه وایې
خو دې لاو سجاره نده مینه نده مینه

«عبدالقادر ختك»

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه له خپله اشنا نه لری گډه
له نور چا به یه نور څه لری گډه

انګوری ترخه شراب ور اره بویه
میخواران له ګبینه لری گډه

چه بی تا یي غروم د بل و مخ ته
په دا خوی له ما نیمه لری گډه

هیڅ ایستادي ښکښي ونکړتري برېوت
له ناو که یی مي زړه لری گډه

چه جارو مي ستا د در د خاوروکړه
ډیر زما له ما بیا نه لری گډه

بد و بدو ته ښکار ېږی ښه و ښه ته
ښه له بدو بد له ښه لری گډه

ښه که سرۇ تری قربان عبدالقادر کړ
بیا تري ولي یار له ده لری گډه

«عبدالقادر ختک»

ننداره لره راځی چه پسی ځو نه
په اختر به ځلمی جونه کا سیلونه

ته به وایی مخ یي ګل د پیغمبر شی
چه یي د مه پسه مخ ووهی خالونه

چه په سیل د بهار د ګلو ګرځی
ځلمی ګل به پګړی زدی په اوربل جونه

ځینی دواړه زلفي ډکی کا له ګلو
خوك په غاړه د ګلونو کا هارونه

زیړ او سره نمری اغوستی ګلرخانو
وا یی سبر و نې و نیول ګلونه

چه ګلو نه تولوی سندري وایی
شرمنده کا د بلبلو اوازونه

درست صحرا په خوشبوئی سره خوشبوی کا
په هغه ځمکه چه کیږدی قدمونه

چه له سیله را روانه شي و کورته
ګل لمن بلبل یي نیسی آستینونه

چه له هسي ننداره نه ځان وباسي
شیخه ورك دي شه یو خته خلوتونه

ه لیدل د ښایسته ؤ ښکښي نه وی
چا به څه کړه اته واړه جنتونه

که اوازدی که لیده د روح خوراك دی
نفسانی دي باندي نکا غرضونه

تېر شو وار عبدالقادر ره ! را به نشی
که زړا کړي که فریاد کړی که آهونه

«عبدالقادر ختك»

څه افسون دي په ما و کړ پریزاده
چه یودم نه یم خالی د تا له یاده

زړه مي ډك لکه سیند دی شعله بویه
که د زړه به فراد و کړم څو فریاده

بهانه ددي غرض مګر شانه کړي
ته یی لاس وروړي و زلفوته شمشاده

چه اواز دي د تیشي په کهسار نشته
د شیرینې په طلب لاړي فرهاده

په اسباب کښي مي زړه بند په اسباب ندی
د چمن په قید سر و ده آزاده

مهیا ورته قفس د ښاخ د ګلو کړه
که څه رحم په بلبل کوي صیاده

چه په هر منزل کښي سرخوری لکه شمع
د هغه لاري څه نفع ده له زاده

په سختی کله امساك د دولت کیږی
جوهر نه ځی په هیڅ وخت له فولاده

همیشه یي پیچ و تاب لکه جوهر وی
چه شیدا راغی تر دا حیرت آباده

« کاظم خان شیدا»

زه چه مست په لب دیار یم هیڅ حاجت دشراب نشته
اوردعشق مي زړه کباب کړو هیڅ حاجت د کباب نشته

تمام تن مي وچ لرګی شو، رګ مي تار ور باندي پرېوت
زیروبم اواز تري خیژی هیڅ حاجت درباب نشته

پر پرهار نمکپاشی کړی چه پرسش کړی له ما نه
حال مي خود ورته معلوم دی، هیڅ حاجت د جواب نشته

لکه مرغ نیم بسمل یم، تپش کړم په ځمکه باندي
ځان مي ور کړ ستا په عشق کښي هیڅ حاجت د قصاب نشته

«خوشحال شهید»

(c) ketabton.com: The Digital Library



سحر دا آوازمی غوز پوست له بلبله
ستا خندا په ژړا کښې پیتلم ګله !

ترمستی یې لا لذت د خمار ډېر دی — ستا د ستر ګو مستی بده ده ترمله
ښا پسته د زمانې د نیا پرست وی — په کوڅه کښې یې پل مه کښېږده بې پله
په چغلی مې ستا ؛ په یار مینه زیاتېږی — څو دې زړه هومره چغلی کوه چغله !
ساقی مې چه را کوی یې په قهقه خانده — زده ګړه دا د صراحی له قلقله
د لیدونکو په نظر کښې تفاوت وی — او که نه وی خبر جدا نه وی له ګله
په پرېشانو اندېښنو خاطر پرېشان شی — جمعیت مومی خاطر له توکله !
چه ستا مخ ورته حاضر وی ګل به ګوری — دغه ستر ګی دې دخدای نګابی ګله
د مجلس روښنائی ته یې ته دی استی — کوم نقصان دی که صبا کړه ډېوه ګله
دا دنیا په مثال پل د آخرت دی
تېرشه زر عبدالقادره له دی پله

«عبدالقادر ختك»

سرو که لیده شی د چمن تازه تازه — ستا حسن تري وینم ماه من تازه تازه
زلفې دی سنبل دی یا ښامار دی په چمن‌نو — یا دواړه نافې دی دختن تازه تازه
ګوره ستا له مینې زړه یې ډك دی وینې وینې — رحم کړه شیرینې په کوهکن تازه تازه
ساز دی ښه مجلس دی ښه یاران دی سره جمع — وایه ای فاضله ! هر سخن تازه تازه

«فاضل»

❀ ❀ ❀

زه اول هم دېوانه وم ، دېوانه یم لا تراوسه — له دلداره همخانه وم ، همخانه یم لا تراوسه
له طفلی نه عاشق وشوم ، غم طلب او بلا کش وم — ددلبر د مخ په شمع ، پروانه یم لا تراوسه
زه هلك هم افسانه وم ، له عالمه بېګانه وم — تر خلقو ښېتو کالو تېرشوم بېګانه یم لا تراوسه
چه عاشق په جانانه شوم ، له اغیارو کرانه شوم — تور وېښته مې دسر سپین شو ، کرانه یم لا تراوسه
چه داخل دیار په صف شوم ، د تهمت د تیر هدف شوم — عام وخاص مې وایه ولې نښانه یم لا تراوسه
تل راضی یې په قضا وم ، هم صابر یې په بلا وم — عذر نلرم له حکمه ، بی بهانه یم لا تراوسه
دشیرین دلبر له لاسه ، ما شراب دعشق بی قیاسه — څوبې حده مې ډېر وڅښه ، فرزانه یم لا تراوسه
دا فقیر دولت یو مست یم ، د اشنا په مینه هست یم
په ازل مې شراب څښلی دېوانه یم لا تراوسه

«دولت لوانی»

❀ ❀ ❀

ناست یم ستا له لاسه زړه یاره سینه افګار ره — ته له ما نه څه غواړې فلکه ستمګاره
ته یو موش ګیرك بی لایق نه یې د ګلو نو — ولی بلبلان شړې کمبخته ! له ګلزاره !
یار دې له ما بېل کړ تا څو هیڅ ښادی و نکړه — وایه څه دې و ګټل رقیبه دل آزاره !
یو دې د هجران په تنا ره کښې لوغړن کړم — بل دې درقیب سینه رایخه کړه دلداره !

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر یو گل یی خار شی په لمن زما څو څېړی　　　سیر د گلو نو چه کوم یې له خپل یاره
نه چنه د وفا طمع کوي له سر و قده　　　سروبه هیڅ لید اې نه وی میوه داره
غوڅ وي قلندر په تیغ د هجر کړی نیا زه!　　　مه کوه میرا! نوره جفا درب دپاره!
« قلندر »

څوك چه ستا په مینه کښې وما ته کا پندونه　　　وانه بیفائدی زدی ابا سینه لره بندونه
زه مي که نادان په لاس کښېوماتلکه ښیښه شو　　　نه شي څوك ایښو دای وښیښوته پیوندونه
او ښې دبا نو په سر چه را شی نه در ېږی　　　ندی چا بند کړی په گیا سره سیندونه
نه شی څوك ساتلی سره بڅری په گریوان کښې　　　ومي سول پاه سره د صبر در مندونه
نه دی چا موندلی ښاپېری په دو شالو کښې　　　وا خله قلندره! په میرا پسې کندونه
« قلندر »

چه صبا یی په هر گل باندي طواف کا　　　زه هوس د هغه باغ لرم له شوقه
د پتنگ په دود د ځان په سوور ضایم　　　ځکه مینه پر څراغ لرم له شوقه
همیشه د گل په بوی زه شمس الدین ځم　　　په خپل یار پسی سراغ لرم له شوقه
میل نکا را ته باز د یار د سترگو　　　تل په لاس کښې پردی زاغ لرم له شوقه
«شمس الدین کاکړ»

څوښی له وصله نه شوم د هجران له غمه زه　　　نه کړم په گل مینه دخزان له غمه زه
خلق را ته وایی چه زحمت دي لاد وادی　　　لاښه چه یی خلاص شوم د درمان له غمه زه
سر دي په جهان کښې د همه واړو ښادیو　　　نه دي شم بېغمه د جانان له غمه زه
لوس بهاه دي ورو سته دخپل یار په غم اخته شم　　　ډېر په زړه زهیر شوم دجهان له غمه زه
غم دي له ازله په نصیب د عاشقانو　　　ځکه نه خلاصیږم یو زمان له غمه زه
ما عبدالقادر چه دا غزل د فراق ووي　　　رشك به کړم په اوښو دباران له غمه زه
« عبد القادر خټك »

یو غوا ډم له یاره ښه دیدن تازه تازه　　　بل در قیبانو ځانکندن تازه تازه
ځکه بلبلان چغار کوی په تازه گلو　　　نه به مدام گل وی نه چمن تازه تازه
یو زمان له مدحې د دلبرو مه در ېږه　　　تل دیارله وصفه کړه سخن تازه تازه
زړه چه در قیب زما په بد سره ښه کېږی　　　مکره په ازار زما د ښمن تازه تازه
آه کوی له د له په فریاد له زیر گلمه　　　وا وره له بلبله ښه گفتن تازه تازه
بل فکر مي نه کېږی بی ستا له گفتگویه　　　شیر شکري وایه له دهن تازه تازه
مه کړه په جفا سره ازار د بلبلانو　　　شه خوبه وفا کړه انجمن تازه تازه
سترگی مي خیره شوی چه ولاډ یې زه دي گورم　　　و کړه په دا لوری آمدن تازه تازه
زړه د یونس چوی ستا د هجر له سختی　　　شه خوبه خیل مهر کړه غمجن تازه تازه
« یونس »

ښه مې و لیدل په سترګو واده ښکلې — چه تر واده لا تېرى كا جمال ستا دى
د دنیا په مخ به ډېر وي ښه مخونه — چه تر هر څه ډېر لذت كا وصال ستا دى
د واده زلفې د حلقه كړې اكه لو مې — چه دانه دى په دالومه كښې خال ستا دى
دواړه ښې ګلګونې سرې په د ماغ درو مې — ګوره بیا څو مره وګړى پا یمال ستا دى
ته كشتن د غمزى كړه مه و د ر ښږه — مقتولا نو قبول كړى وبال ستا دى
كه همه د خلقو ښكلې سره تول شي — خسته زړه مې په تولې كښې لېوال ستا دى
چه دې څوك په كوڅه تېر شي نور مین شي — چه تمام له عشقه روغ دى دېوال ستا دى
كه مثال د صورت غواړې ګوره میا شت ته — چه پوره د دوه هفتو شي مثال ستا دى
چه صبا بیګا یې لو ند ارم په اوښو — یادګارى را څخه پاتې رو مال ستا دى
څو ریبار در سره نه بیا یې دو ړانده — چه په چم به یې تېر ښږى محال ستا دى
كه په قهر یې شړې په لطف یې بولې — چه یې نه پرېږدې په هېڅ كښې خوشحال ستا دى

« خوشحال ختك »

مخ د یار شمس و قمر دري واړه یو دى — قدې سرو صنوبر دري واړه یو دى
حاجت نه لرم په شهد و په شكرو — لب د یار شهد و شكر دري واړه یو دى
كه بې یاره په بستر د پاسه پروت یم — نارو خارو دا بستر دري واړه یو دى
چه ودراوو دېوار ته یې نظر كړم — باغ بوستان اودغه در دري واړه یو دى
چه غبار یې د كوڅې را ښندې را شي — دا غبار مشك و عنبر دري واړه یو دى
خداى دې یار له هجره هیڅوك خبر مكړه — تاخت وقتل و دا خبر دري واړه یو دى
هغه دم چه سړى د روم ى له جهانه — تورې خاورې سیم وزر دري واړه یو دى
قلندر كه په رښتیا قلندرى كا — خان سلطان او قلندر دري واړه یو دى
په د كان د نا بینا ؤ جوهریانو — خرمهرې لعل و ګوهر دري واړه یو دى
دا پیران دې عار زما له عشقه نكا — پاك عشق پیرو پدر دري واړه یو دى
په سبب د ظالمانو حاكمانو — ګور او كور وپښور دري واړه یو دى
غزاوشوه كه خان ستا ئى ور حمان ته — بې هنرو ګاو خر دري واړه یو دى

« عبدالرحمن مهمند »

تور ګیسو د به چندڼ باندې ښامار دى — تورې زلفې دى سنبل دنو بهار دى
تورې سترګې دې هوسئى دى خطا شوى — چه وخرو ته پرتې په سنبل زار دى
تورې وریځې دې لیندې با نه دې غشى — عاشقان یې زخمى شوى په ګذار دى
مصفا تندى دې ښه دى تربلوره — بیدلان یې په سرونو خریدار دى
دغه خال چه دې دو رو څو په پیوند دى — دخطا دملك اصلي نافې ترې جار دى
سپینه پوزه دې غوټې د زنبق ده — چه چاپېر ترې نور ګلونه د ګلزار دى
ښا ګوښ د نسترن دى غوړیدلى — د چنبې ترګلو به د واړه رخسار دى
سپینه خوله كه دې غنچې سره نسبت كړم — د غنچې غوټې كله شكر بار دى
دواړه سرې شونډې دې ښې دى د سرو لعلو — سپین غاښو نه بې بها در شهوار دى

ښایسته زنه د سیب د سمرقند دی    چه خوږه یې تر ښاتو نه بسیار دی
صراحی د سپینو زرو سپینه غاړه    سیم اسا اوږې دې هم په دغه شمار دی
واړه تن دې د حلب تر ښیښې صاف دی    چه را زونه دد رون ترې نمودار دی
سپینې لېچې دې ښکلې مصري تورې    چه خو نونه یې په غاړه سل هزار دی
د یاقوتو نیګینې دې سره نوکونه    ځای په ځای دې په اوږو باندې قرار دی
چه مې ستا د تیو ښه ننداره وکړه    هغه کلک به لذت ډک خوازه انار دی
د نامه غوټۍ دې ګل ده د ګلابو    کېنږ اوښی د ګلو پاڼې پرې انبار دی
د نامه نښکته دم و هلی نه شم    هم هغو زده چه خبر په دا اسرار دی
د پنډو یو تر صفت دې نه ز سپړم    ولې سپینې په سپینو الی تر چمتار دی
سپینې پښې دې د زنبق د ګلو پاڼې    دپښو ګوتې دې ګلو نه د انار دی
تمام قد دې په مثال د ښبر ونه    در پنده یې سم په مثل د چنار دی
سر تر پا په ننداره بې ځان دې جوړ کړ    ترتا جار واړه را نمی د هند و بار دی
ستا مثال په هند و بار کښې را ښکاره شو    د لو بیا دا نه یوه مټر خروار دی
نه خو ډېر مهر کوې عمر دې ډېر ښه    دخوشحال خټک دې تش ایدل په کار دی

« خوشحال خټک »

عاشقي را باندې سورې کړې مرۍ    هیڅ مې نه د رومۍ بې باره تر مرۍ
څه اثر به یې د عقل وی په سر کښې    د هغو په سر چه کښېنې ښاپېرۍ
د مژګانو په پنجه مې زړه وکاږی    خدای د ترکو مستې سترګې کړې مرزۍ
علوفه به یې بې مغه نور څه نه وی    هر چه کاندې دخو بانو چاکرۍ
لږ د صبر سبق ما لره هم را کړی    که په عشق کښې څوک دغه طاقت لرۍ
خدایه څه دې د کوټوال په لاس کښې ور کړم    شپه او ورځ مې غنږ وی لکه تورۍ
په صورت مې نرۍ تبه شوه ولاړه    تاچه دواړه سترګې تورې کړې نرۍ
د وصال د لالان کوم طرف ته غواړم    چه بنده ی شوم د هجران په کچرۍ
نور د شمعې په فانوس کله پټېږی    تاچه واغوستې دخیال جامې نرۍ
زه رحمان په زړه نرۍ کړم هغه جونو    چه یې ملاوې د وېښته په دود نرۍ

« عبد الرحمان مهمند »

دا چه مست په میو راغی یار د چا دی    بیابه تاخت کا په کوم غولی وار دچا دی
چه زړه سوی یې د حرم په صید هم نشی    دا بېدرده بې صبر فې ګزار دچا دی
ما خو نه دی څوک پیو جهی ازار کړی    دا چه ما ازار وی ازار د چا دی
چه یې د رست جهان د مخ په رنا ز یست کا    دا آفتاب غوندې روښان رخسار دچا دی
چه بلبل یې ر سپېدی تر ګلو نه شی    دا د ننه په حرم ګلزار د چا دی
چه هیڅ ترس په زړه کښې نه لری رحمانه    دا ناترس او بې پروا ګزار دچا دی

« عبدالرحمان مهمند »

سپین رخسار او مشکین خال یې سرخم دی    یا محمود او ایاز ناست سره همدم دی
که دې مخ په زلفو پټ دی باک یې نشته    د حیات اوبه هم پټې په تور تم دی
ستا له زلفو له رخساره له سرو شوندو    پیدا شوی شام ، شفق او صبحدم دی
په دهن کښې دې غاښونه تجلی کا    یا غوټۍ چه په غنچه کښې د شبنم دی

نه چه اوس زما زړه غوښ ستا په غمزو دی — چاره، غوښی له قدیم سره په غم دی
بې ژړا چا ته نه ګوري سیاچشمه — د نرګسو غوړ یده د جوی په نم دی
راحت ندی چا موندلی بې زحمته — ستا جفا او وفا دواړه منقسم دی
ستا د حسن د تعریف له برکته — د رحمان د شعر کوکی په عالم دی

«عبدالرحمان مهمند»

زه که پرنګ بدیم ښکلیه! ګرولی له ما کړې — چارې د قسمت دي، زه یې زشت ته یې زیبا کړې
یو ځله بیا راشه په ګلونو ګذر وکړه! — ای د صبا باده! چه بیا نغښتې غنچې واکړې
ګل دې په هجران کښې سل ټوټې خپله سینه کړه — سرې دې له فراقه لاله سترګې ژړا کړې
ولی له شیدا بلبلی مخ جار باسی ګله! — ته په دا خوبی هم دده ناز و رسوا کړې
لاخوشبویی ور کا چه یې واچوی وړورته — زه به تنا زیاته کړم که ته زیاته جفا کړې
ته د حسن نمر یې دانور ښکلی لکه ستوري — ګل به کالعدم شی که ښکاره خپله لقا کړې

«عبدالقادر خټک»

خوښ یم تر ابده د ساقی له میخانې — خورم شراب د مینې ډکې ډکې پیمانې
قدر د بلبل چه پاتی نه شو په ګلزار کښې — جوړې شوې په باغ کښې د زاغانو اشیانې
سپینو سترګو د راوښو واړل په خاورو — نه یې وساتلې په پښه کښې د ردانې
هرساعت چه دمه کا سنګار دیار د زلفو — وخېژي تر زړه زما غاښونه د شانې
هیڅ حاجت مې نشی په شېخانو ملایانو — ورکې شه بیخایه د پښتون د پرې ستانې
تل مې لیونی عوندی ځوك نه پرېږدي وکورته — ځای رالره نشته یې د یار له استانې
هرچه په ازل وی هغه دی زما په برخه — څه لره نور زه کړم شکایت د زمانې
مرګ د شمس الدین چه ددلبرد یاده نه ځی — شپه ورځ بې ترلی دی په ګوتو نښانې

«شمس الدین کاکړ»

ما په خوب کښې ځان ملنګ لیدلی دی — د زړه رخت مې په عشق رنګ لیدلی دی
اوس له ویرې په کوڅه ورتلی نه شم — ما د مستو سترګو جنګ لیدلی دی
غم و ښکلې توری راغی که مې پرېږدی — ما خلاصی د ستا تر څنګ لیدلی دی
ما بیګا شپه د یار مخ لید لکه شمعه — دا خیل ځان مې پرې پتنګ لیدلی دی
دا مطیع په سحر څکه څکه ژاړي — چه خپل حال یې ډېر بد رنګ لیدلی دی

«مطیع الله پیرخیل»

مینه د خوبانو نام و ننګ لري کوی — تش دیدن د ښکلیو د زړه زنګ لري کوی
تل آرزو لرم چه به پټ حال و یارته وایم — ګله سپی غماز له یاره څنګ لري کوی
خوښ د معشوقو هغه عاشق وی چه بې ننګ دی — ځکه هرملنګ له ځانه ننګ لري کوی
خدای په دواړو کونو هغه روند په تورلیمه کړه — څوك چه ستا له شمعې ما پتنګ لري کوی
یارمې په شړل ندی راضی زه یې پرې پوهېږم — سپی غماز له دره ما په جنګ لري کوی
بس کړه ای ناصحه! تور ځیګر را باندې مه خوره — ګله مست بنګی له ځانه بنګ لري کوی
بل شغل مې نشته په زړه بې دیار له مخه — عشق پوهسې رنګ دی چه بل رنګ لري کوی

«مطیع الله پیرخیل»

زړه مې د دلبرو تورو زلفو ته هوس کا  گوره دا یې ځان خوني تورمار لره وردرومي
مرم د خدای د پاره په شتاب شتاب رادرومه  چېرې هم طبیب ورو ورو بیمار لره وردرومي
ځم د یار په لوري په هواهوس خوښي کړم  ذوق کاندې بلبلې چه گلزار لره وردرومي
هر څوک چه طلب کا پته نده دا خبره  هر کله مطلوب و طلبگار لره وردرومي
«خوشحال ختک»

خوږې شونډې دې شکرې ندی څه دی  ښکلي غاښ دې مرغلرې ندی څه دی
چه تسخیر په تورو سترگو کا د زړونو  سیه چشمې سحر گرې ندی څه دی
چه د زلفو په زنځیر یې زمری بند کړل  هوسۍ سترگې زورورې ندی څه دی
چه د باغ سرو یې پسته تر قامت ده  ښېښتنې په قامت سترې ندی څه دی
وایې نورې مینې لرې کړه د زړه نه  ستا د مخ په دور لرې ندی څه دی
«خوشحال ختک»

یار په ستمونو د خپل یار نه زهیر یږي  سترگې د ښو په درانه بارانه زهیر ږي
څو کبر لو یې ده و خوبانو خدای ور کړې  هیچېرې بې زړه په عاشق خوارنه زهیر ږي
څه شو که ترې سلسله ځار ږي په ساعت کښې  گل د بلبلانو په چغارنه زهیر ږي
ښه رنگ یې بدرنگ کا چه پرې والوزي پوخته  زړه د خزان گوره په بهار نه زهیر ږي
گرانې دی هر گوره نوې چارې نو آموزته  هرچه مدام مې خوري په خمارنه زهیر ږي
زردي چه خبر به شي د سترو له احواله  هرچه د ویښتلو په آزار نه زهیر ږي
سرغواړه له خدایه خولۍ ډېرې دی فاضله  هرچه غم د سر کا په دستارنه زهیر ږي
«فاضل»

چه خدای په بت مین کړم که داعیب دی هم وی دی  سجود که روشن کړم که داعیب دی هم وی دی
عالم وایي عاشق شوې زه سو گند خورمه چه کله  درست خلق دروغجن کړم که داعیب دی هم وی دی
کافر یم که یې و باسم هغه ساعت له زړې  ستا نوم چه ځنکندن کړم که داعیب دی هم وی دی
که ستا کوڅه جنت سره څوک سمه راته کښېږدي  کوڅه به دې وطن کړم که داعیب دی هم وی دی
چه ځوان وم دایم زوړ شوم په رښتیا رښتیا خبرو  عالم د ځان دښمن کړم که داعیب دی هم وی دی
شیخان او زاهدان واړه په پسي شا ویل کا  په مخ یې مبرهن کړم که داعیب دی هم وی دی
که نور په صهبا مست دی زه خوشحال په خرابات کښې  مستي یې په دیدن کړم که داعیب دی هم وی دی
«خوشحال ختک»

په ما غم دی واړه ستا د مینې مینې  زړه مې درست پاره پاره شو وینې وینې
اندرون گوگل مې درست دو پنو ډك شو  ظاهرې جامې اغوستې سپینې سپینې
بیا دې نوی پرهار و نه په مارو غ کړه  لرغوني مې لا روغ ندی ځینې ځینې
په زړوندون یې څه احسان راسره نکړه  څه پکار دی که یې کړی په مړینې مړینې
زه دې درست له باغه واپستم دلبره  تورزاغان پکښې مېوې خوري خوړینې خوړینې
تورو زلفو دې خوشبو په کړه ملکو نه  د واړه گلو ښتی دی دمبکو چینې چینې
خماری سترگې دې د واړه شنه زمری دی  د خواجه محمد و مرگئ ته وړینې وړینې
«خواجه محمد بنگښ»

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه به څوك بې نا چارى وطن پرېږدي
نه به روح هرګز په خوښه بدن پرېږدي
کـه ستا مخ يو زلى و وينې پـه ستر ګو
بت پرست به نـور سجود دو شن پرېږدي
د يوسف غونـډې به خوځنى پير ون کا
کـه د زنې چا تـه زلفې رسن پرېږدي
که دې وليدى سرې شونډى جو هر يانو
پـه ياقوت پسې بـه تلـه د يمـن پـر پرېږدي
کـه د لبـر په دا ښا يست لاړ شى چمن ته
د خو لئى دعوى به ګـل دچمن پرېږدي
« کامګار »

چه يوه ګـړۍ په جمع زړه ښه مخ وته وګورې !
که درسته دنيا ستاشى هم څه نده دا تر پورې
داخوى زماقديم دى څه ما اوس ندى راوړى
چه بى دزيبا مخه رانه خس دى چـار ې نورې
د خلقو تهمت پوسر دجهان غم نـه بـل سـر
هم ته به مې له هسې رنګه سختى بلا ژغورې !
دا اور چه په ما بل دى دخپل يار له جدائى
نه ګرم نه ملامت يم که تل وينې ژاړم تورې
اشنا ته وايه نشى نا اشنـا به څه خبر پېږى
دا راز چه له مانه دى او ريدلى خپلى مورې
ناوك يې دمژګانو دابرو په کمال جوړ کړ
خداى زده چه به د چا تر زړه ګى وزى پورى وورې
ښه باز دې دخوشحال خټك خاطر په لا سو کبوت
په قـدرى خبر شه چېرې نه په لـښرى پـلـو رې !
« خوشحال خټك »

شنه خالونه چه د پاسه پر جبين زدې
دا زما پر زړه دا غونه آ تشين زدې
د عشق اور مې ويلوى د زړه ګى شمع
بېهوده مې پر موم نقش دنګين زدې
مادې خيال له فرش کړى تور لېمه دى
ته بى نيا زه قدم ولې پر زمين زدې
په شپه حال د مهجورانو په ياد راوړه
په راحت چه سر له نازه پر بالين زدې
« پير محمد کاکړ »

## ه: موضوع ګانې

(۱) ـ مخ:

باديى لاس په پلو کښېږدى سره رېږدى
ګل يې مخ وته نظر کا خوله پرېږدي
« خوشحال خټك »

دپرې ښکلې جوه ماليدلى دى په ستر ګو
ړوند شم که به تا غوندې په حسن بله وه
زور دغاښو مـکړه مخ يې صاف تر آئينې دى
زخم به پرې وشى په ورو ورويې ښکلوه
عمر به يې لنډ شى که ئې تار دزلفو کم شى
فهم کړه اى ډمى ! زمنځ ورو وروچلوه
« عبدالقادر خټك »

اى چه په مخ وډې خو ئې لـه ور ده
خـالى يـو دم نـه يـم د ستا لـه درده
ته بى آسيبـه بـهى ، سيب او سى
که تـر نـا رنج مـې ځهر ده زر ده
« عبدالقادر خټك »

که مخ دې نمر کړم د نمر کړه وړه نشته
که يې سنبل کړم سنبل مشکين ندى
«عبدالقادر خټك»

دپر هوس لرم دا ستا د مخ و ګـل تـه
زه بلبل پـرې الوته کړم که بد نه وړې
«شمس‌الدين کاکړ»

سپين رخسار دی ستا کعبه د عاشقانو      تور زلفې غلاف ورنه د اطلس
«میا نعیم متی زی»

دا په خوب کښې را ښکاره شو د دلبر مخ      که په ابر کښې ښکاره شو د قمر مخ
چه یې و لیدو دا ستا جوهر د غاښو      پټ له شرمه په خپل آب کښې کړ گوهر مخ
له حیا دی غټ و مخ ته کتی نشم      کله لید په خوږو سترگو شی د نمر مخ
« قلندر »

دا دې یار خو دی، خوله نیمولی      که لاله گل دی پر خپې و هلی
دا دې سرې شونډې که سپین غاښونه      که لعل و در دی سره پېیلی
«خوشحال ختک»

ډېر مې ستا و مخ ته و کا ته موړ نشوم      نور به څو پردې نا بوده دنیا ویاړم
«شمس الدین کاکړ»

لکه مخ زما دیار دی ای باغوانه !      په درست باغ کښې یو نسرین هسې لرې !
«خوشحال ختک»

مخ وته یې گوره چه په مخ لری خالونه      څه عجب زیبا دی لکه گل د پیغمبر
«خوشحال ختک»

## (۲) شونډې او زنه:

د خولې ویل دې واړه نبات دی      خوږه دې لا د کنځلو زبات دی
څوک یې چه ښکل کا سیخ د هغو دی      شونډې دې دواړه آب حیات دی
«خوشحال ختک»

بوی به ستا د محبت ځنې روان شی      که یاره مې د نافې په دود تاتار کړې
په نازکو شونډو بار د پانو مه زده      خدای چه شونډې سرې بې پانو درته در کړې
«عبدالقادر ختک»

غنچه خوله چه یې نقطه موهومه ده      څه عجب که په خندا کښې شی دره نیمه
«پیر محمد کاکړ»

په سرو شونډو کښې یې روز دی هم اوبه دی      دواړه زیست کا به یو ځای کښې بې جداله
«دالپوری حافظ»

که څوک و وینی د استاذ نخ پر آب      زړه یې و وزی د سینې لکه حباب
«عبدالله پوپلزی»

چه یې خیال د زنخدان وزړه ته تېر کړم      په کوهی کښې گذار کاندې اسکورلا
«میانعیم متی زی»

هغه شونډې چه ځائی د پانو سرې دی      هغه شونډې څه حاجت لری و پان ته
«خوشحال ختک»

چه په خیال د سرو لبو د شپې خملم      هر سحر غاښې ځما تر بستر و پسې
«عبدالله پوپلزی»

(c) ketabton.com: The Digital Library



### (۳)- بوسه:

چه بوسې د جفا جو یو د خولې اخلي
څوک مایوس څوک په امید دیار دوصل
زه خوشحال د آهو چشم مینې سر گرم

ګویا اخلي د یاغیانو قلنګو نه
څوک پراته غاړه غړئ په پالنګو نه
د غرخه غوندي په هسې ګړ ګو نه
«خوشحال خټک»

چه د یدن دمین و کړمه تازه شم
په ارمان د هغه وخت یم د ریغه د ریغه

لکه کښت چه په باران سره اوبه شي
که د زني سبب یې بیا زما په خوله شي
«خوشحال خټک»

څوک چه زور مه ښکاره کا وزیاتیږي

که پخپله بوسه را کا زور به نشي
«خوشحال خټک»

مګر تا سره سامان د سلطنت دی

چه په هود مې سپینه خوله غواړې خټکه
«خوشحال خټک»

څو مې یاد دهغې خولې دمچې خوند دی

نور مې کل له د له هېر دی تلذذ
«خوشحال خټک»

سر به در کړم مچه را کړه ښه سودا ده

که یې ته په بها پېرې زه یې پلورم
«خوشحال خټک»

په ر ښتیا ړ ماته و وایه طبیبه!
سپینه خوله که بې ریباره وزپیشکش کړم

چه د رنځ به یې صحت وی که به نه وی
په خوشحال به مې منت وی که به نه وی
«خوشحال خټک»

دادی هغه اوچه په هجران کښې پسې تمرې

اوس یې په وصال کښې دواړه اوریه ښکلوه
«خوشحال خټک»

دصبا باده! ګزر په چمن بیا کړه
زه خوشحال کمزوری نه یم چه به ډار کړم

په چمن کښې رنګا رنګ ګلونه واکړه
په شکار ناری وهم چه خوله یې را کړه
«خوشحال خټک»

زړه مې تخمخ کېږي دسپین مخ وښکلول ته
زه چه غني سوال د بوسې و کړم راته خاندي

لاس یې لر بر کېږي دزلفینو ونیول ته
یا به زړه راضي ده یا پروانه کاوین ته
«مطیع الله پیرخیل»

چه یې تل دمخ ثنا وایي خوشحال ه

په صله مې سپینه خوله درته بخښلې!
«خوشحال خټک»

د بوسې وعده دایم صبا برات کا

زړه به څو کاندي تازه په دا وینا کښې؟
«اشرف خان هجری»

بیا حانث په سپینه خوله شوم د خوبا نو

قسمو نه مې نا صح ګڼل عبث
«میا نعیم متي زی»

هغه چا چه ستا دلبو خوازه نوش مکړه

په خو زو یې د حلوا نشته غرض
« یونس »

که هر ار لحله شیخي کوي خو شحال له

که ښه ښکلي درنژدې شي نو یې ښکل کړه
«خوشحال خټک»

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ٤ ـ ستر گی :

مست د هغه مخ یم چه مخموری اری ستر گي
هسی پرې غو څېږم وایی توري لری ستر گي

یار مې په ښایست کښې بی نظیره بی ماندی
لا په درست صورت کښې د پر مشهوری لری ستر گي

ناست دی لکه څری رقیبان وخوار عاشق ته
لکه ستاله مخه هورې دورې لرې ستر گي

هرچېرته چه ته بی هغه اور ته می نظر دی
هرچرته چه زانی شاهین هورې لرې ستر گي

« خوشحال خټك »

ما یی خیال لره ابلق د ستر گو زین کړ
قدم نن دی په رکاب زما د ستر گو

« عبدالرحمن مهمند »

خار بندی می د ښو کړه ترې چاپېره
گوندي خیال د یار په ستر گو کښې حصار کرم

« عبدالقادر خټك »

لکه ما د عشق په تیر څان شهید کړ
چه مې نه رسی د صبر په کفن لاس

مرگ مې دژوند زما پوښته له مړاؤ ستر گو
په رسا گذار یو هیبزی د تور زن لاس

« عبدالحمید مهمند »

کنزی وروځی کوزبانه چه دې را یاد شی
کازه غشی مې تر زړه لوېږی آزاد

« پیر محمد کاکړ »

نیمکښو دی د غمز و تورې تېرې ستا
پرې به غوخ شی هرچه کاندي ننداري

« میا نعیم متی زی »

باز دیار دستر گو دمځ گانو په پنجو کښې
دی لکه تنزری په چنگ و ړی زما روح

« میا نعیم متی زی »

د اشنا دتورو ستر گو په تعریف کښې
نده کمه شاعری له اجتهاده

« میانعیم متی زی »

خو، دیار بیماري ستر گې خدای خونی کړي
گڼه خون کله کولی شی بیمار

« عبدالرحمان مهمند »

خپلو ستر گو فتوی درکړه چه مې وژنې
حیرانی ده پر دا لو ستو د مکتب ستا

وکوثر ته حاجت نه لری د خپلو
چه جام نوش کا څوك دمیو لبالب ستا

« مرزا حنان »

زړه مې رم خوری له سینی پر خبر نه یم
دا د ستر گو باز مې بیا راځی وښکار ته

« مرزا حنان »

یل یی په جهان کښې مو ندی نشی
عاشق تله د یار په لوری په لیمه کا

« عبدالقادر خټك »

بی د یار له مړاوو ستر گو چه کج گوری
گڼه نکا رنځورا چا ته جواب سخت

څوك د صبر ارام نه غواړی په عشق
د ازل کاتب دی ښکلی په دی باب سخت

« عبدالحمید مهمند »

عجب نده که وحشی د کوه و د شت شی
هرچه زړه د آهو چشمو سره مل کا

« پیر محمد کاکړ »

روهي گڼلو ته (٥٢٥) ـ سردار محمد ، ح سراج الدين ، ر فتح محمد ، ن محمد نعيم ، ه اجرانه پښتو ټولنه ١١-١٠ ـ ٥٢٥ ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵- غاښ

په آروزو دسپینې خولې یې په بوستان کښې
نرگس پیاس پر سر نیولی ده پیاله

چه یې ولید ، خندا د سپینو غاښو
له شبنمه لمن ډکه کړه ، لاله
« شمس الدین کاکړ »

په رڼا د سپینو غاښو یې خرم وم
واقف نشوم د هجران د شب له داچه
« پیر محمد کاکړ »

## ٦- غوز اوپوزه :

در په غوز کښې د مهرویو هسې زیب کا
لکه پر پښې په سحار کښې ستاره
« مرزا حنان »

چه الماس دلمندرو زانگې په غوز کښې
کواکب کا په اسمان لرزان حبیب
« میا نعیم متي زی »

چه له غوږ وښې مقصود موږ می لښتیء ده
چه له پوزې یې مراد مومې لونگ دی
« خوشحال خټك »

سپینه پوزه دی غوټۍ د زنبق ده
چه چاپیر تري نور گلونه د گلذار دی
« خوشحال خټك »

## ۷- خال :

مخ وته یې گوره چه په مخ لری خالونه
څه عجب زیبا دی لکه گل د پیغمبر
« خوشحال خټك »

زه حیران د استاد ورځو په نور خال یم
کافر څه رنگ سجده کاندي په محراب کښې
گل دډېرې باریکۍ په شبنم خوړ شي
نازك زړونه بد وې په صاف جواب کښې
« عبدالرحمان مهمند »

مشکین خال دي په سرولیو هسي زیب کا
لکه مهر په مخ ون د درمرجانو
« عبدالرحمان مهمند »

لکه عکس د اسمان چه ار به شني کا
زړه مي شین شو ستا د شنه خال له لاجورده
« شمس الدین کاکړ »

چه ز خال و خط خبری یکښې نه وی
د عشاقو یکدار دا ترانه نه ده
« قلندر »

شنه خالونه چه د پاسه پر جبین ږدي
دا زما په زړه دا غونه آتشین ږدي
« پیر محمد کاکړ »

شینکی خال د وروځو منځ د مهر و یا نو
هم محراب دی ، هم منبر دی هم خطیب
« میا نعیم متي زی »

زړه مې څکه په سل ژبو گفتگوی کړی
چه شانه وهي په زلفو د نگار لاس
«عبدالله پوپلزی»

په لښکر د تورو زلفو یې تالا کړم
خدای دې نه کا حال کمان کفر د چا
«میا نعیم متی زی»

خیال د زلفو د رخسار زما په زړه کښې
زر عو نه کړه تر سنبل او سره گلاب
«میا نعیم متی زی»

ځانگی پکښې زړونه د عاشقو سره په ویښتو
ته چه چیری کېږدی سره گلونه په اور بل
«میا نعیم متی زی»

کفرستان د شاه د تورو زلفو گوره
چه په څه ښاني تاویږی وایمان ته
«خوشحال خټک»

که څوک وایی چه مار کله په کټ خیژی
زه خو وږلی یم په کټ د زلفو مار
«عبدالرحمان مهمند»

که اره لکه شانه شم پری نه یی ږدم
که د تورو زلفو تار په لاس را کښېوت
«مرزاحنان»

توری زلفې دي په لیچو باندی ځانگی
ښامار ان دی دچندڼو په ښاخونه
«خوشحال خټک»

دار بل په هر یو تار یی زړونه بند دي
مشاطه ور باندی نور پسی په تارو
«خوشحال خټک»

که دد یدن حج اکبر کوی تلوار راوکه
چه پر سپین مخ باندی د زلفو تور اطلس لرم
«صدیق آخندزاده»

## ۸- زلفی:

که بل مار چیچلی په لاس یا په پښو کاندی
په زړه خو له لگوی مار د تورو زلفو
«عبدالرحمان مهمند»

رحمان ستا په مخ بی څنمو وهم مین دی
بېهوده وو زه نه کښېښو دا ام په څه
«عبدالرحمان مهمند»

ډک می د نشه لړمون په اوربشو
زړه سمندر دی پکښې یې کوړ شو
چه ستا د تورو زلفو په رنگ دی
له بخته خو بس یم چه بخت می تور شو
«عبدالقادر خټک»

په لیده یې پیچ وتاب شم نه پو هیږم
څه بلاده د شوخ چشمو په کاکل کښې
تر حلقو د زلفو مخ ئی معلومیږی
که گلاب را ته ښکاره شو په سنبل کښې
«مرزا حنان»

زه مین په هغه زلفو په رخسار شوم
چه سنبل ورته خجل دی گلاب هم لا
«پیر محمد کاکړ»

خو دیه څو دی کله زلفی په مخ ځانگی
واړه زهر دی چه څوزی په تور مار کښې
«پیر محمد کاکړ»

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیال دزلفو یې دزړه نه جدا کیږی — دې کیمې یوبن پښکته شي تور حجاب

«عبد الله یوپلزی»

## ۹- خندا:

په بار بار د خندا منت را بانده ی — چه په مادی نظر وشوپه خندا شوی

«خوشحال خټک»

کله کله په خپل قهر ا کښن مسینږی — لکه خوک چه هندو بار کښن دینداري کا

«شمس الدین کاکړ»

تبسم یې له دشنا مه سره زیب کا — قدر زیبات لری ترخه چه شی شراب

«میرزا حنان»

## ۱۰- لاس:

دا مختما د قاتل لاس دی نه یو هینزم — که تر باغ وتلی لاس دی د سرو گلو

«عبد الرحمان مهمند»

کوم دلبری زړه په سرو منګو لوریږی — چه لرمیو ن دویښود کښ دی د حنا

«شمس الدین کاکړ»

سره نو کان دی دسر و گلوپه څېر زیب کا — د واړه لاس چه دی رنگ کړی په حنا

«پیر محمد کاکړ»

## ۱۱- حسن:

ته په دا حسن د گل غوندی پیدا یې — یو ری مور که بیا پیرنی یې راوړی

«خوشحال خټک»

زه رحمان د هغه حسن تنا خوان یم — چه جر گه دعا شقانو وی پر پنده

«عبدالرحمان مهمند»

ستا دحسن د آفتاب له گرمه خویه — لکه گل په نمن یت تازه شبنم ودم

«شمس الدین کاکړ»

یویکښن مخی د ځند هار د کښلیو نشته — کښلی د کشمیر که دلا هو رو د کابل

زه دشمس الدین په حساب سره دری ځای کړ — یو طرف دي تیك شو بل دی نته بل چار گل

«شمس الدین کاکړ»

خو برو نی یې دلبرنی څه په کارنده — لکه ونه بې میوی په بیا نو یو ره

«عبدالرحمان مهمند»

توری زلفی نشته خالونه سره رخسار — ښیښه طوطیان دی سره گلونو تور ښامار

«یونس»

## ۱۲- جامه او گانهٔ:

ارغوانی جامي یې واغوستي رحمانه — بیایې جوړ کړه ستا دقتل اسبابونه

«عبدالرحمان مهمند»

دعقیق د آب په رنگ یې تن معلوم دی — هره ورخ چه جامه واغوندی گلنار

«مرزا حنان»

نور دشمعې په فانوس کیله پټیږی — تاچه واغوستي دخیال جامي سپری

«عبدالرحمن مهمند»

درسته‌دي له‌خپل‌غریو واښتم خوشاله　　یودغادي هارمی د ګلونو مه‌شلوه
« خوشحال خټك »

### وښې

داهلال‌دی چه‌لیدل‌شی په‌شفق کښې　　که‌په‌لاس د ګل‌اندامی سپین‌وښی‌دی
« عبدالرحمان مهمند »

## ۱۳- عیش، اودعشرت‌سامان:

دنیادار کړه چه نه‌وی ښې دلبرې　　اوردې پورې ددنیا په‌ملك ومال‌شی
ارمان دادې چه به زه همیشه نه‌وم　　همیشه به‌سره ګلونه کال په کال‌شی
د ګلونو وخت تیرېږی ساقی! ګرم‌ېی　　که دجام په د کولو دې اهمال شی
« خوشحال خټك »

❀ ❀ ❀

ساقی! پورته شه‌دمیو جام تیار کړه　　عمرهیڅ معطلی نه کوی‌تلوار کړه
که‌غمخوارغواړې‌په‌غم‌اوپه‌اندوه‌کښې　　ښینه د که د شرابو اختیار کړه
هغه‌خوك دی‌چه‌تهمت پرې وایه‌نه‌شی　　غوزپه‌هیڅ‌بانديمه‌باسه‌خپل کار کړه
« د عبدالرحمن مهمند »

❀ ❀ ❀

غنچه‌غټوه‌شراب‌ساقی! بیابه‌ارمان کړې　　عندلیب ناری وهی چه‌بهار دروم‌ی
« عبدالقادر خټك »

❀ ❀ ❀

ساقی وخت دنوبهاردی شراب راوړه　　دشرابو سره نقل دخولې مل کړه
« خوشحال خټك »

### رباپ

په‌آواز می‌ېی دزړه پرهار ګانه‌شی　　مین څکه د رباب په زیرو بم یم
« عبدالقادر خټك »

له مزینه زړه می نرم اواز خیژی　　څکه‌خوبنی لکه‌رباب په‌زیروبم‌یم
« عبدالقادر خټك »

باغ دګلو نو ګنج د کتاب وای　　رودوسرو دو نقلو شراب وای
ښې‌ښې محبو بې ښه ښه احباب وای　　خو ېی د عمر وخت د شباب وی
« خوشحال خټك »

### شراب

زمایار په‌خوب ویده دی چه‌ویښ نه‌شی　　په‌پیاله کښې ساقی! می‌تر پوه‌ورو
« عبدالقادر خټك »

ګله! ته چه د بلبلی مخ جار باسې　　مګرستاپه‌خیل‌ښایست امیدمدام‌دی
نور چه تل د کې پیالې تشوی ښه‌دی　　په‌یوه‌پیاله خوشحال‌خټك بدنام‌دی
« خوشحال خټك »

دا گلگون شراب د کومې میخانې دی ‌ ‌ ‌ چه صوفی یې په جرعه سره مدهوش دی
بیا به دا گلونه نوی میخواری کړه ‌ ‌ ‌ د بلبلو په اواز کښې دا سروش دی
« خوشحال ختك »

د رحمان شراب له عشقه ‌ ‌ ‌ نه انگور نه له عنبه
« عبدالرحمان مهمند »

د گلو نو میو ناوې راسته ناسته ‌ ‌ ‌ زنگاری کمیس اغوستی د مینا دی
« عبدالرحمان مهمند »

شپه او ورځ په دازه مستغرق یم د شرابو ‌ ‌ ‌ وینم یکښې هر دم دخوبانو انعکاس
« قلندر »

په تاخیر کښې افتونه پیدا کیږی ‌ ‌ ‌ معطل مه کوه ساقي! په داد و مل شه
« عبدالقادر ختك »

یو نفس دیاد پیاله له لاسه مه ږده ‌ ‌ ‌ دا شراب حقیقی نه لری خمار هیڅ
« دولت لوانی »

نن هغه شراب حرام دی ‌ ‌ ‌ چه یې کاږی له انگوره
« شیخ دولت »

ای ساقی د جام په ور کړه سستی مکړه ‌ ‌ ‌ کاشکې بوهم پاتې نشی هوښیار دریغه
« دولت »

## ۱۵- بیلتون :

کیږ ر نا د نمر خپره شوه ‌ ‌ ‌ زما پر کور د ویر ناره شوه
د بیلتون ورځ تورهٔ تیاره شوه ‌ ‌ ‌ غږ شونا څا په چه بیلتون راغی
زده می له دی ویر نی سین دی ‌ ‌ ‌ په زړا ژاړم څه ما ورین دی
زړ غون له او ښو می سا دین دی ‌ ‌ ‌ په نول نولیږم چه تاخون راغی

❀ ❀ ❀

نه به بیایم نه به بیا را شی ‌ ‌ ‌ نه به تیاره شپه زما رڼا شی
نه به شڅی را ته پخلا شی ‌ ‌ ‌ بیلیږي پیر یې اوس دیون راغی

❀ ❀ ❀

د ښبتن یار دی هیر مو نکړی ‌ ‌ ‌ آ غلیه مخ چه په یا نه کړي
اور بل دې پر ښو وی وا ته کړي ‌ ‌ ‌ په ما دبل اور کړوون راغی

« دا شعر دشیخ تمین بڼ کاکړ دی چه، د ۵۲۵ ه په حدودو کښې ژوندون کاوه »

❀ ❀ ❀

و یر می زده سو ری سوری کړ ‌ ‌ ‌ را تـه و گو ره ملو کی ! !
په بیلتو ن کښې د ې و با سم ‌ ‌ ‌ له خوږ مینه ز ډ گی کـو کی
را ته و گو ره ملو کې !
را ته و گو ره ملو کې !

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بېلتون اور و نه بل دی — هر ګړی مې زړه کې سوځي
لږ نی پسه د مینی ! — سو ځم زه لکه پېلو ځي
راته وګوره ملو کی !
راته وګوره ملو کی !

غوړ و لی دی اور بل دی — اور زما په زړه کې بل دی
زه « بختیار » خاوری ایری شوم — په اور سوی مې ګوګل دی
راته وګوره ملو کی !
راته وګوره ملو کی !

❀ ❀ ❀

« قطب الدین بختیار »
« متوفی : ۱۳۳۳ ھ »

جدائی دما په زړه کا هغه چاری — لکه بازی په تارو یا په دراج کا
دوه مېن چه په هواد وبله بېل شی — خدای یې څه شکل دتش سلام محتاج کا
زما اوښې د ګوګل په جوش پیدادی — لکه اور چه له کبابه نم اخراج کا
هر ناوک چه دقضا له شسته خېژی — زمانه دخوشحال زړه ورته امراج کا
« خوشحال خټک »

که داستا ستر ګي راوچا رپاسم ځانته — له بنادی به یې نور شا کرم وجهان ته
یوزمان مي که داستالیدل نصیب شی — نور به ستر ګي پورته نکړم ګلستان ته
طبیبان دخپل دارو درسره کېږدی — تا و یشتلی مینه نه کا و درمان ته
چه په ما باندي تېر ېږی ستا په عشق کښي — خدای دي هسي حال پېښ نه کا مسلمان ته
په فراق دښو یارانو چه ډېر ژاړم — دوا ړه ستر ګي مي پېغور کا وباران ته
« خوشحال خټک »

اوس یې درد د فراقت زغملای نشم — لکه نی یم وهر چاته په فغان کړ
« پیر محمد کاکړ »

دفراق په درد کښي شوق دبوسي څه کړم — خوږ شربت په حال دمرګ دبیمار نبلی
« پیر محمد کاکړ »

مونږ له هواده تنها راغلی یو — دبڼ طوطیان یو ، په دام و تلی یو
غمازه ظلم را باندي مکړه — د ښو یارانو فراق نښتلی یو
« پیر محمد کاکړ »

دسحر چرګه خوږ شي په کومی — چه تا ناري کړي دلبر مي درومی
یوه مي دلبر ځی بل رانه زړه وړی — زړه مي پدا وړی چه دلبر نومی
« اخوند ګدا »

دهجران دغم راتله په توره شپه وی — په هر چاورمه شه بېوخته مېلما نه
د فراق اوښکو دصبر تیمم مات کړ — په دریاب کښي نشته نمونځ په تیبا نه
« شمس الدین کاکړ »

وخت دنوبهار دی زه جدا له خپله یاره — دریغه دریغه دریغه چه بی یاره ځي بهاره!
ژاړی غاړي غرونه په احوال دعاشقانو — سیل دراوروندی چه رادرومی له کهساره

اوردخوزو زړودی چه دغره پهونو بل شو
سری دووزی خېژی له نښتره له چیناره

غوادی چه احوال دفراق چنودر معلوم شی
گوره هغه زانې چه جدائی نحی له قطاره

نورې نارې نشته خو نارې د بېلتانه دی
راشه که بی اورې در باب له هره تاره

رنځ مې نه کمېږی په زمان زمان زیاتېږی
زر راځه طبیبه! گنه مرم د خدای د یاره

مرگ د رقیبا نو بل ژوندون د حبیبانو
خدای زو په هنگام دوصل کېږی دادوه کاره

شه شو که لادموهی په شمار دی دژوندیو
رنځ چه لا دوا شی طمع پر یکړه له بیماره

هسې خوار وزار شوم ز خوشحال په عاشقکېږي
خپل دی که پردی دی راته نه گوری له هاره

« خوشحال خټك »

چه په وخت د تلو راتلو کا چیغار و نه
دهوا دیاران زا یاد زانی اکثر کا

« عبد القادر خټك »

که هر څو د بېلتانه له غمه وایم
خپل ژوندون مې دروغجن کاندې چه یایم

په قد کوز په تن ضعیف گوښه یولی
په مثال لکه ابرو د دلربا یم

« عبد القادر خټك »

له ښکیه وچاوده وخت دصبا شو
په هر مسجد کېښې اذان اداشو

راشه چه ښکل دې کړم اوس به بېلېږو
په ځان زمو نږه صبا بلا شو

« عبد القادر خټك »

مین را یاد شو دا ستا له رنگه
که یو د رنگ کېښې زما تر څنگه

که اشنا نه یی داشنا مثال لري
ځار شم قربان شم تر تا ملنگه!

« عبد القادر خټك »

وخت د سحر شو پر یوتې تلې
له کښېیه لوریه راو ختلې

د یار د راغلو وعده شوه تېره
په دېر ډکتل مې ستر گې و تلې

« عبدالقادر خټك »

د مني وخت ؤ وي لید لي
یو څو بلبلې چه ژړ ېدلې

خوارې خسته وې وې مې سزایی
چه بې گلو نو وپا ئېدلې

« عبدالقادر خټك »

ورځ دهجر پرما شرط مکره پېښه کېښي
ز هر چا خوږ لی ندی په شرط و نه

« شمس الدین کاکړ »

دزړه ویښې مې په کومه درشتی خوری
هغه شونډې چه په شهد و شکر خوږ شی

بېلتانه مې هډوپوست هسې وچ کلک کړه
دیار لاس مې په وهل دخنجر خوږ شی

« شمس الدین کاکړ »

د هند بارانه آهسته و وره!
یار مسافر دی د ربره یی ژ څوره

د سایې گل ؤ په نازلوی شوی
و تلی نه دی هرگز له کوره

« شمس الدین کاکړ »

د هجران له دېره غمه ولې نه مرم
له دې هسې رنگه ماتمه ولې نه مرم

چه یو یار له بله یاره جدا کېږی
ددې دهر له ستمه ولې نه مرم

چه په هر سحر زما په ژړا خاندی — له دې هسې صبحدمه ولې نه ړم

چه‌په‌لیزه گرمی شا کاندې و گل ته — ه دې بیو فا شبنمه ولې نه مرم

« عبدالرحمان مهمند »

زاروخوار عاشق‌دی چه‌په‌شپه‌دجدائی — درسته‌شپه‌بیخوبه‌دا-مان ستوری شمیری

« خوشحال ختك »

## کاغذ

مخ یې سپین ورق خالونه توری په کاغذ — سرو مال په دا عاشقان یلوری په کاغذ

دادی تمام د محبت کمال طور ونه — یار له جدائی چه یار ژغوری په کاغذ

ته‌که‌نه‌رادرومې گاهی گاهی‌په‌خطیار کړه — نیم ملاقات وینم ستا له لوری په کاغذ

مه کوه ناترسه د جفا ستم را باندې — کله کله یاد کړه خیل‌غمخوری په کاغذ

وران به هر گز نه شي کښلي توری‌له‌ازله — هرزمانې که ستر گې د چا اوری په کاغذ

ستوری د طالع هم له جبینه معلو میږی — څه گوری فالونه د بخت ستوری په کاغذ

مه گوره بې خط قلندره د یار مخ ته — بې توروه ندبیږی چه‌څوك گوری په کاغذ

« قلندر »

## ۱۶ — ژړا

که گریوان می‌دسپوږمی‌دنمرمشرق‌شی — زه چه یار په ستر گو نه‌وینم تورتم وی

درحمان خندا په اجر دژړا ده — تازگی د گل په قدر دشبنم وی

« عبدالرحمان مهمند »

ناخبره یې له حاله شفق بولی — که دوینو په ژړلو کړم اسمان دوب

« عبدالرحمان مهمند »

بې دردان ئی‌لاس‌سرخی دشفق بولی — که په وینو کړم برجونه د آسمان دوب

« شمس الدین کاکړ »

زه دشمعې په څیر ژاړم تر صباحه — ته د صبح په شان خاندې له‌غروره

« شمس الدین کاکړ »

له ژړامې شوه تازه دزړه داغونه — لکه تل چه شبنم اوری پر وښو

حما دیار په‌زړه‌کښ جوروستم نشته — در وی ئی سپی رقیب را ته پرېښو

« شمس الدین کاکړ »

په سحر ژړا دیمنی نشا نه ده — بلبلانو پر ې لوولی گواهی ده

که فریاد په زوره‌نکړم‌زړه‌می‌چوی — که‌په زوره ناری کړم مه رسوائی ده

« مطیع الله پیر خیل »

هرسحر ستر گې د گل له اوښوډکی — په دا باغ کښ ئې ژړلو خندا نشته

« عبدالقادر خټك »

روحي گلونه ( ۵۲۵ ) ب : سردار محمد ؛ ح محمد علي خان ؛ ر عبدالغني ؛ ن رجب علي ؛ ه اجرائیه پښتو ټولنه تاریخ ۷-۱۱-۲۵ ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۱۷ ـ او ښکي :

څه اثر به زما او ښي په‌تا کاندي
لا تازه شي اور په او ښو د کباب
« عبدالرحمان مهمند »

هومره او ښي مي بهيږي په رخسار
چه غرقاب مي هم ګريوان دی هم کنار
په ګريوان مي تل داوښو باران وری
نه ورکيږي در حمان د زړه غبار
« عبدالرحمن مهمند »

خدای پيدا کړم لکه‌اوښکي په ماتم کښي
څکه برخه مي ژړا شوه له السته
« شمس‌الدين کاکړ »

يا کوم ستر ګي به او ښو ديار مخ ته
ناروا دی په قران وهل خيچن لاس
« مطيع الله پيرخيل »

په ناولی مخ ديدن د ښکلو نشی
چه ځواوند نشی د اوښو په باران مخ
« پير محمد کاکړ »

له حسرته خپلو او ښکو برسر پوډم
محبت په شان و شکل د حباب کړم
« عبدالله پوپلزی »

دا ورك زړه غواړم په‌او ښو پسي لګلم
زخمي ښکار به پسل دوښو پيدا کيږي
« مرزا حنان »

### ۱۸ ـ غم :

غم دي هسي غلبه شو په ما باندي
چه مي ځای شی نه دننه نه د باندي
له ژګيروی نه‌مي نور خلق په‌عذاب شوه
تل دوچو له کبله سوزی تاندي
زه دستا په‌غم کښي شمعي غوندي ژاړم
ته زما يه غم کښي صبح غرندي خاندي
زړه‌مي ستا په اوری هسی او بزان دی
لکه زلفي دي به مخ دی او بزا ندي
مادي ستا دانده ښځو به غم کښي سوي
د دنيا اند ښځی واړه لکه سپاندي
داد ستور دي چه لوی غم به سړی ورشی
نور غمونه ئی همه شی تر پښولاندي
هرچه ما يه نصيحت له تا جار باسی
پيا دي ستا په اوری دروميله ماوړاندي
سره لمبه ګوره چه څه کا به وچ ډکی
مخ ديار په رحمان هسي چاري کاندي
« عبدالرحمان مهمند »

هسي زه يمه ديار په غم تازه
لکه وی هره ګياه په نم تازه
ستر ګي وخورم که ئي وچي کړم له نمه .
که مي شي په دا ژړا صنم تازه
زه به څه کړم دچا چاري بي دياره
هر سړی دی پخپل سا په دم تازه
ديار نوی نوی غم زيږوی وصل
رفوی سوی پر هر مرهم تازه
که‌دي زړه له‌غمه وچوی دلګير مه‌شه
کا تبان کړی په چول قلم تازه
ښايسته‌ياران ګلونه دی رحمانه !
پيلتا نه کړه اکثر مړا وی کم تازه
« عبدالرحمان مهمند »

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه غم دبختورو له خاطره
تل مطیع‌الله محکه سرور په‌دودنغمې کا
غم‌دیار مې په‌خاطر کښې محکم بیاموند
جای نشین وغم ته تل‌په انتظار کښې
لاله افسوس کاد زړه له داغه
کفن ئې رنګه کړ دزړه په وینو
گو تې‌چه پرنبض‌زماز دی‌هغه‌پرې‌سوځی

قسمت هسې له‌بنا دلیو کنا‌ړه کړم
« عبدالقادر ختک »
دا مشهور متل‌دی فریاد غم پر ښا نوی
« مطیع الله پیر خیل »
په کعبه کښې‌مې صیاد دحرم بیا موند
« پیر محمد کاکړ »
د ککالا پا نوی بندی یم د انګریز
« عبدالله پوپلزی »
پسر چمن نه‌دی خاطر فراغه
په ارمان ویست خزان له باغه
« شمس‌الدین کاکړ »
محکه‌مې حیران شوو علاج و ته طبیت
« پیر محمد کاکړ »

۱۹ ـ رقیب :

سپی رقیب ئې کښېنولی دی په مخکښ
عشق له عقله ځکه کا خلاف کارونه
بی‌هنره سپی رقیب هلته څه غوښت
د رقیب وسرته وزی تېزی ناست یم
مافبول د رقیب ناز کړ ستا دیاره

هرخوك زدی کوډی په مخکښ دباښز
« شمس الدین کاکړ »
ګڼه زه څوك اشنائی د زور ورځوك
که ویارته رسېدای شوی په هنرخوك
« شمس الدین کاکړ »
پری‌برئې‌نېزدم که‌ئې‌پلار په‌لاس‌را کښېوت
« مرزا حنان »
سوداوزیان‌په‌داجهان کښې‌خوراوورور دی
« عبدالرحمان‌مهمند »

۲۰ ـ جفا :

ستادعشق‌حرفونه‌تورنه‌دی ګلګون دی
تش به نه شی هغه خم‌دعشق له میو
ددنیا چاری همه وا ړه فانی دی
مقتولان ستا د غمزو دی لا له نه‌دی
در جمان دزړه خوناب مګر قبول شو
له خو بانو چه کوم دوفا طمعه
ن‌مې‌پیاله‌تورو ستر ګوسره‌جنګه دی
که پر هکری سر په‌لاس ورلره راشم

هم په داچه نوشته په جګرخون دی
چه‌ئې خاورې د فرهاد و دمجنون دی
داد ستا جورو جفاو لې افزون دی
چه په سره کفن له مځکې‌رابهرون دی
چه مخونه د دلبرو پرې ګلګون دی
« عبدالرحمان مهمند »
کتوری غواړم د زانو له قطاره
« قلندر »
پرلبانو ئې دزړه دوینو رنګه دی
لا په دائی باور نشی زړه‌ئې‌سنګه دی
« تیمور شاه ابدالی »

## ج : بدیعي تشبیه گانې

خوله دې گل غنچه ده تور گیسو دې سنبل پانې — ښې ددې دزر کې سپینه غاښه دې دزانې

شونډې دې ژوندون ښې به ستر گو کړې خونه — ژ به دې شکرې ده د ننه په زړه پانې

هیڅ پرې نه پوهېږم دا دې زنه که مڼه ده — خال دې دی په زنه که دانه ده د ممانې

« خوشحال خټك »

کنډه ولې د دوا ړو سترگو ستا په طمعه — وهر لور ته مې نیولې کور په کور دی

چه مې خیال د ترکوو لید و په زړه کښې — د واړه کسې مې وزړه وته نسکور دی

« عبد الرحمان مهمند »

مایه خوا ست وزارې خوله له یاره غوښته — ده په ناز لکه غنچه سره و نه غوښته

څه خو حال زما تر غوږه د یار ورو ړه — چه مدام ککا پرتا خواب د ناز با لښته

محبوبا پر پا انډ ګ وا وښته یه خوب کښې — که هوسئ ده د بهار پر گلو رغښته

ثمره د بد فرزند ښکښځل د پلار دی — پېدا مشه نا خلف د چا له پښته

« شمس الدین کاکړ »

چه له خنگه د گلرخ مې اغیار کښېنناست — په چشمانو کښې مې گل عوندې خار کښېنناست

« پیر محمد کاکړ »

آهو چشم پر سبزه د چمن رام شو — یا پر تخت د زمرد شهر یار کښېنناست

« پیر محمد کاکړ »

که عشاق جنگ وجدل کا باندې څه شوه — پر گلزار وی د بلبلو شر و شور

« پیر محمد کاکړ »

کوم پوله دوه ؤښه دی سپین رخسار که چنبیل گل — کوم پوله دوه ؤښه دی تور گېسو که سنبل گل

« پیر محمد کاکړ »

پر سینه د گلبدن گر هوا ن پاره شو — د غنچې له چا که رنگ د گل ښکاره شو

« پیر محمد کاکړ »

دا تور خط راغی پر مخ د گلعذار — که غالب شوه په کشمیر باندې کفار

« شمس الدین کاکړ »

چه مې ستا د مینې داغ په خاطر یوړ — زرغونه به مې لاله شي له تربته

« میانعیم متی زی »

میانعیم ناست دی ستا دغاړې الېلونه شماری — پکښې پراته دی هزاران زړونه بلبلې صنم

« میانعیم متی زی »

گوتې تورې کړې په بای کړې دا پورې — زه حیران یم ستا د سپینو گو تو تور ته

« خواجه محمد بنگښ »

زه درپسې درسته شپه پټ ژاړم لکه شمع — ته صبا خندان لکه گل واز گرېوان دچاپی

« علیخان خټك »

یون ئې د تند رو ، دربده ئې دی د سرو     پیر کوی په پلو کښې حمله ئې د سپاره ده
« علیخان ختك »

تماشا چه زه د خپل داغونو تل کړم     هم گلشن هم لاله زار په لاس را کښېوت
« مر زا حنان »

د گلرخ په هوا در ستـه شپه ر فتن کړم     د شبنم په څېر پښې پېلې سر سر تور تم
« شمس الد ین کا کړ »

او ښې در ، ر نگ گهر با زړه لکه لعل     جنس مې ډېر ولې رونق د بازار ته نشته
« مرزا حنان »

د یار خیا ل ته مې خالی کړ د زړه غولی     میلمانه لره تیا ر شی سرای د ستور دی
« مر زا حنان »

چه دې خیال په خا طر را شی مضطرب شم     لکه پېښ چه د مفلس کره میما ن شی
« مر زا حنان »

چه تا و و پشم تا زه غز ل ا نشا کړ م     پری بلبلې فریاد کاندی چه گلعذاروی
« خو شحال ختك »

پر خپل ځای با ندې ولاړ یم لکه شمع     تر منزل پوری رفتار کړم لکه شمع
« شمس ا لدین کا کړ »

وخت دی راغی دغه دا که فدا کېږی     شمعه بله شوه تازه پتنگه خوځه !
« جمعه بار گزی »

آفرین دې په ول ول تورو سنبلو     چه ئې ځای د پاسه وینو په گلو
« خوشحال ختك »

## قبیح او ملیح

که یو ځله ئې په سرور باندې کښېږي     رنځ د هجر به شی د فع د بیمار
په مدار مدار به ئې کاږم چه خوږ نه شي     د بانو په ستنې ستاد یو ندې خار
« شمس الدین کا کړ »

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دویم باب ـ اخلاق او نصایح

## الف : ښه خویونه

### ۱ ـ اخلاق

که د رنګ خوبي ئې ستایې بوديې نښته — په جهان کښ که باقي دئ خو اخلاق دی
« خوشحال خټك »

په خو یونو کښ ډېر فرق دی — که سړی پر ې خبر دار شی
ځينې هسې خوی آغاز کا — چه خپل هم ځينې و بېزار شی
ځينې هسې خوی آغاز کا — چه پر دی ئې خد متګار شی
که څوك خپل خصلت ښه کا — تر سرو زرو به ډېر و پېدار شی
« خوشحال خټك »

ثنا د ګل شی له ښکلیه بویه — صفت د مرد شی له نیکه خویه
اهل به نه کا ستا ينه هيچيري — د ګل له رنګه د مرد له رویه
« عبدالقادر خټك »

چه ګل همت ئې خوراك لباس وی — په تحقیق هغه ارذال الناس وی
شر ف په خوی دی په دیانت دی — که څوك شریف وی یا څوك کناس وی
« عبدالقادر خټك »

په ښه خوی د سړی قدر قیمت کېږی — بد خصلت سړی یا دیو دی یا پېری دی
چه ئې علم وهنر نه وی ځنې تښته ! — بی هنر سړی که وګوری لاشی دی
« خوشحال خټك »

په ښه خوی باندې پردی عالم خپلېږی — په بد خوی باندې خپل واړه شی سوا
« قلندر اپریدی »

که دې رنګ، بو، لطافت واړه د ګلان کړل — نور د ګل په خبری پاس په دستار ګرځه
« فاضل »

د ښه خوی ګټه ده ډېره — له ګڼډلو ترانډ تېره
هغه څوك چه اخلاقی وی — د هغه نوم به باقی وی
که دچا اخلاق ښه نه وی — د هغه به ژوند ښه نه وی
د اسلام دین دی راغلی — پیغمبر دی پیا خپېدلی
چه پوره کی ښه اخلاق — او پر ځای کی دا میثاق
په خویو انسان انسان دی — که نه وی خوتش حیوان دی
مکارم انسانیت دی — رذائل حیوانیت دی
« عبدالکریم کاکړ »

هر طرف پرې سره ځمکه سره پناه شي
په نسب که خان ، نواب قاضی قضات وی

لکه کښت لره باران اوباد په کار دی

۲ - په ځان باور « او » همت :

چه فلك سره سر باسي
کړه ئې ندی بی حکمته

رب دي مه کړه د اخلاقو پله سپکه
بد اخلاق سړی نه ارزی په کنجله
« احمد ګل الـلمی »

د عالم تولی په خلق په احسان شی
« خوشحال خټك »

په همت کښې هغه زه یم
زه خوشحال دده په کړه یم
« خوشحال خټك »

په تېرو تورو ور دروم یکسر ننګان
د ګنجګو قدر یو ، د در ویل د ی
ار تګی د زړه دلیل د جنتی د ه
د باد شاه په سلطنت پورې خندا کا
نور ماهی ئې تار په تار دروی له مخې
دهاتی دپاسه سپور ورته پیکه وی

په له بو باندې ځا ن ولی پتنګان !
ننګیا لو سره څه ژوی بی ننګان
د دو زخ دا ور لا یق د ی دلتنګان
په سپهر و ایرو لړ لی ملنګان !
ما تو ی لو لي بیړ ی، نهنګان
چه د میو پیالې آخلی سر هنګان

څه د ځان صرفه اوس کار کوه خوشحاله
لکه کار کا پر ها ر ژ اړی پلنګا ن

« خوشحال خټك »

چه په غوښو ئې روز ګار هغه زمری یم
که عالم راته ګل تا و کاغم مې نشته
په دانش په شعور نده په همت ده
هر پښتون چه د مغولو نو کری کا
چه منصب مې د مغل خوړ یو ملك وم
د فرمان د پروانې حکم ئې نشته
نهمې کار په خاص وعام نه په دیوان دی
نه تصدیق شته نه یادداشت شته نه توجیه شته
هر ګیدی په چه له ما سر کوزی غوښته
پښتانه لره شړیء اندېښ مې بس دی
آزادی ده په ساده سپینه جامه کښې
د وښو جونګړې هسې راته ښې شوې
که او ګره د ښېږ شته په شړو مېو سپینه
چه نیولی مې داهوډ دننګ ونام دی
په بل غشی تویك هیڅ ویشتلی نه یم
چه شهپر مې ښی خیل وو کنډ کیرشول
د کریز بڼې مې توئې لکه باز کړي
تف په زیره د همه وا ډو بسار کو

نه چه ولې ئې خوراك هغه منږك يم
په رښتیا ویل د دېرو پو لیو لك یم
چه دا هسې سر ګردان لکه پټك یم
که د ی زر ، د هغو واډو بهترك یم
چه منصب د مغل نشته اوس ملك یم
شکر داچه په خپل حکم په خپل وك یم
نه په درو لاړ د هر یو ه مردك یم
نه په فکر د سند نه د دستك یم
د هغه د سر یا توره یا کوتك یم
نه په فکر د مسندنه د تو شك یم
خلاص دغمه د زر بفت اود میلك یم
وایی ناست په مخاونو د آهك یم
د مغولو پولاو پاتې ډېر پرې ډك یم
که له خپلو هوډه وا ودم کنیزك یم
که و یشتلی یم خو بیا په خپل تویك یم
پر وا دار په لنډو پرونو دبارك یم
ګمان مه مکړه چه بی پرو ښا پیرك یم
لا زما په زیره هم که زه بارك یم

که دواړو پښتنو را ته تسلیم دی     زه خو بیا د سبا کی، انا خشتک یم
نن خو قام را سره ډېره جفا و کړه     کانده بیا د خدای و حکم و ته ځك یم
که څه حق یا د نیکی یا دووری شته     و یا داش وته به طمع د هر یک یم
مهمندی زما د کلی لاس او پښې دی     راضی من دا فرید یو به کو مك یم
ډېر چیني چه تراوش و کا دریاب شی     چه ایده شم اوس خود ایم یو بولك یم
کر لانی څړ بنی خو چه پښتانه دی     زه د ننګ یه کار دواړو مشترك یم
که مې عمر به شماره تر شپیته تېر دی     لا به کار د سواری، لکه از بك یم
د افغان به ننګ مې وتړله توره     ننګیالی دزمانې خوشحال خټك یم
« خوشحال خټك »

❀ ❀ ❀

حواله مې به تیشه د فرهاد شه ده     تر هغه چه نا هموار لکه خا را یم
تر هغه چه سرد جوشی د حنا وینم     خوش به طور د مك بې دست وپا یم
« کاظم خان شیدا »

بار دهر خس و خاشاك په خپل ګردن زده     حو صله دې به مثال د لوی دریا کړه
« کاظم خان شیدا »

راته یو دی بحر و بر     که څه سمه وی که غر
په همت به ئې تسخیر کړم     په شا ها نه شا ن و فر
« احمدشاه بابا »

ای مرزا په خپل اختیار له ځایه پاڅه     دون همت اندېښنه مه کړه بله بله
« مرزا خان انصاری »

که فلك ئې دزمری په خوله کښې ور کا     خدای دې نه کا چه عارف پکښې غارت شی
« خوشحال خټك »

څه هغه شهباز شه چه دې ځای په سردرو وی     نه لکه د کلی کارغه ګرزه غم د نس کړه
« خوشحال خټك »

که ئې ته په منت مومې وائې مه خله     که دچا په باغ کښې بوټی د کیمیا دی
« خوشحال خټك »

سر دې دروم مال دې دروم پت دې نه ځی     د سړی د چارې ګل خو بی په پت ده
چه یې خدای ور کاو چاشکرد کاندې ندی     په جها ن کښې او یه بخر ه د همت ده
« خو شحال خټك »

علم تا پیائی په پورته جهل تا پیائی په ښکته     یا عیسی اره وردرو مه یا قا رون ته ځان سپاره
د نباتو حلوا مه خوره چه منت ور سره مل وی     خپل کشکاب د خپل محنت خوره په سر را وده پشتاره
« خوشحال خټك »

❀ ❀ ❀

هغه ژ یست چه د عز ت له مخه نه وی     چه یې کا په هغه ژیست پوری هك پك یم
اوریې پوری په منصب په نو کری شه     چه تر فهم و تر نظر د مغل کك یم

په خپل نام وننګ چه را شم لیونی شم
خبر دار کله په سود او زیان د لکه یم
چه په طمع د اوړو زغلی و شست ته !
ګمان مکړه چه هغه نا پوه سمک یم
تر قضا پورې د هیچا چاره نشته !
او کنه تر زاړه ذئب لا زیرک یم
لکه باز په لوی اوی ښکار زما نظر دی
نه چه ګرځي ګونګټ نیسی باد خورکی یم
« خوشحال خټک »

❀ ❀ ❀

که د جام لکه حباب وه نه نیو سینه ته
آفرین دې په همت شیدا خټکه
« کاظم خان شیدا »

❀ ❀ ❀

په خو غره په غره د باز غوندی پرواز کا
بیا به وانی د خوشحال خټک پرنشته
« خوشحال خټک »

ساقی جام د میو مه پر ښږده له لاسه
خو د عقل خه زده وی لا به مست کښی
د بلند همت کښی پورته پورته در ومی
ښکته ښکته ځی سړی په پست همت کښی
« خوشحال خټک »

چه همت د سړی څو قدری هومره
د آمیز په تله هر سړی تا له شی
د ولتمن سړی هغه بلبلی بوله
چه له سینده نیجه دا د چا واله شی
« خوشحال خټک »

نوره پښتو نخواه په ځای میشته ده
خو یو زه دی زمانی په کښی منصور کړم
که یی درست د مټو زور را ته ښکاره کړه
نه به بیا په قوم کښی کښینم نه به هور کړم
عجب مار می چار و تلی تر دوه پښو دی
مګر لوی پالو پیداشی چه یه دور کړم
مست هاتیان خونی زمری په زنځیر کښیږی
بویه دا چه ځان فلک وته تر بور کړم
په خپل اومی باور شته اثر به وکا !
رقیبان به اور لړونی د تنور کړم
یودوه سړی مارمی پروت په دوا پښو دی
په دیدن یی له نشاطه نه نفور کړم
« خوشحال خټک »

کار په خپله تر دستی لکه حباب کړه
چه محتاج د خیاط نه شی پیرهن ته
« کاظم خان شیدا »

د باښی د باز نصیب شوی تازه غوښی
دوچ در بو بیخ نصیب شود سپیر کنندی
« مطیع الله »

وزی تنزی پروت په خپل پوزکی ښه نی
نه په تخت د پاسه ناست د بل کړه
د منت پو لا ودی زهر شه که نی مومی
د محنت سوی سکرک د ساګی سره
« عبد الحمید مهمند »

که د توان رسی په لوی دریاب کښی ګرزه
په بیله کښی دی زوال وینم نهنګه
عاقبت به ککری ور باندی کښیږدی
تر خراغ چه کیږ و ښی ګرځی پتنګه
هغه یار که په پالنګ را سره نشته
دا هم شکر چه نی بوی ځی له پالنګه
دعمزی په تیغ نی خوږ ښه نی خوشحاله
مړ نه نی په روغ صورت نه ځی له جنګه
« خوشحال خټک »

که غوټۍ پسې وهې په لاس به در شي
چا وی دا چه په دریاب کښ گوهر شته
که د جنگ په کار کښې زړه دې حکمتونه
خو صفا به نه شي زلمیه ظفر نشته
څه عجب باد شاهي لکه خورشید کړم
یکه تنها په جهان گرزم لشکر نشته
د منت دارو که مرم په کار مې نه دی
که علاج لره مې راشي مسیحا هم
« خوشحال خټک »

را شه گوره نامردان بلا و هلې
د پری میدان پر پرېږدي لري تښتي زغلي
د آسمان د پاسه گنبت ننداره نه کاوه
کوز د ځمکې د تلي په مېنځ کښې هلې
مړ هغه چه ئې نوم نه يې نښان شته
تل تر تله په ژوندون پیا ئې ښا غلي
خوك په خپل ځای کرل کا د اغزیو
چا په خپل ځای گلونه دي کرلي
پښیمانه کړ نه هو مره فا ئیده نه کا
چه په وخت کړ نه وو کا پرا خلي
چه محنت په ځان قبول کا راحت موی
رنج و گنج سره دا دواړه دي تړلي
« خوشحال خټک »

بنسیا د د چارې په مصلحت دی
بیا د مردانو په شه همت دی
چه سره پیوشی دا دواړه نو که
واړه دولت دی حرمت عزت دی
« خوشحال خټک »

مردان هغه دي چه همتناك وی
دننگيالي په كار كښې چست و چالاك وي
كار چه آغاز كا انجام ئې فرض گڼي
په زړه هم پاك وي په خوله هم پاك وي
« خوشحال خټک »

چه په خپل دخپلو وینو سر خرو گرزم
څه منت به دد ونانو د دینار کړم
چه په وازه خوله موندہ شي مه یې وینم
که صدف غونډې حاصل در شهوار کړم
« عبدالقادر »

که دمځکې غونډې کوز په تواضع یم
په همت تر واړه پاس لکه آسمان یم
« عبدالقادر »

چه همت دې دتپوس دی ځان بازه مکړه
ځان په رسم د جانباز و جان باز مکړه
« عبدالقادر »

هر سړی په موافق دخپل همت نظر ارینه
په ورو وچارو هیڅ کله کاته نکاندی لوی چاری
« عبدالقادر »

مردان هغه دي چه همتناك وي
په هره چار کښې چست و چالاك وي
چه غم پسري را شي پروا دغم نه کا
خوازه له هر چا به زیست وژواك وي
« خوشحال خټک »

چه په شان د آفتاب ندی گرم رو یه
ستا په سر کی به سایه دهما خوښ یم
« کاظم خان شیدا »

چه همت مې نه کا زړه په هسکو او
لکه موج نکړمه بیم له پر هو تلو
سوال مې خوی له در افشانه ابر ندی
صدف ورانه خپله خوله کړمه په غوښتلو
د آفتاب په کمند نه خېژم آسمان ته
نه زدم بار لکه شبنم پر دوش د گلو
« کاظم خان شیدا »

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ـ امید :

د شپې خېتن دې سحر ته ګوري
هېڅوك دې طمع امید پرې نه کا

له مقصوده نا امید مشه يکلخته

دا دستور دی چه شپه و لوېږي په څمکه

په ژوندون به لکه شمع دا سرد نه شم

هر گره گره کشا لري نيکبخته

٤ عزم او توکل :

د هوښيارو نادان هومره تفاوت دی
که په ما باندې څرخ خوري پروايې نکړم

نه رسي تر پاره هرچه ډېرې انديښنې کا

هغه باغ چه تل ما واده د بلبلو
د زړه راز و چاته ووايم حيران يم
تو کلت علی الله و يما پوه ده

په پرېشانو انديښنو خاطر پرېشان شی

۵ ـ جد وجهد :

په طلب کښې دې ستی وينم درويشه
نعمتونه رنګارنګ دي په هر لوري
څو طلب هومره موندل دي په دادور
د عسلو خوازه کله هغه موی !

غشی چه ډېر ولی بېتير انداز شی
کار د محنت دی د مشقت دی

هر مرغه چه د بل غوښې خوري مردار دی
د ذري په خير د لمر په طالب ګرځه
کار په تش لستونی نشي بې د لاسه
چه تقوی د پانت نلری رحما نه

گوندې پسرې و خېژي د صبا ستوري
باران په تېز و کښېتو نو اوري
« خوشحال خټك »

خدای په څمکه کامرغونه د هوا پېښ
« عبدالحميد مهمند »

په شتاب ور پسې صبحدم را ځي
« عبدالحميد مهمند »

چه تر مرګ پورې زما جانګزاري ده
« کاظم خان شيدا »

نا امید له خدايه غو ته چېين مه شه
« عبدالرحمان مهمند »

خود څمکې د آسمان په مينځ کښې وت دی
د هر هر کله دانا سره په نښت دی
«خوشحال خټك

نورې کېسې پرېږده د عشق په تو کل هسې
«خوشحال خټك»

اوس په ده کښې د بلبلو آواز نشته
په هر لوري چه نظر کړم همراز نشته
د خوشحال د زمانې سره ساز نشته
«خوشحال خټك»

جمعيت مومي خاطر له تو کله
«عبدالقادر خټك»

چه و نلی پې د دې خونې له ويشه
په غښتونې پا نه دې بده جفا پېښه
بلکه لا تر طلب بخره مومی بېشه
چه حذر کا د مچی له باده نيشه
« خوشحال خټك »

چه مشق د خط کړی وخط ته ساز شی
ورو ورو په هر هنر ممتاز شی
«خوشحال خټك»

ځان حلال کړه لکه زانه شاهين مشه
لکه تيږه هسې پروت په زمين مشه
لاس په توره کړه بې لاسه آستين مشه
د دې هسې همنشينو نشين مشه
«عبدالرحمان مهمند»

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه زمری خپلې منګولې نه کا ښکلې        هومره نه وی ښکاري غوښې ورته تلې
مرجونړا درو مرجان هله والجه کا        چه قبول کاندی د بحر خوني چلې
عاشقان چه ترس تېر شي هله ښکل کا        د دلبرو ښيښي خولې لکه ججلې
بازچه والوزی له ځالې هله ګوری        د ککبکانو ښایسته سترګی کجلې
چه داور ښځری یاد سره رفیق شي        بیا ماله کا په ملکو نو لمبې بلې
چه سیلاب دغره دسره نه روان شي        بیا ماهاله بیابي په مخ د بري خځلي
«خوشحال خټک»

* * *

په تحصیل پسې یې ځکه کوښښ بویه        خپل هنر له لاسه مه پریږده خوشحاله
«خوشحال خټک»

چه تورده ترخه قبول لکه دریاب کا        هم هغه د قیمتي د ر و ماب شه
چه لمبه یې د آتش کړه په ځان تېره        اوغه پسه د ګلا بو ګل ګلاب شه
د کمال کسب پیا په دسعا دت ده        هغه ښه چه د کمال په اکتساب شه
نه هم زده مراد وغواړه له عمله        چه په علم یې عمل وکړ کامیاب شه
«خوشحال خټک»

ښادی غم غونډي آسانه مونده نه شي        سور په خپلو وینو لعل دبدخشان دی
«عبدالرحمان مهمند»

زر نده هله څه حاصل کاندي چه ګرزی        یو زمان قراری مکړه له طلبه
«عبدالقادر خټک»

له آزاره چا بازار مو ندلی ندی        له انګاره چا ګلزار موندلی ندی
تلوار مکړه په خپل وار به برخه در شي        بې له واره چا خپل وار موندلی ندی
په قصور مطلب موند نه شي پسی پاسه        له ګفتاره چا کردار موندلی ندی
«مطیع الله پیر خیل»

کار کوه کار په کار هم کار دی        تاوان په ځان باندې خالي ګفتار دی
عقل څه بل دی خبري نور څه دی        ګو تره ګونګه طوطا طرار دی
«عبدالقادر خټک»

لکه عامل شوه د خا ورو لاندې        عمل هم ورك شو په مځکه باندې
اوس په خبره برول وړل دي        دا بیت بازی دی عالم یې کاندي
«عبدالقادر خټک»

کله به لا درومې له ماي د سحر خوبه        خوب بیغمه نه کا چه په مځکښ بې منزل دی
«عبدالقادر خټک»

چه منت په ځان قبول کا نو راحت شي        چه عارف د مصیبت شي عافیت شي
«خوشحال خټک»

٦ ــ صبر او استقلال :

غشی چه د ښځ ولی ښه تیر انداز شي        چه مشق د خط کړی و خط ته ساز شي
کار د محنت دی د مشقت دی        ورو ، ورو ، په هر هر هنر ممتاز شي
« خوشحال خټک »

مړ تېي د هر چا نندې سره سمي    دخرد بار د فيل په شا باندې مثقال دی
نه چه لافې د مردانو د ميدان کړي    په ميدان دی کوم راوړی استقلال دی
که همه خلق يې سنر شه پخندنه    بيچاره خوشحال په خپل هنر خوشحال دی
« خوشحال خټك »

دمرد چه صبر چه استقلال نه دی    چه غم پرې راشي پکښې خوشحال نه دی
مرد دی يې هيڅ ده و زما په بوهه    که يې په جاه ودولت شوك سيال نه وی
« خوشحال خټك »

اضطراب به دې خلاص نه کاله غمه    مستقل و ر نه په صبر و تحمل شه
« عبدالقادر خټك »

په تاکه را شي خدا ته لويه    تسپنه تسليم صبر ته بويه
ته به يې دفع په صبرو کړی    نه په لښکر و په زرا و زويه
« خوشحالی خټك »

صبرو نيسه په هر کښې که مراد غواړی    هيچا کړی دغه کار په شتاب ندی
« عبدالرحمن مهمند »

ای حنانه صبر و کړه مراد به مومي    د فلك زر نده په وارده پس و پيش
« مرزا حنن »

خلاص به نه شي سرکشان له گوشمالي    چه فلك په جهان شته دی تلوار مکړه
« کاظم خان شيدا »

دانايي مه گڼه چه صبر نه لري    چه صبر نه لري حکمت به څه لری
سړی د صبر په کار کښې و زمينه !    چه صبر ناك وی هر څه به ښه لری
«خوشحال خټك»

صبر ناکو سره جور فلك نه کا    د فلك جور د چا چه سبکسار و
« خوشحال خټك »

ژوندی که گرځی خان يې ژندی دی    تو رزن د سر به وينو لږ لی دی
چه صبر نه لری ظفر به نه مومي    ظفر له صبره سره تړ لی دی
« خوشحال خټك »

شورش مکړه د گردون له کشمکشه    اومه کلکه کا مرغی له اضطرا به
« اشرف خان هجری »

۷ــ د وخت اهميت :

دو باره دې را تله نشته په د نيا    نن دې وار دی که دروغ کړی که رښتيا
هره چار چه تر وخت تېره شي عنقاشي    عنقانه نيلي په دام کښې د هيچا
تر ورځ تېری او به بېرته نه جار وزی    نه جار وزی تېر ساعت به بېرته بيا
تېر ساعت په مثال مړی د لحد دی    مړی چاری ژو ندی کړی په ژړا
هره نيه چه صحيح گڼه به زړه کښې    په اغر و ر به هغه نيه کړي خطا
په عمل د نيکو بدو فهم و کړه    چه په دا کښې دې بهبود دی که بدا
« عبدالرحمان مهمند »

چه بې وخته ارمان کا به وخت ویده وی
د هغه عالمو زړې د وښکو دی
« عبدالرحمان مهمند »

که د ډېره سعیه کوښښ کړی څه شی
په وخت چه نکړی بی وخته څه شی
که هر څو مټ په ډېری ملاح کا
په ټانګی چه کښېوزی پوری هاله شی
« عبد القادر خټک »

آبشاره ! ولی دا همې ژاړې ی !
له چا فریاد کښې خوک یسی غواړی
که تل فریاد کړی به کانی سروهې !
بیا به را نشی او به نچه لاړی
« عبدالقادر خټک »

کړل دی ویل دی دواړه اوان لری
چه وخت بی تېر شی افسوس ارمان لری
چه کار د نن ورځې پر بېړدی صباته
هو ښیار به نه وی دا خوی نادان لری
« خوشحال خټک »

٨ - زړه

شه سړی پردی بېدلاسا به نیکی خپل کا
کوم ښاغلی ده چه خوک بد کا زړه دیار خپل
« خوشحال خټک »

یو زړه د خوشحال ندی چه جهان بکښی اېده شی
د هر چا زړه مر آت دی صفائی ورله بویه
« خوشحال خټک »

دواړه سکونه لکه تن دی
کار د تن جوړ وی زړه
زړه بی چون او بیچکو دی
خوك دا غنو ښه گڼی زړه
« خوشحال خټک »

خو دې زړه خاندی خوله دې خندا کا
چه زړه دې ژاړی ستر گی ژړا کا
مدار د هرې چارې په زړه دی
زړه دی مفتی دی هره فتوی کا
« خوشحال خټک »

د زړه کار او اطوار مشکل دی
په دا به پوه شی هر چه عاقل دی
هم بی نشته گنډل یی هم لا
که زخمی شوی د مینا دل دی
« کاظم خان شیدا »

ښبرو سوځه په اور کښی شراب وڅښه
در ته وایم خو د زړونو آزار مکړه
« عبدالرحیم هوتک »

که هزار ځله تقوی پرهیزګاری کړی
شه دې نشته چه مدام دل آزاری کړی
« عبدالرحیم هوتک »

قلب د مومن ګوره ملقب په عرش الله دی
زار ذار زار جوی چه د زړه په بازار بلوسی
« دالپوری حافظ »

چه زړه تور وی دنیا ګلو .. پروا وی
تر و که زړه د سړی یوسی خبرکار
« عبدالرحمن مهمند »

و ګوری واړه کاروبار خپل کا
مردان هغه دی چه کار د بل کا
خو که چه آرام ګټی د شکو نام ګټی
د خو زو زړو نو دارو به تل کا
« خوشحال خټک »

نه سړه سم دی و اړه مړ و نه ! — نه سړه سم دی دهر چا زړو نه
زړه هم هغه ګڼه چه اکــه غرشی — کــه بــا ندې راشی هزار غمو نه
«خوشحال ختک»

مرهم پــه زړه‌بزده یــه‌یر هــارونــه — دا نیا بــه‌ګـل کړی نــادان خارونــه»
یــه هره سوړه لاســونــه مــه منډه — یــکـښ بــه خوب کـا خونی مــارونــه
« خوشحال ختک »

زړه دی دهر چا سره صفا وی — یــه‌چــا ګرم مــه‌شه کــه‌دی رضــاوی
کــه‌څو کـڅ نــاحقه اتا پرخاش کـا — ا ند وه ئې مــکــړه ظفر بــه ستاوی
«خوشحال ختک»

## په‌بدن کښی دزړه اهمیت

زړه په مثل د پا د شاه دی — هــر انــدام د د ه سپا دی
ټول د د ه فــر مــان برداردی — دی بــا دار دوی خد مــتګــار دی
کل ا عضــا یی مسخر د ی — د د ه حــکــم تــه مضطر دی
په فر مــان یــی خــو لــه ویل کړی — لا س نیول ، ستــر ګی کتل کړی
په بد ن کښې ګــو شت پــاره ده — چه ســکو چنو ټې یی جــثــه د ه
چه وی راست شی راست بدن شی — چه فــا سد شی فــا سد تن شــی
پس چه شو صلا ح فسا د: — تمــا می یــه ز ړ ه بنــیــا د
تــه مد ام اصلا ح دزړه کړه — یــه هیڅ و خت غفلت مــکړ ه
ز ړ ه پــه مــثل ګــنجینه ده — د ګــو هر و خز ینه د ه
ډ یر پــکــښې دی جو ا هر — قیــمتی نــفــیــس نــا د ر
ا و ل عقل ښــه ګــو هر دی — د جمله نعمتو ســـر دی
بل ګو هر یی معر فت د ی — ز یــات تر نو ر و په قیمت دی
نور علمو نــه حــکــمتو نــه — و ا ړ ه د ی اوی نعمتو نــه
چه ز ړ ه هســې خز ا نــه ده — د ګو هر و ګنجینه د ه
پس لاز م یی د ه ســا تنه — لــه جمله ؤ غلو ر هز نــه
چه دښمن یی تــا لا نه کــا — جو ا هر یی یغمــا نه کــا
«حبیب الله کاکړ»

چه‌غرقاب‌شی نورمژګان پــه‌نم‌دزړ ه — نورخراب شی خا نمان پــه دزړ ه
عبث‌وای غم دزړه وبو ا لهو س تــه — څه‌پوهیږی هلــکــان پــه غم دزړه
په بل مخ باندې سوا د یا ر له مخه — مــا ترلی دی چشمان محکم دزړه
چه‌یی‌عرش او کرسی لاندې‌ترقدم‌دی — بالا تردی هسې شان قدم دز ړه
دخلیل له کــعبې ۱۰ کـعبه ده اوبه — که‌آباد کــاڅوک ویران‌حرم دزړه
که‌نور خلق قدمونه ز دی په مځکه — مادی ایښی په آسمان قدم دزړه
دامــکــان‌چه‌د آسمان مځکې‌ترمیان‌دی — یو خلوت دی دامــکــان سلم دزړه
زه مرهم دزړه له‌چا غوا ړم بی‌یاره — چه کړی نشی طبیبان مر هم دزړه
صورتی همدان ډیر دی په دنیا کښی — ولې نه مومی رحمان همدم دزړه
«عبدالرحمن مهمند»

(c) ketabton.com: The Digital Library



همیشه په ځای د شکر شکایت کړي!  منکر پېژي په عطا د سبحان و اې !
دربېلي خدای دهر ي چ رې توان دی  په د بر توان کښې خپل ځان بولي نا توان ولي!
زړه د نفس په پیروی در ځځه لا ړو  د خبیث په لاس دې ور کړو قرآن ولي!

« رحمان »

بنګ شراب سرود کوه عبدالقادره!  خو یو مکړه آ زرده د مسلمان زړه

«عبدالقادر»

مرده دل دي له ته ره زړه بیرون کا  یو ساعت په کور کښې نه پرېږدي خوک مړی
جمعیت چه لدنیا په نیا غوا ړی  هغه غړی په معنا د شګو پړی

«عبدالقادر»

هر څوك چه یو کا زړه خوله خپل دوا ړه  دو یم به نیت شي ثابت له واره
که کمي ورغی په دین د نیا کښې  تاوان یی واړه وزما په غاړه

«عبدالقادر»

هغه چه ستادی چه یی سائل نکړي  ویره مې کېږي چه یی دبل نکړي
که دادې خوی دی دادې خصلت دی  خپل به پردی کړي پردی به خپل نکړي

«عبدالقادر»

چه زړه له تا نه دچا به کېږی  به کړه دعا ګټه دعا قبلیږی
ازار د هیچا دا خستو به دي  شپړی د خوږ و زړو نو لګیږی

« خوشحال ختك »

لتو مه ګنج د زړه په ویرانه کښې  پر واڅلر م د شهر په عس

«شمس الدین کاکړ»

زړه ولاړ شو اوښی یو وار پسی ولاړ نی  لکه چېر ته لښکر دروی د سلطان دوست

« مرزا حنان »

زړو نه مه ماتوه لعل د بد خشان دی  بیا مشکل دی ر غول د شکسته ؤ

« خواجه محمد بنګښی »

چه بهتر تر در ګوهر دی هغه زړه دی  چه پراخ تر هر کشور دی هغه زړه دی
مکرم په مخلو قاتو کښې انسان دی  په انسان کښې چه بهتر دی هغه زړه دی
کم یی مه بو له بیحده مشرف دی  چه د خدای باندې نظر دی هغه زړه دی
دمکې حج خو موقوف په یوه وخت دی  چه مدام حج اکبر دی هغه زړه دی
که هر څو یی صفت وکړم څه به وکړم  چه تر حد صفت بهر دی هغه زړه دی
د زړه شان خو یو بیحده عالی شان دی  چه تر ډېر خوبو خوبتر دی هغه زړه دی
سرچشمه د معرفت د لوی دریاب دی  چه محل د در ګوهر دی هغه زړه دی
څه سیالی به نیشکر ورسره کاندي  چه شیرین تر نیشکر دی هغه زړه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د خولي په وبل حکم دقاضی دی
چه ظاهر وباطن دواړه پري رو ښان دی
هيڅ اشيا يی لـه فتره بيرون نـه دی
زه ئبی به يی ئـن کم هنر بيان کړم

چه مقبول دخدای په در دی هغه زړه دی
چه د ا هـسي بلند لـمر دی هغه زړه دی
چه د درست جهان دفتر دی هغه زړه دی
چه منبع د هر هنر دی هغه زړه دی
« عبدالنبی »

دلجوئـی به دي تمام وګړی و کړی

کـه ته هم د د لجوئی په جستجو ی شـی
« قلندر »

داپند له مانه په زړه کښي ياد کړه
زړو نه د هر چا په احسان ښاد کړه .

نه خو د ي لاس د سـی مر و ت د اد کړه
آز اد بنده کړ ه بند ه آز ا د کړه
« عبدالقادر خټک »

۹ ــ ژبه

ټولا دي تو ره وی که لويه تبه !
ډير ي بلا به د ر خخه وا و ړ ی

تر دا لا بـه ده بد ګـو يه ژ به !
ژبه که بده کـړ ي د پند طا لبه !
« خوشحال خټک »

په‌واك چه نه اری‌په کـام کښي‌ژبه
په بده ژبه ځا ن ځی جهـا ن ځی

که ګـنګک شی ښه دی په لويه تبه
ايما ن لا هم ځی و ا وره طا لبه !
« خوشحال خټک »

خوزه مړی ده کـه خو زه ژ به !
هنر هم دادی کـه دا هـنر اـري

چه خولا پري خپل کـړیزما صاحبه
چـار به دي ټل وی تر سيـا ل غا لبه .
« خوشحال خټک »

که هر خو نېر يي تـر صحبتو نه
لا به يه ژ بـه ډيـر فهم و کـړ ی

عـلـم اد ب لـر ي فصا حتـو نـه
د ژ بي ډ يـر د ی قـبا حتـو نـه
« خوشحال خټک »

ژبه عا دت کـړه په ښه و يلـو
که‌يی عـادت کړي په بد ګـوئـی

چه دي عـا د ت شـی هغه تـر تلو
مخ به دي تور کـا تر ير د و خپلو
« خوشحال خټک »

په مر هم دخوشامند سره‌روغ مشه

هغه زړه‌چه پـکښی تيغ دژبان کښيني
« پير محمد کـا کړ »

په‌مجلس کښي‌دمهرويو څـکه‌زاړی

شمعي هم ځکـا ره کو له بله ژ به
« عبدالله پوپلزی »

هر سـړی چه شی ګـويا لکـه قلم

سر به يی شی له تن جـدا لـکـه قلم
« عبدالله پوپلزی »

درست عالم به داخبره خبردار دی

چه بلبله خپلي ژ بي په قفس کړه
« خوشحال خټک »

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلامت کاروان به تېر کړی له رهزنه
که جرس رنګه نکړي په غوغا ژبه
« ملاجمعه »

که تازی ژبه هر ګوره ښه ده
فارسی هم ډېره په خوند خوږه ده
چا یې پلو دجمال وانه خیست
پښتو لا هسې بکره پرته ده
«خوشحال خټک»

ژبه په تن کښې څه عجائبه ده
صحت هم ژبه ده ژبه هم تبه ده
چه ښه مې ځیر کړ ښه پرې خبر شوم
جنت هم ژبه ده دوزخ هم ژبه ده
«خوشحال خټک»

جنګ دهانې او مزری آسان دی
د خپلې ژبې آفت لا ګران دی
چه خپله ژبه یې په خپل فرمان کړه
هم یې رستم ګڼه هم لا لقمان دی
«خوشحال خټک»

که څوك نېکان دی که څوك بدان دی
په دا دنیا کښې چه په هر شان دی
مه یې ستاینه کړه مه یې غندنه
نه به یې څه کړې چه دخپل ځان دی
« خوشحال خټک»

دهوښیارو ژبه په وی په زړه کښې
راز به نه وایی اشنا وناآشنا نه
لېز اوډېر ویل به نکاندي بې ځایه
هیڅ باطل ویل به نه وایي و چاته
«خوشحال خټک»

ژبه عادت کړه په ښو خبرو
خبرې ښې دي ښه تر شکرو
دخوند مثال یې شکرې وایم
قدری ډېر دی تر مرغلرو
« عبدالقادر »

لکه وړدی له میدان ګوی داځه ژبه
نه یې شي وړدای په تېره کړی شمشېر ګوره
« عبدالحمید مهمند »

که دین دنیا غواړې پرده پوشی کړه
فتنې له خولې پاځی نو خاموشی کړه
که نه خاموش یې نه پرده پوش یې
بیخوده پر یوزه باده نوشی کړه
« خوشحال خټک »

سخی یې مه ګڼه چه نغن یې خوار نه وی
پاتوری مه بوله چه پرې پرهار نه وی
که دانشمند وی تفسیر په یاد لولي
چه ډېر ویل کا دی به هوښیار نه وی
« خوشحال خټک »

ښې خبرې در ګوهر خاموشي مهر
دانا تل ځکه په خوله دغه خاتم ږدی
« عبدالقادر خټک »

د میرو میره دخانو خانه
د جهانبانو جان او جهانه
دا رنګ لوی به هاله روزی کړی
که وي نېکښته او نېك زبانه
«عبدالقادر خټک»

بحر خاموش دی سیلاب غرغر لری
سیلاب تش لاس دی سیند لمن پر لری

دسیلاب گټه دکانړو دکه ده
بحر په گېډه کښی قیمتی در لری

«عبدالقادر ختک»

لهخامی جوش وخروش خپژی لهدېگه
دی له خیلي پختگی پختگان چپ

په ابو بهدي ډیوه شی دمراد بـله
کهصدفغوندي پهصبر کړي دهان چپ

چه دانه پهخاورو پټه شی خوشهشی
په گو گل دننه وساته ارمان چپ

دبلبلو ناري پڅي نـدی پر گلو
چه پهسر ولمبو کښی سوځی پتنگان چپ

لکه کاه اوکهربا چه سره بولی
هسي پټهخوله بلل کاندي یاران چپ

«عبدالحمید مهمند»

سپین ویل دحق کـوه عبدالحمیده!
کهپه ژبه اویزان شي لکه صبح

«عبدالحمید مهمند»

تماشا دزماني کـوه عظیمه!
مه له خولي نهخه وباسه مهخه وایه

«عبدالعظیم رانړیزی»

صافدلان له گفتگو په خفه کـېږی
شی نفس دآئینی پرمخ غبار سخت

«مرزا حنان»

۱۰ اخلاص:

گوره څه بلند مقام دی د اخلاص
چه جهان واړه غلام دی داخلاص

کهله ځمکې نه اسمان تهخاته گران دی
د اسفر په پوه گام دی داخلاص

چه خبر کا مخلصان له علم غیبه
داهمه واړه الهام دی د اخلاص

در واج د رسم عمر مدام نه وی
لکه عمر چه مدام دی داخلاص

بی اخلاصه حلاوت د اسلام نشته
که اسلام دی خو اسلام دی داخلاص

څهعجب دی کهمستان وی تري چاپېره
هرساقی څخه چه جام دی د اخلاص

څه عجب دی که همای په دام نښلی
هر صیاد څخه چه دام دی د اخلاص

درحمان کلام په داسبب شیرین دی
چهپی هر کلام کلام دی د اخلاص

« عبدالرحمان مهمند »

هرباغی بوزي بنده کاندي اخلاص
هر بی شرم شرمنده کاندي اخلاص

آب وتاب پی عالمگیر لکه افتاب شی
هرجبین چه تابنده کاندي اخلاص

هیڅ پروایی دحیوان په اوبو نهشی
هغه ژوی چه ژنده کاندي اخلاص

هیڅ مقراض پی غوڅولی په خوله نهشی
هرپیوند چه پائنده کاندي اخلاص

هغه کار چه سحر کر کاندي پهسحر
ترهغهپی خوچنده کاندي اخلاص

سمد لاسه ژوند کافر دلو کاا و
واسلام ته خواهنده کاندي اخلاص

دنفاق له اهله ځان ژغوره حمیده!
پهلباس بهدي گنده کاندي اخلاص

« عبدالحمید مهمند »

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر یاغی او هر سرشوخه هر بې شرمه — همه واړه شکسته کاندي اخلاص
په نیکو نوم به عالمګیر لکه افتاب شي — مغه څوك چه همیشه کاندي اخلاص
د نفاق د شپې تیاره به رڼا ورخ کا — چه سحر غوندي خنده کاندي اخلاص
که بې پښو لره راشي ملامت یم — که انسان له درنده کاندي اخلاص

« شمس الدین کاکړ »

## ۱۱ ــ راز ساتل :

چه بل خبر کړي د زړه د راز په — هوښیار په څه پې و ماته وایه !
هرچه هوښیار دی هنر یې دادی — خبره نه کا چا ته بې ځایه

« خوشحال خټك »

د باد شاهانو په راز خبر مه شه — که پرې خبر شي ځان ته غاور مه شه
رازیې د زړه په صندوق کښې وساته — په ښکاره ول یې چاته لر بر مه شه

« خوشحال خټك »

که چاته و کړي د زړه خبره — تا کبد پرې و کړي چه وبې نغره
که دی خپل ځوی وی ګمان پرې مه کړه — چه به یې نه کا چا ته ظاهره

« خوشحال خټك »

که پېځایه زر کې نه وښکي آواز — نه صبا د ځنې خبرو ، نه شهباز
سکه لیه دې خبرې هسې معلومیږي — چه خپل صوت دی هر سړی له غماز
د منصور وحال ته ګوره حال ئې څه شو — خدای دې فاش د هیچا نه کاندي پټ راز
در پغه د ر پغه که وروستي عقل دومي وای — دانجام خبري نه شی په آغاز
چه منکر پري اعتراض کولی نه شي — دا د شعر دی رحمانه ! که اعجاز

«عبدالرحمان مهمند»

ته چه مایو ښتي دیار له حقیقته — څوك دیار خبري کاندي واغیار ته

«عبدالرحمان مهمند»

خاص خلوت د ښکلیو عام په وخت دخط شي — کم فوت سړی له هرچا سره راز کا

« عبدالحمید مهمند »

ځای به ځای په ستا د مال حساب کاوه شي — خپل اسباب د کاله مه ښیه مزدور ته

«عبدالعظیم رانړیزی»

هوښیار به هر کله زمانه سازوی — په دانائی به یې د کار اغاز وی
نادان به هیچیری په داخبر نه وی — په هرهر کار به یې بېځایه راز وی

« خوشحال خټك »

زړه بېځایه مه را باسه و بازار ته — وایه نشی په کو څو دخلوت راز

«عبدالله بویلزی»

منصوز راز ظاهر او سوئی ته وخوت — د خلا خبري کله په ملا شي ؟

« دالپوري حافظ »

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲– زر:

اوس پەدا دور ماولیدل خوازه دی
نورو چار وو ته څه کوري دا گوره
څکه څه چه د آسمان ښایست پەزردی
شاهزاده بی زرو گوښی تنها گرځی
زور، قوت، حرمت هوري د رومی چەزروی
هر مراد چەدسړی وی په دنیا کښې

تر پدر تر برا در تر پسر زر
چه صاحب د مسلمان کا کافر زر
ستوری زردی آفتاب زردی قمر زر
دهندو سره روان کا لښکر زر
د پادشاه پەسر څوك کښېږدی افسر زر
د طلب په وخت یی ور کا در بر زر
«خوشحال خټك»

په خالی کیسه به نرسی تر کامه

څه حاصل که بوعلی شی په قصو!
«خوشحال خټك»

کەهر څومشکل کارونه درته پیښ شی
ماچه والیده خوازه دی پدنیا کښې

فکر مکره چه آسان به په زر نشی
خوسړی دې یی په مینه کا فرنشی
«خوشحال خټك»

کەپښتوی پەاوریخ کښې هم ترمیاشتی امر تیری کا

همه عالم خبر دی چەزر ښەدی لەدرمه
«خوشحال خټك»

زردیچه ز یرمه د ننگ وشرم کا
دیر گران کارونه په زر آسان شی

صحبت د هرچا و بله گرم کا
زر په فولاد کښېږدی فولاد هم نرم کا
«خوشحال خټك»

زردې هرچاته اعجاز معلوم کا
وینځه میرمن کا خادم مخدوم کا

معدوم موجود کا موجود معدوم کا
زر په سندان کښېږدی سندان هم موم کا
«خوشحال خټك»

بادشاهان ښەدی پەخوانو زر ښندی
زرسردا دواړه تو گو دیر گران دی

خوانان پرې ښه کا چەورته سر ښندی
یو یوی و ښندی نەیی هر یو ښندی
«خوشحال خټك»

زر په بده ورځ په کار وی
دزر دار بلا په زرو
چه سپروی گذار په سپر شی

هوښیار څکه ساتی زر
د نادار بلا په سر
چه سپر نه وی لاس شی سپر
«خوشحال خټك»

چاوماته نصیحت کړ چه زر ښه دی
چەپه کور کښې خزانې لری دزرو
هر بادشاه چه خزانه ور څخه نەوی
هر سړی چه په نام لوی پەدولت کم وی
پەمثال یی دهغې مرغۍ مثال کړه
گوره مادهغه څر نگې ځواب ور کړ
ماوې مرد لره خونام بویه نادانه

تو اول به کا دزرو چه خبر دی
هغه کس که یك تنهادی زورور دی
عاقبت ورڅخه تار پتار لښکردی
په معنا بدر نگه ښځه سیین خادردی
چه سینه یی کشاده تن یی لاغردی
پرې په بوهشی هر سړی چەدا نشوردی
نه دزرو تولول چه بد هنر دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



که هندوخخه انبار انبار مهران وی     په مهرانو به ښه نه شی مختصر دی
که په خره باندې دزروصندق بار کړی     خر به هیځ پدا ښه نشی خر خوخر دی
چه هنر یی دلویی وینو یه لاس کښې     دهغه وجود پارس شو واړه زر دی
«خوشحال خټک»

ځکه نوم یی دزهب وربا ندې کښېږود     چه دباد غوندې هردم کا گذرزر
«عبدالقادر»

که زده سخی اری چه مال یی نه وی     په ځان مې ولید څه حال یی نه وی
که باز داواړه هنر د ښکار لری     ښکار به په څه کوی چه بال یی نه وی
«خوشحال خټک»

## ددولت اهمیت

ژبه هم ښه وینا کاندې چه یی وینه     دخاوند په لاس کښې زراو درهمونه
ژبور ور له ورځی وینا یی اوری     ددرهم خاوندان تلوی په ویاړونه
که درهم یی ځنی ورك شو شی نتلی     پر ژبې یی وی په خړو پیژ ندونه
که بیاى سونی (۱) وبولی خلق وایی     داوینا ده رښتیا ینه له رښتو نه
که بې وزلې ووایی ر ښتیا خبره     نور خووایی دخوسونی دی تیرونه
هو، درهم ښندی هرچا له لویه برخه     ددرهم دخاوند هرځای پرتمونه
درهم ژبه ده که خوك ژبور کېږی
ده وسله که خوك په کاندې قتالونه
«ابو محمد هاشم ابن زید السروانی البستی المتوفی ۳۰۰ هـ»

چه نیستګاره شی که ځوی داحمدشاه نی     ترتازیات په دبدبه دی تا کرداس
«عبدالله یوپلزی»

❀ ❀ ❀

۱۳ ـ خپل قام :

هرسردار چه دخپل قوم دبدو خیال کا     آئینه دې دخپل ځان حال دجمال (۲) کا
پرې کوی ترخپلو ښو لاندې ښاخونه     چه بدی دخپل عزیز په زړه نهال کا
عاقبت هغه سردار شی مردار پاتی     چه یی نفس دخپل بدوته لپوال کا
چه دبل و سرو مال وته هوس کا     ترهغه پخوا به ورك خپل سرومال کا
هم هغه به پکښې پربوځی دامتل دی؛     چه وبل وته کوهی کښی وبال کا
دهغو په خونه پیښ جنګ وقتال شی     چه هوس دچا دجنګ و دقتال کا
چه له خپلو لاس و پښو شی بیمجاله     له غنیم سره به جنګ په کوم مجال کا
په پردو مړانه نه کېږی بی خپلو     له لحده دا اراز جمال جلال (۲) کا
چه تر خپله حده ښه غزوی وړاندې     زمانه به یی جمال غوندې پایمال کا
پردی نجوره هیچا نده خپله کړې     بلکه خپله به پرې بایلی چه دا خیال کا
« عبدالحمید مهمند»

---

(۱) لغات : سونی : دروغ

(۲) جلال اوجمال · دوه نوموتوته اشارت دی · «خادم»

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۴ ـ وطن :

دوطن ونې چندن اګر دی    خاوري یې واړه مشک و عنبر دی
که سرای ونورو وته سنګر دی    کاڼي یې ماڼه واړه سره زره دی

« خوشحال ختك »

درزی لا ګز لری مقراض سوزن لری    یو جمدر ګوټی خو شحال خبرن لری
کوچ یې اسان دی مشکل هیڅ ندی    غم دیارا نو درد د وطن لری

« خو شحال ختك »

هغه ورځ دهجر غم لره سرا شوم    چه له یاره په ژړا ژړا جدا شوم
ماهله ماتم دځان و کړ په وینو    چه اتلك وته مي شاشو په ژړا شوم
اوس په څه دوطن کاڼي بوټي ژاړم    درخصت سلام مي کړی تري جدا شوم
یو ناوك مي په دل لك راووړله کوره    زاروجارمي دباغ ونه کړ خطا شوم
په محنت مي یو رباض جوړ کړ په دهر    لا مي ګل بوی کړی نه ځني سوا شوم
شین فلك په خنداسور شو له هوسه    چه هوړی جبل په مخزه ورته شاشوم
یو پاړو په د کن نشبه چه مي دم کا    ګرفتار په کنج و کاو داژ دهاشوم

« اشرف خان هجری »

## د وطن په یاد

ستا دعشق له وینو ډك شو ځیګرونه    ستا په لاره کښي بائیلي ځلمي سرونه
تاته را شمه زړ ګی زما فارغ شي    بي له تاه ي اندیښني دزړه مارونه
که هر څو مي دد نیا ملکونه ډیر شي    زما هېر نشي داستا ښکلي باغو نه
د ډیلي تخت هېروم په چه را یاد کړم    زه د خیلې پښتو نخوا دغرو سرو نه
در قیب د ژوند متاع به تار پتار کړی    چه په تورو پښتا نه کا ګذارونه
د «فرید» د «حمید» (۱) دور به بیا راشي    چه زه و کاندم په هرلوری تاختو نه
که تمامه دنیا یو خوا ته بل خوا یې    زما خوښ دی ستا خالي تش د ګرونه

(احمد شاه بابا)

خوار غریب او بېنوا وای    خوو طنه ! ستا په خوا وای
وا ته غواړ مه له هنده    چه وطن بسر خه زما وای
خو ژوندی یمه تر مر ګه    هم هاغه آب و هوا وای
مېشته خو ښ یم په وطن کښې    نه چه هند واړه زما وای
نه دي هند شی نه دي روم شي    هما غه بېد بېد یا وای
چېرها ر کښې کلا شیخ وای    رزق الله او مشغو لا وای

« خواجه رزق الله »

بی وطنه نها پروت یم په غربت کښې    نن له ماسره همدم د صنم غم دی
دهوا داشنا په ستر ګو لیده نشي    که په خوب را ته حاضر شي بس کرم دی
قاصدان له روهه راتله مدت شو    سلام بادرا رسوی منت یې تم دی

« اشرف خان هجری »

---

( ۱ ) فرید : شیرشاه سوری · حمید : سلطان حمید لودین

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېغلې جونه دې زلفې باد ته نیسي

څو به فخر د کشمیر په دوشالو کړي

نسیمه ور شه د « سرای » سواد ته
سلام م وکړه په دواړه لاسه

که گذر به خیر ابادو کړې نسیمه !
په وار وار سلام زما ورته عرضه کړه
ابا سیند وته ناره وکړه په زوره
گوندې وي چه پیامې ستاسې جام روزي شي
چه سرې اوبه دغره نشته په هند کښې
خدایه زړه مې په وصال دهغه خوښ کړې
همیشه به په هند نه اوسي خوشحاله

نورجهان سقر شو با ندې سرای دارالقرار دی

دخوشحال دزړه خوښي نشي بې سرایه

دهواد یاران مې هر زمان یادېږي

ښه په هند کښې چنبا گل دی
دسرای قدر نور چا نه زده

درزي لا گزلري بیاني سوزن لري
کوچ يې آسان دی مشکل هېڅ نه دی

## ۱۵ ـ مسلماني :

په دا دوه حرفه مسلماني ده
چه يې اوس به تولو نه مرېږي

چه نه پسندي په خپل ځان هغه مه پسنده په بل ځان
نیکانو سره زیست روزگار په مهر ومحبت کړه

په قوت به داسلام کړي

چه شمال یې بوی راوړی په رنتمبور (۱) کښې
« اشرف خان هجري »
څو به خیال کړي په اطلسو دفرنگ
« پیر محمد کاکړ »
له هغه په افضل آبا د ته
د رو د پوارو گل و شمشا د ته
« کاظم خان شیدا »
یادې کېږي و شي د «سرای» دسیند په سیمه
ور سره زما د لوري څو تسلیمه
و لندۍ ته و ینا و وایه حلیمه !
په گنگا جمنا به نه وو له قدیمه
تري توبه که واړه دك وي له نعیمه
داچه اوس ورځني لرې دی دوه نیمه
عاقبت به عاصي ووزي له جحیمه
« خوشحال خټك »
کله به خوشحال دارالقرار لره ورد رومي
« خوشحال خټك »
خپل وطن يې په هرچا باندې کشمیر کړ
« خوشحال خټك »
چه ني مخ په خوب کې وونم ویاړم
«خوشحال خټك»
تر دا گل د وطن خار ښه
په خوشحال دی ترفر خار ښه
« خوشحال خټك »
په جهدر گوتې خوشحال خبرن لري
غم دیارانو درد دو طن لري
« خوشحال خټك »

هرچه نه پسندي په ځان په چا مه پسنده
همدا خپل دولت بس و کایه تا شنده
« عبدالقادر خټك »
همداده که ته يې گوري په صحی مسلماني
بدانو سره زیست روزگار هم بویه لساني
«خوشحال خټك»
د کفار انکار غارت
« دولت لواني »

---

( ۱ ) رنتمبور دیو ځای نوم دی چه شاعر هلته بندي و « خادم »

دمسلم نښانه داده که یې و پښې — چه اول په شریعت دې استوار شي

« مرزا خان انصاري »

په مسلمو کښې خاصه مسلم هغه دی — چه یې وشلاوه زنار ددې دنیا

« عبدالرحمان مهمند »

## ۱٦ ـ آزادي :

وهرچاوته چه وگورم فریاد کا! — بوزه نه یم د جهان دی سیني خوزي

په جهان بههیڅوك نهوی چه آزاد وی — ځني عشق اندوبنده کړه ځني لوږي

عقل وهوښ یې ورېی وته پیدا کړ — داچېچل دامل دېرانگ دی یادیږي

«خوشحال ختټك»

چهسري شرومبي یې چښم پهوخت داوړی — بادشاهی داورنگ زیب زماه غړکه

« خوشحال ختټك »

دحاتم دسخاوت خبري مهکړه — لا په دا کښې هم د طمع نښا نه ده

« خوشحال ختټك »

کهیې تهپه منت موږی وایی مخلهه — کهدچاپهباغ کښې بوټی دکیمیاوی

« خوشحال ختټك »

دمغل منصب مي پرېښودهسي خوښ یم — لکهخلاص داویه بنده بند یوان شي

دانا دره عقیده لکه زما ده ! — لاعجب کهبل پیدا هسي افغان شي

دمغل وتهبههسې کار بنکاره کړم — چهراضي راځني روح دفریدخان شي

آزادي تر باد شاهی لا تیرې کا — چهبل د حکم لاندی شي زندان شي

« خوشحال ختټك »

چهنوکري کاڅوك ډېر گنده کا — سړی ازاد وی خپل ځان بنده کا

تر آزا دی نه بهتر هیڅ نشته — چهڅوك په کور کښې خپله دنده کا

« خوشحال ختټك »

طمع پلاده اصیل بنده کا ! — بیه بیه سړی وی دائی گنده کا

ماډېر لیدلی دی چهطمع نه لري — په بادشاهانو پوري خنده کا

«خوشحال ختټك»

لکه ونه مستقیم په خپل مکان یم — کهخزان را باندي را شي که بهار

«رحمان بابا »

که دعقل څه اثر لري و سر ته — لاس پهسرمشه دهر گیدی ودرته

پهنظر دهغو خاوره سره زر کیږي — هرچه نه لري نظر و سیم و زرته

بی منته جام دزهرو ښکلی ښه دی — نه هغه چه منت بارشی و کو ثرته

دیوسف له حاله زده که دغه پسه — وایه حال د ز ماني وبرا درته

دی فلك و چاته هیڅ بخښلی نه دی — چه یې نه دی را پیرودی ځني بیرته

که له خدایه دوې خلقووته مخ شي — له فردوسه بهدې مخ شي و سقرته

همیشه به در په در گرزی ر ټلی — داستو گنې ځای بهبیانه موږی چرته

ددې سست بدن منت پهرحمان باندې — چهله خپله دره ټلی نه شي بل درته

«عبدالرحمن مهمند»

روهي گلفونه : ( ۵۲۵ ) ب سردار محمد ح عبیدالله ر محمد امین ن رجب علي : ه اجزائه وپښتو ټولنه لیبل ۱۹ - ۱ - ۳٦ ع

زندګي که څوك يوهېږي حضورده دی　　آينده و رفته کله دچا ياد وی
« عبدالرحمان مهمند »

نه خوښی کړم داحق سري دمه دحي　　نه مې رده مومی اندوه دده له ذمه
دزلفېنو تور حلقو دي عذار و ېنم　　که نسرين دي دی په زلفو کښې صنمه
« عبدالقادر »

چه مې شاکړه وېنا دېوو ته ښاد شوم　　چه د زړه مرادمې پرېښود په مراد شوم
اوس څه غم نکړم له غمه بې غم ګرزم　　راضی من چه دازل دويش په داد شوم
چه مې طمع ددنيا ور څخې نري کړه　　هغه کس که کيکاوس زه کيقباد شوم
ځان بازېد ولی کاروندېز يد کا　　له شېخانو ځکه زه بې اعتقاد شوم
خدای مې بيا په کښې بندی مه کړه تر مر که　　احتياج عظيم زندان وه تري آزاد شوم
هم يی ځان له غمه خلاص کړهم نيکنام شو　　دپرمين په وروستني ضرب دفرهاد شوم
بادی بوی عبدالقادره سحر راوړ　　شګفته لکه غنچه په دغه باد شوم
« عبدالقادر خټک »

چه خوښ له ګمه دلګيرله خاره دی　　عشق له دو بيننه بې اعتباره دی
نه شکايت کړم لچا ، نه شکر　　در دمی ا ه ياره در ېمان له ياره دی
« عبدالقادر خټك »

له بېخونده آزا دی شو سه دسر وي　　د ګنې پخير پخو بنده بندی بيا
« عبدالحميد مهمند »

وزی تنزی پروت بخپل پوز کی ښه ني .　　نه په تخت دپاسه ناست دبل کړه
دمنت پولاو دي زهرشه ! کي مومی :　　دمحنت سوی سکرك له سا کټ سره
« عبدالحميد مهمند »

تخت وتاج ته به سر کوز د همت نه کا　　چه په داد ددهر يوه آزاده مرد وی
« اشرف خان هجری »

دافقير دولت په مرګه هسي هوس کا　　لکه سپړی مسافر وخپل وطن ته
زينهار حلت په هسی ساعت ور کړه　　چه دنيا وريانې نه وی و کفن ته
« دولت لوانی »

آزادی او کارو بار دی سره اېری　　لاس له کار وباره وباسه که کار کړي
« عبدالرحمان مهمند »

هر ګدای چه آزا دهوی تري قربان شه　　باد شاه ن دشام دروم که دختن وی
ماتول دبت آسان دی مرد هغه دی ·　　چه مشغول دخپل وجود په شکستن وی
« عبدالقادر خټك »

١٧ _ انسانيت :

پوي اصل سره دوه او يامند هبه　　خدايه څه بنی آدم فريق فرين شو
« خوشحال خټك »

خلق ناديده دي په خبر و پسې تللي  جار تر عارفانو چه په حال دي پوهيدلي
دوه او يا مذهبه پکښې هر يوه قيل وقال  وايه سر هوا په خپل مطلب پسې دي تللي
د پردي کتابونه مشتمل په دپرش حرفونه  کل وايه که گوري له الفه دي څوولي
سل پسې سل سيبه چه يې مات په يوه ځای کړي  سل به پلل نه شي سره يو دي ماليدلي
وايه نور ثمر دي هم دننه هم دباندي  هر چېرته دانور دي په هر ښهر په هر کلي
زه خوشحال خټك يم درندانو په مذهب کښې  نور ويل مې نه زده مختصر مې دي ويلي
« خوشحال خټك »

ب : بابېزه خويونه

۱ ـ بدعادات :

عادت لاړ شي عادت له سري نه  خداى دي نه کاندي په بد چار عادت څوك
« عبدالرحمان مهمند »
همېشه وي نرم چوب غذا د کرم  شيدا مشه مرد خالي له سياسته
« کاظم خان شيدا »
سترگي به سوزي دخس له نامردانو  که همه لکه اېري آتش نسب وي
« کاظم خان شيدا »

۲ ـ بې پته خويونه :

پو چه ډېر خوري سوگند و نه  بل چه ډېر کاندي پور و نه
آشنائي ور سره کمره  دا بې پته دي خويونه
« خوشحال خټك »

۳ ـ کوزتيا :

تر هر څه بد د کجئي خطر دی !  کجي به نه کا چه دانشور دی
الف چه سم شي کجي يې نشته  ځکه تر نورو حروفونو بر دی
« عبدالقادر خټك »

٤ ـ بدنيتي :

چه د بل په نامرادي کښې مراد غواړي  دا سبب گڼه د خپلي نامرادي
« عبدالحميد مهمند »

۵ ـ بدگوئي :

چواړی د حلال خور په نامه بولي  له بدو خلقو بدگوئي نده ممکنه
ته چه بد له خلقو وائي زه و پرهېزم  چېري خپله بدي نکړي معينه
له هغو نه به رومبي ستا عيب څرگند شي  چه هر چا و ته دې کړېده خندنه
« عبدالرحمان مهمند »
مه پرچا غيبت تهمت وايه مه نښله  مه د بد نامه په هيڅ بڼى آدم زده
« دولت لواني »

٦ ـ بېکاري :

د جمله بلاؤ سرتن اساني ده … لټ غوبي شي خرڅاوه په قصابانو
فراغت د بېغمي په ملت کښ شته … څه امید د بېغمي کړي ظالمانو !
« عبدالحمید مهمند »

٧ ـ ډېراحتیاط :

کل وسواس له احتیاطه پیدا کېږي … زه له ډېري هوښیاري نه لېوني شوم
« عبدالرحمان مهمند »

٨ ـ تذبذب :

کمال د کفر تر ناقص دین ښه دی … یا درست ګمان ښه دی یا درست یقین ښه دی
چه کلمه د اشي کمه هغه شي … دا ناته کلمه مذبذبین ښه دی
« خوشحال خټک »

٩ ـ شخصیات :

د زړه غلا په زړه کښ غم ده … لا په تېره د سردار
هر سردار چه په زړه غل شي … ځان رسوا کا خلق خوار
« خوشحال خټک »

١٠ ـ ظلم :

باز چه وینی د ځیګر خوري مرګ یې زروی … له دي وینو ځان ساته زما ځیګره !
که تر خه دی هم شراب د قهر نغره … ظلم وجور په چا مکړه ځیګر وره
« عبدالقادر خټک »

چه بېهوشي ډېره ګېره پسې نر بېلی … ډېر په ظلم کښ خوک مه کوه ګبر ګوره
ماشي مر کاندي هاتي چه سره تول شي … په یوه وجود یې کښ مه کېږه ډېر ګوره
لږي لږي او به تولي شي ملک وران کا … په لږ جبر چېري نه شي دلبر ګوره
« عبدالحمید مهمند »

باز کرګس شاهین جوړه تري په هوا شول … چه ثابت د عندلیب شو په ګلعذار حق
بلبلان طوطیان د فکر په تال ځانګی … خدای کړ پوره ا دي باغه دمانار حق
« عبدالعظیم رانیزی »

خدای دي نکا چا ته وازی د آزار خولې … دغه خوله ده په آزار کښ دښا مار خولې
په ګر کښ بخته برج هسې میدان کړي … یا تو بو بدی خولې دی یا دو یاله خولې
د یوې خولې له آزاره وو پېر پېرزه … که پېمن دي دعا کا نه دي هزار خولې
چه پېري راشي د مظلوم د آه سېلی … کاله خاو رو ایرو ډکې د مدار خولې
چه قوصر د آه سر دور باندي لګي … ور به نشي د هغه چا د بهار خولې
چه اثر د مسیحا لري پدم کښ … خوز وي دي هغه خلق په ګفتار خولې
ورخ به شي د غم شپه بهغه خلقو … چه پیاب بي بد دعا که هر سحار خولې
« عبدالحمید مهمند »

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه داغی یې سپین بشر په اور د ظلم
د مومن د زړه آزار د خدای آزار دی
چه نهال د ظلم کېږدی ځمکې لاړ شی
آزادی که دي پکار ده شمس الدینه !

هسې خوښ د ظالمی په کار و لاړ دی

ر سېد لی تر مطلبه په خود نه یې

په لاس مه شه باز پرور د ظالمانو
هم آزار دی پېغمبر د ظالمانو
تریخ تر زهرو شی ثمر د ظالمانو
له مجلسه کړه حذر د ظالمانو
« شمس الدین کاکړ »
نه به وایې مرګ یې نشته تل به ژوی
« خوشحال خټك »
چه خوړی د د مظلومو د سر وینې
« عبدالله یوبلزی »

## ۱۱ قهر :

ما نی مه کوه حنا نه صبر بو یه

همېشه غوټه جبین یې ډك له کینه

د جهان کینې غصې واړه تر شا کا
دا پیدا چه خو د بینی ور څخه نشته
په کینه په حسد هېڅ د چا و نشی

جوړ کارونه خشموران کاندي تلوارهم
« مرزا حنان »
له خپلواکو کورو کلي مرور یې !
« ملا جمعه »
که سړی په وخت دقهر مرګ تر زړه کا
د جهان ننداري ځکه دوه ایمه کا
هر سړی چه حسد کاندی ځان او به کا
« خوشحال خټك »

## ۱۲ ـ تعجیل :

دانا وران کارونه جوړ په دانائی کا

په هنر هنر خبري کړه دلبره

په تعجیل سره نادان کاندي هم کار کج
« عبدالقادر خټك »
تېزی مه کوه په هېڅ کار کښې د سره
« عبدالله یوبزی »

## ۱۳ ـ حرص :

په غم د نورو و غم ته ساز مه شې
سړی په طمعه د بل بنده شی

سېك و عالم ته به خپل آو از مه شې
د عا به دا کړم اخته په آز مه شې
« خوشحال خټك »

## ۱٤ ـ کبر غرور :

دغه زور به چلوې تر کو مه پورې
تا چه تېز تېزه سمند د خود را یې

چه کمال غواړی په کبر احمقان دی
سبره ! هېڅ به تېږو و نو لو یې مکړه

چه یوازې دي په ځان تمام جهان خوړ
ما دا ستا دیر بواته هله ارمان خوړ
« عبدالحمید مهمند »
په پلیتو اوبو نه کېږی او د س
ستا به هم دغه قامت کاندي روزګار کج
« عبدالقادر خټك »

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ١٥ ــ بېوفائی :

چه یې نه وینې وفا به رنګ وبوی کښې
زر که څرګه مینه نه کا و ګلزار ته
« عبدالحمید مهمند »

چه نه ننګ لري نه شرم مه یې غواړه
تو به و کا زه له یاره د بېوفا
« مرزا حنان »

که یې اوی دزړه به وینو لکه ګل کړي
هم هغه به یې زړه در کاندي شنه تنا نده
« عبدالقادر خټک »

### ١٦ ــ طمع :

څوك چه طمع له چا کا به حقیقت کښې
که بادشاه د درست جهان شي لا ګدا دي
« خوشحال خټک »

نه دی نفس لره جلب د ور کړو لو
نور قیدونه و اړه سهل د ی حمیده !
امو ختنه در باندي غل او کا سیر مشه
خو به غاړه دي د طمع زنځیر مشه
« عبدالحمید مهمند »

له هغو ترخه ویل شي د حق پاتي
چه یه خوله کاندي خوږه حلو اد طمع
« عبدالحمید مهمند »

سړی توب به دي سپیتوب کاندي دا طمع
هسي چاري به حرص در باندي و کا
عزت و سا ته به صبر که دا نا یسي
چه به هیڅا شوې نه وی بیا به وا یسي
« عبدالحمید مهمند »

کهدي زړه وی چه بلای شي طمعه پرېږده !
څو دي طمعه چاته شته توا نګر نه یسي
« عبدالقادر خټک »

که یاس له حقه تحقیق حرام دی
اصیل بنده کا خلاص شو ی بند کا
یاس له مخلوقه د حق انعام دی
طمعه له خلقو د خلقو دام دی
« عبدالقادر خټک »

شرموی هر یو سړی د دنیا طمع
همت ناك سړي که خوار وی دولتمن دی
د هغه د شرم بوزه یه مخ نه وی
لکه څوك اوبې یه خپله حیا کا ندي
لکه یو سپی چه هیڅ ښتی اسل هغې
د هغو د عزت پښه د ه بنو نیدا سي
تل دخواست لاس به یې نیولی دی ګوښه کښې
د حاتم د سخا وت خبرې مه مکړه
دسپی توب نامه حاصل کا یه دا طمع
خاشکي ګوره نه کوی له دریا طمع
چه کوی د نس د پاره له چا طمع
هسی ما و ته ښکار پېښږی دا ستا طمع
هسی ده د یو له بل نا صلا طمع
چه به دا زبره اه چا کا ندي بیا طمع
محمدی چه څوك کا بل ته پیدا طمع
لا پیدا کښې هم د طمعی نشانی ده
« خوشحال خټک »

### ١٧ ــ ریا :

در یا عمل مې طوق شو را تر غاړه
لکه خیور شي به څېګر د ستار د چا
« شمس الدین کاکړ »

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۸ ــ بدي :

چه په بدو په رشوت کاندي حکمونه
چه په طمع د دنیا مفتیان فتوی کا

نور مخونه د دوزخ ته قاضیان د رومی
شرمنده به د دوزخ په زندان د رومی
« مطیع الله پیرخیل »

## ج: نصایح

دا همه له نا پوهۍ پیدا کیږي
پیر څو ، ښه سلوك ، نمانځنه ، اوبل عدل
کبر چن حریص بی زده چه دروغ وایی
که وعده یی قیامت وی د غو ښتنې
که طالع یی ددولت په شربت ډك کا

خرخشي دعوي ناساري شر و شور
کله دا خویونه ښته څه غواړي نور
د یاری لایق نه دی دا خلور
دهوښیار سړی به نه وی په کار پور
بیا آخر شی د کم عقل جام نسکور
«خوشحال ختك»

چه دخلقو نیکخواهی لری په زړه کښې
که یی غوږ د دانشمند په صیحت وی
د ناصح په نصیحت به اصلاح نشی
د مردانو په معراج به ور تللی نشی
مختورن د دوارو کونو ندی څه دی
نیکبختان به اندیښنه کاندی د نیکو
په هغه هنر کښې تینګئ او سه خوشحاله

مبارك شه بادشاهی لری په زړه کښې
څه عجبه آگاهی لری په زړه کښې
هر سړی چه تباهی لری په زړه کښې
که دسعی کوتاهی لری په زړه کښې
چه هر چاره سپاهی لری په زړه کښې
گمراهان به گمراهی لری په زړه کښې
هر هنر چه سپاهی لری په زړه کښې
«خوشحال ختك»

په دوستانو تلطف کړه څو په تاشی
د نمانځه تر قضا گران دا قضا ده
نورانی کا هغه ځای چه سره کښېنې
چه په ته تواضع کښې گټه کیږی
که حاتم غواړې کرم کړي د مهرانو
څو بدانو سره بدشی هومره ښه دي
که دي سر ځی که دي مال ځی که دي نورڅه
په ظاهر باطن کفران دنعمت مکړه
که راحت غواړي په ځان محنت قبول کړه
که دارو به خواست موندل شی مه یی آخله
که آسمان دي درمری په خوله کښې ورکا
که ژوندون دی هم هغه دی په جهان کښې

د دښمن سره هم ښه کوه خلقت
چه قضا شی د ځلور و مصلحت
دیرینه ځلور هو ښیار په مشورت
هومره سود نشته دډك طباخ دست
دیوي دمړی په چا مه زده منت
ولي عفوه کرم ډیر لری لذت
استو ار اوسه په کار د رفاقت
هوا خواه اوسه دخپل ولی نعمت
بی محنته هیڅوك نه مومی راحت
که دمرگئ و ته نژدي کاندي زحمت
دزمری په خوله کښې مه ورننوځه هسې
چه یادیږی د سړی د خوی خصلت
«خوشحال ختك»

خپل استاد و ماته ووي څو پندونه
وي چه هره بدی کړه هغه بد مکړه
که دي زړه وی چه بدنه موی له چا نه

هر یو پندی مرغلري دی لا لونه !
چه دلاسه دي آزار شی دچا زړونه
اول ته پرهیز ده د بدو خصلتو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شهوت په غوته مه ځه شهوت اور دی
ته کینه، رخه، حسد له هیڅا مه کړه
د هرچا سره دښو سلوك بایده دی
د دنیا په مال دنیکو نوم حاصل کړه
د هرچا سره نري ملایمت کړه!
خپل پردی ته د خپل راز خبره مه کړه
خوشخوئي هر ګوره ښه ده نه دا هو مره
هغه کار چه په آرمې تر سره کیږي!
و هغو وته چه قهر کړي روا دی!
د هغو په مرګ ثواب ګڼلی بویه
که دښمن دي د پر زبون ته ځني دار کړه
د دښمن په تملق غلطي مه کړه
عاقبت به خپل ورغوی په غاښ پریکا
چه دي لاس په دښمن برشي پرې یې مه ږده
په خپلوانو باندي هو مره خشم مه کړه!
د پادشاه په مهر مینه غلط مه شه!
پادشاهان چه په چا مخ کا د بدي
په هغې معشوقې څه باور د کړو دی
د ښځو پانې خوره نه هغه پاستي
د بدخویه سره هیڅ بدي ته مه کړه!
د کمذات په ښو خبرو غلط مه شه!
په هر کار کښې چه دریښ شي ښه مه کړه
په رښتیا که په دروغوی سوګند مه خوره
د حرص سترګې مړي په قناعت کړه
که هرڅو دي علم ډیر چه عمل نه کړي
دښه دین دپاره علم، دانش ښه دي
په جهان کښې که مردان دی هم هغه دی
چه بدانو سره ښه کړي قباحت دی
عاقبت به ملګیری در ځني بریکا
که دي ورورو ی که دي ځوی وی چه بد کار شو
چه بد فعل، او بد غرض په کوم ځای ناست وی
چه په کالو وی مشران ته یې حرمت کړه
په هغه کور کښې چه ښځه چرګه بانګ کړي
هرچه شرع فرمائي په هغه کار کړه
نیکو کار په فقراؤ خیر خیرات کا
که دي زړه له وینو ډك شي و دښمن ته

پیدا اور د ډیرو سوی دی کورونه
دازل په ورځ مقسوم دی قسمتونه
په بدی کښې څه فایده د کوم سودونه
تل جهان و چاته نه پریږدی مالونه
ګنډي وی چه پداخیل کړي دچاز ډونه
د بخچې دننه ښه دی خپل ر ختونه
چه په باغ کښې دي خر تېزی وهي خرونه
څه حاجت چه رساوه شي تر جنګونه
چه اری دبدو فعل بد خو یونه!
چه پې سوځي له شامته غاړي غرونه
په یوه شجري و سوځي ښا رونه
درستم غوندي هم مړه دی په مکرونه
هر چه کار کا د دښمن په ور مونه
دما رانو په غارمه مښه لاسونه
چه پردی ورځني تېښتي په ملکونه!
زورور په لږ ګناه و هي سرونه!
و سپيندو نوته تړل نه شي بندونه!
چه په هر لودی یاران لري زر ګونه
چه بې خوري دنو کري په خوشر طونه
غلیمان ور له بس دی خپل خو یونه
د ګډ پر؛ ونه خوازه لري ګلونه
په تلوار، سره ورانیږي جوړ کارونه
منافق وی چه ډیر ډیر خوری سوګندونه
چه په کور کښې دي انبار شي نعمتونه
ته حمار یې په تا اېښي کتابونه
نه پیدا چه پسري لوڅې پردي کورونه
چه و سختي و ته و نیسي لاسونه
د بدانو خو هم تور ښه وی مخونه
چه په لاري ترتا تېر دروغي ستاملونه
په خپروی کازه کړه ور مېږو نه
د هغو د ناستې تېښته په کړو هونه!
بیا هغه چه دي په ځای وی لکه ترونه
دهغو خونو نه ځي بر کتونه
مه عمل کوه په ریښتیا دو دونه
هرزه کار په عمارت کاندي خرخونه!
انږو ډیر په زبان مه راوړه عمونه

به هر کار به دي لاس بروي په ځواني کښې
که طاعت که عبادت که نور کارونه

په ځوانۍ کښې چه د کار تلاسه ووزي
په پیرۍ به دي ونه رسي لاسونه

همیشه او سه خو له پته لکه ناوي
چه ضرور شي هاله وکړه دوه حرفونه

سر هغه به هنا معقول په جهان څوک وي
چه همیش په خنداسیږي اري غاښونه

که خبره که خندا کړي ځکي ځکي !
هره چار تر حساب مه کوه بیرونه

که دي زړه وي چه پټ عیب دي ښکاره نه شي
چاته مه شماره د خلقو پټ عیبونه

که له تا نه په قوت دمټو زیات وي
له هغه سره حجت مه کړه بحثونه

چه توانیږي دهغې خبرې لاف کړه
او که نه په دروغو مه وهه لافونه

چه دښمنو کښې د جنګ خرخشې وي
ته بی غمه خپل هوس کړه خپل ښکارونه

که دي واوریدل چه بیا وبله روغ شول
نور په خپله وسله ووهه لاسونه

چه دښمنونه بتر دي هغه څوک دي !
چه د ښځو سره کا مصلحتونه !

خدای هغه په دواړه کونه دي نما ځلی
چه په ورځ کا عدل وداد په شپه نمځونه

چه دزړه په تمامین دهغو نازو نه
تل نیاز منو سره وړی دی نیاز ونه

داصیل شیوه خپل اصل ته ایاس دی
په زربافو کښې پاڼدم وی پامری و نه

« خوشحال ختک »

په پیری کښې چه هوس دی دناب کړي
بیهوده گمان په صبح د مهتاب کړي

داسته گناه کوي توبه وکاږي
لکه بت هسي په غټو ستر گو خواب کړي

علم و کړي بیاعمل ورباندي نه کړي
لکه طفل هسي لوبې په کتاب کړي

په شپه پروت بی دغمان په میخانه کښې
او د ورځې مخ په لوري د محراب کړي

له خالقه دي نه شرم نه حجاب وي
له رحمان گوښه ونیسي حجاب کړي

« عبدالرحمان مهمند »

کړ د گلو کړه چه سیمه د گلزار شي
اغزی مه کړه په پښو کښې به دې لاړ شي

ته چه بل په غشو ولي هسې بوه شه
چه هم داغشی به ستا په لور گذار شي

کوهی مه کنه دبل سرې په لار کښې
چېرې ستا به د کوهي په غاړه لار شي

ته چه هر چاته په خوار و ستر گو گورې
لا دومبی به ستا صورت تر خاور و خوار شي

آدم زاد په معنی واړه یو صورت دی
هر چه بل آزار وی هغه آزار شي

که نه نه کوی نظر د چا و عیب ته
هر سری به ستا د عیبو پرده دار شي

دمتان کره لوړه مځکه باندی هکا
سر کوزی کوه چه پټ دي مرغزار شي

دمات لوښی او از کله ثابت خېژي
د هر چا عمل خر گند په خپل گفتار شي

واذا حکمتم بین الناس راشه واوره
حق با طل سره جدا کړه معنې نغاره

مدا ماچه لکه باز غو ښې دقام خوری
عاقبت به شي بندی په پښو په غاړه

چوړ وی نوی قصر ونه خبر نه ئې
اې صبا دی ابا دی و ینم و یجاړه

فکر و کړه وخت کوتاه دی وي لو یږي
د دنیا پر لانده باڼ باندي ولاړه !

« مرزا حنان »

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن چه صبح دی رو شانه لار صحیح کا ... ننا ګهیا نه به دا صبح شب تیار شي
لږ ه نیي مه ګڼه هر څو که ګناه لږوی ... چه لږ لږ و سره جمع کړی بسیار شي
که بل بد کا نه دی ته ښه ورسره و کړه ... هر یو نخل چه میوه لری سنګسار شي
تل و ښو و ته آزار د بدو رسي ... هر چنجی و نرم چوب و ته دو چار شي
هغه زده به له طوفانه په امان شي ... چه کشتی غوندی د خلقو بار بردار شي
خدای دي بدله لاسه نه کا او که وی هم ... در حمان دي له کل بد و استغفار شي

« عبدالرحمن مهمند »

اې مدام د بل په کمه روا داره ... نیکی نه کوی بدی لره تیار ه
قدم مږد ه پر عاجز میږی په ظلم ... نه چه دغه پښه دی و مبتلی له مار ه
هر چه ودی صباح بې راودی لږ که ډیروی ... دا چه نن یې پستم اخلی له خوار ه
کبر مه کوه چه کبر پر خدای ښائی ... چه رانده په دا شیطان شو له دربار ه
تکیه مه کوه پر مال فرز ند بې بختهٔ! ... که دې مال که دی فرزند دی ناپکار ه
دا جل صیا د طلب د استاد روح کا ... ته طلب د مال اسباب کړی نا قرار ه
که دا پند د حنان ونیسی په غور کښې ... دی بهتر له هغه ګنجه بې شمار ه

« مرزا حنان »

ډیر به ستا په سبب خواب دراحت وکا ... که دمهد په شان ورك دخان آرام کړی

« شیدا »

پند دی سو دمن واوره تور زنه ... اسا نه نده د سر بند نه
مصلحت مه پر یږده د خپله لاسه ... هم به خپل راز لری د زړه د ننه

« خوشحال خټك »

همیشه وائي چه خدای مې پیږندلي په یکی دی ... که دی خدای وی پیږندلی مینه مکړه په باطله
په خپل حسن غره مه شه که په حسن لکه ګل شی ... زمانه به دی خپره په یو څو ورځي کا زائله

« خوشحال خټك »

د چاوخوان ته خالی کتل مکړه ... که تل دی خوان خوری منت په بل مکړه
چه پری باور نه وی هسی و یل مکړه ... چه مال د بل شی هسی بیا تل مکړه

( خوشحال خټك )

منجم که در ته نحسه ادینه کا ... یا طبیب و تا ته بد ی کا شکر ي
په جمعه به و نمانځه و ته و نوزي ... له شکرو به هم ګرزي اري لري
په قران کښې چه شراب دی منع شوی ... ته یې وایې لکه یې د مور نغري !

« خوشحال خټك »

عاقبت به یې زده ترلاسه کړي حنانه! ... لکه زلفي دنګار تواضع خوی کړه

« مرزا حنان »

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه ځان ژغوری بربنده تېرو تورو    هسې ځېل سرله بېرو دسحر ژغوره!

« عبدالحمید مهمند »

چه ظاهر غوړوی په باطن سپوروی    په ژبه خوږوی په زړه کښې شوروی

ور سره مه کښېنه تا به تباه کا    سپین زر که سپین وی اثر یې توروی

« عبدالقادر خټك »

له همه واړه عالمه صلح کل شه    وښویږو خوشبویی ور کوه ګل شه

تعلق په تېر بد و نی هوس مه کړه    په بهار کښې په زارو لکه بلبل شه

« عبدالقادر خټك »

څوك چه نرم ویل کا عمل یې ګوره    تېګان دم په خوله ویل کا نرم نرم

« خوشحال خټك »

ښتن مومل دی    اوس مویې غل دی    هواد د بل دی

غازیانو ګوری    ښتن مومل دی

توري تېري کړی    د ښن مو پرېکړی    منګلی سري کړی

څله په تښتو    ښتن مومل دی

که تېنګه کړو زړونه    بر بری یو نه    چه زمری یو نه

اسلام راځخه دی    ښتن مومل دی

غازیانو راشی    تول شاؤ خوا شی    دشهاب په ملاشی

دښن موغوځ کی    ښتن مومل دی

« شیخ ملکیار فرشبن ستانه داشعر په یوه غزا کښې چه دسلطان شهاب الدین غوری سره ؤ ، د غازیانو د تودولو دپاره درجز په رقم ویلی دی . »

•••◆◆◆◆•••

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریم باب: پښتو او پښتونوالي

## ۱- میړانه او توره:

مرد به نه شي په ګفتار ... خو پیدا نه کړي کردار
چه دې وښکنځي مرد نه یې ... که له تا نه وي په ډار
چه څه دي خو انتقام دی ... د مردانو کار و بار
عفوه هور ته ځای لري ... چه نه عیب وي نه یې عار
چه عزت ورڅخه نه وي ... هغه مرد نه وي په کار
هم مهره لري هم زهر ... ښه مردان دي لکه مار
چه هم تندر هم باران وي ... تر هغو ځوانانو ځار
مرد به غم د خپل هنر کا ... نه د زر نه د دینار
مرد به غم کا د خپل شرم ... د عزت د اعتبار
نا مرد فخر په نسبت کا ... مرد نه هور لري نه پلار
د خوشحال خبرې ګوره ... لعل و در پیبي په تار

«خوشحال خټك»

یا د سپینې توري مرد شه یا عاشق شه ... چه یا د پښتو په ببد لو په سندرو
د خوشحال خټك خوښي په هغه وخت وي ... چه بر ښنا د سپینو تورو شي د زغرو

«خوشحال خټك»

د نامرد، د مرد په دا تفاوت وشو ... په نامرد، شرم آسان دی په مرد ګران دی
مست هاتیان خوني زمري توري وښکلي ... که د سر وبره دي نه شي کار آسان دی
کاشکي تـه په دا دنیا همیشه پا یې ... په احتیاط احتیاط کښې ډېر خلق طوفان دی
که د ځان که د ایمان بدخواهي ډېر دي ... ما په خدای باندې سپارلی ځان ایمان دی
ننګیالي چه د اخلاص توره په لاس کا ... ډېر لښکري د همت پوري کاروان دی
په ښادي سره شریك دي اولسونه ... غم یوازې د خوشحال خټك په ځان دی

«خوشحال خټك»

مور دي نه شي با ندې بوره ... چه میړه و نه د ککار زار دي
خوك چه شته تر شر قه غـر بـه ... د تورزنو خه متکار دي

«خوشحال خټك»

د درست پښتون تر قندهاره تر اټکه ... سره یو د ننګ په کار پټ و آشکار
په داهسې وخت، چه وخت د نام و ننګ دی ... دا بې ننګه پښتانه کا څه رفتار
پښتانه چه نور څه فکر کا ناپوه دي ... بې د توري خلاصي نشته په بل کار
تر مغلو پښتانه په توره ښه دي ... که په پوهه پښتانه وای څه هوښیار!

«خوشحال خټك»

(c) ketabton.com: The Digital Library



ميړنو له تښتنه شرم دى يونسه !
د نصيب له پښې مادوه جلب
« يونس »

څه سړى څه يې تدبير !
که جهان شي تېر و توره
بې تقدير به و نه مرى
بې اجله مرګى نشته
لکه کار د مړنى دى
د غازيانو شهيدانو
کل ګټنه ده د تورى
مړنى دى چه يا د ښځى
چه په دروغ د تورى لاف کا
توره نجره د خوشحال ده
تر اوو ښهر يو بورى
دا د ځان ستاينه نه ده

هم هغه شي چه تقدير
ستا به مرګ شي خلق خير
نه په توره نه په تير
تيغ و هـه مكر و تقصير
هسى كار نه دى د پير
پروا نشته د سعير
كه كابل دى كه كشمير
په سندرو هم په وير
د هغو نه يم د لګير
كال په كال خلق خبير
واړه مړه په تيغ و تير
حقيقت وايم په ځير
« خوشحال خټك »

چه په توره يې ځواب ور كړى مرديده
كه وجود دى خوك آزار كاندى په چوب
«خوشحال خټك»

چه مين په وسله نه وى
لاس دى سره كا ستر ګې تورى
مرد دى نه وائى خپل ځان ته
ځان دى و جوړ وى ځوان ته
« خوشحال خټك »

باغ وى سرود وى نقل و شراب واى
مجلس د خاصو كتاب په مينځ كښې
ښې ښې دلبرى ښه ښه احباب واى
نقل د تورو و خت د شباب واى
« خوشحال خټك »

د زنانو په حساب دى مردان مشه
شړى ور پښتون به سل په د كه يوسى
چه له زېبه له زينته هم آغوش وى
كشميرى چه بغر ګ شالونه يې په دوش وى
« خوشحال خټك »

د بلا ته د اختيار توره په لاس كښې
تند رهم زمانه ذاته نه پيدا دى
وقضا وته تسليم په شان دمړه يم
په سپين زړه كه د باران سپينې اوبه يم
« خوشحال خټك »

چه جنګيالى وى دولت هغه مومى
دا دواړه تو كسى سره تړلى دى
چه ننګيالى وى عزت هغه مومى
خوك چه محنت كا راحت هغه مومى
« خوشحال خټك »

چه ځان غواص كا ګوهر هغه مومى
دا كا رمې خوځـله به ځان را غلى
چه بې ننګى و اخلى دلبر هغه مومى
له سر چه تېر شي ظفر هغه مومى
« خوشحال خټك »

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستار قیب کله زما په مخ را تلای شی
دمړو و جنګ ته نه د رومی غورتې

« مرزا حنان »

چه نری شی میاشت آخره شپه را خیژی
پتوه څان له عالمه په افلاس کښی

ښې ورښمنې جامې خوی د ارتیښو دی
دمېره مړانه نه څی په کرباس کښې

له یارانو اخلاص تلسلی دی حنا نه !
ګذران د زمانی شو په لباس کښې

«میرزا حنان»

د میدان په ورځ چه تښته کا له جنګه
یا تې هیڅ نشی باقی له نام و ننګه

له میدا نه تښته کاردی د زنانو
مرد به نه تښتی له غشی له تـفنګه

چه د تورو په بر ښنا یی وار خطا شی
مور یی مه وای په هغه غولاتی انګه

د ضرور په ورځ به تښته له ګیدړ کا
چه همېش کاندی خوښی له نای وچنګه

د عزت صدقه سر د سر د نیا ده
مړ نی په شرم سرور کا بید رنګه

«یونس»

## ملی وحدت

تو له یو دی که غلجی که ابدالی دی
ښه هغه چه یی ښیښه د زړه صفا ده

چه عمل یي د نیکۍ وی مېړه هغه
که اغوستي یی ګډله د خامتا ده

«احمد شاه بابا»

۲ ـ ننګ او ناموس :

چه ننګ کاننګیالی دی ورته اینی دی دوه کاره
یا کام د ننګ حاصل کا یا ددوی مینه سپیره ږیری

«خوشحال ختک»

چه د ننګ په چارو نر ندی خوشحا له !
که یی نر وینی په ستر ګو هم ما ده دی

«خوشحال ختک»

کاشکي ځوان دپښتانه په ننګ کښې مړوی
نه چه ګور لره روان شوم له تلتکه

چه دقام به ننګ کښې ومړ هغه څو یه
په عالم کښې دخیل پلار غاړه کا لکه

«خوشحال ختک»

څه یو ازې ننګ په ما را غلی نه دی
پښتانه د پر دی په غرو نه په سمو نه

چه ښور وا خوری دمغلو وا ده سپی دی
د سګانو به خو له څه اخلم نومو نه

ګور به هم په ژړا سر کړم که یی ور وړم
زه خوشحال د زړه دا هو مره املو نه

« خوشحال ختک »

چه د بل ننګ و ناموس سا تلی نشی
و به نه ساتی څوک خپل ننګ و ناموس

« عبدالحمید مهمند »

دخپل رنځ د درد علاج را څخه نه شی
په حکمت که ارسطو و افلا طون یم

د ګلزار څو په هوس شپې ر نـو مه
امو خته لکه شبنم په د اشبخون یم

تلخ ویل پر رقیب څو کوي وما ته
آخر زه شمس الدین ننګی ارم پښتون یم

«شمس الدین کاکړ»

خو وانخلی له قلعه انتقام
چه د ننګ او د ناموس اندوه یې نشته

مرد نه خوب کا نه خواړه کانه آرام
د هغه سری به نه وی احترام
« خوشحال خټک »

نام وننګ افغانی مې ولاړ بر هم شو

انصاف نشته د خوبانو په بازار کښې
« عبدالله یوپلزی »

واړه ننګ د پښتانه دی ګدا نه ځی

حال یې ورځ په ورځ زبون دی ستا په غم کښې
«خوند ګدا »

په جهان د ننګیالی دی دا دوه کاره

یا به و خوری ککری یا به کامران شی
« خوشحال خټک »

ننګیالی د ننګ د یاره
سر به باد د سری پر یوه زره
چه په نام و ننګ اړ نه وی
د جهان بلا دې کل وی

په هر خه لګوی اور
چه یې نه وی ژو ندون نور
که تل ژوی مخ ئې تور
خو دې نه وی ویی (۱) سپور
« خوشحال خټک »

سر په دار لاړ شوی ښه دی
نه لاړ شوی په پیغور

---

۳ ــ تینګښتیا

قول و بول په ژوندون نشی بدلولی

ځکه ځان په جهل و ژنی پښتانه
«عبدالحمید مهمند»

ځان به مړ د عشق په جهل کړم ناصحه!

وا به نوډم زه حمید هسې پښتون یم
« عبدالحمید مهمند »

ددنیا ناوې به بیا به نکاح نکړم

که پښتون عبد العظیم یم په نسب
«عبدالعظیم رانړیزی»

زما خه یې اعتقاد ه عقیده ده

چه له عجزه پر ملا خم وچاته نشو
« شمس الدین کاکړ »

د مرد چه نه وی وینا محکمه
چه یوی زده وی بل ه خبره

په ده به نه شی در غلطه سمه
خلاص وی له همه خلاص وی له غمه
« خوشحال خټک »

٤ ــ ښه خواني :

جار شم قربان شم دپلار له پنده
لذت دور کړي تر ساتل ډیر دی

راته یې ووې زما فرزنده !
خوی خیر ندی ممسك له خونده
« عبدالقادر خټك »

دلو یې به مقام به هاله کښېني

که دور کړي دمراني په وزرځي
«عبدالقادر خټك »

---

(۱) ویی : لفظ ، کلمه .

د خیل ځان دیاره یم درم اسراف دی — چه په بل خونه ښندې بی اسرافی ده
«عبدالقادر خټك»

تو اول کښېول دزرو ښځې کاندي — ور کول بازل بی خوی خصلت دنرو
«عبدالقادر خټك»

چه شجاعت کا دنیا به کف اری — نوم به دنیکو په هر طرف لري
هر چه حاصل کا دا د واړه خویه — هغه میراث دشاه نجف لري
«عبدالقادر خټك»

که ځوا نمردی بل آزار مکړه په گلو — ځان دښو دبدو تیرو ته کړه هدف
«عبدالقادر خټك»

چه گټل خورول بخښل کا ځوان هغه — چه تو ره لری د توري خان هغه
کان دلعل ودیا قوت وگوهر څه دی — چه احسان تري پیدا کیږي کان هغه
چه ئې ته په گېره وخوري حیطه شی — د مجلس سره چه خوړ شی خوان هغه
که دمال دی که دملك دی که د لیچو — چه ئې توان دچا یکار شی توان هغه
په تما مه شپه په ورځی میاشتی کال کښې — چه د خدای په یادو ورومی آن هغه
چه دخوك دوړ اندی روستوځی داخه شی — په تنها وجود چه شان شی شان هغه
و نور چاوته وران مه وایه خو شحاله ! — چه قول عهد وران شو وران هغه
«خوشحال خان خټك»

که پښتو ن شی گدا گر د کل جها ن — غگ ئې تللی دو ودی دی تریونان
هسی شه مهما ن نوا زه خلك نشته — لکه خدای چه پیدا کړ یدی افغان
که بهردرته مرزی شی خو یه کور کښې — له ادبه ځان میر ئی کړی تا به خا ن
دهرچا ځای له چه ور شی بې تکلیفه — کټ بوزی در ته تیار وی آش و نان
«میر احمد شاه رضوانی»

۵ — د پښتو نولی غرور :

زه له ځایه د ماغی به جهان را غلم — ماد هسې د ماغ سر نه دی را وړی
له اصلی فو لاده هله تیغ ر غیږ ی — په وار وارچه ځنې لاړ شی و سنپخړی
«خوشحال خټك»

که زه گوری درد آشامو سره شماریم — خوار هغه چه ئې له ما سره آهنگ دی
هر ملځی دسر بازی هنر څه زده — چه په دا هنر کښې سر ښندی پتنگ دی
لا تر او سه ئی ما غزه په قرار ندی — چا چه ما سره و هلی سر به سنگ دی
د گیندیو به ځیگر کښې ئې گولی دی — که لیدلی چا دما د ښکار تفنگ دی
لا په خوب کښې به لرزه پر یوزی له کټه — چه دچا ترغوز زما د توری شرنگ دی
که پهدا د رومی گو رې هغه زه یم — چه مې داغ په خاطر اینې داورنگ دی
در ست جهان می ومغل و ته خپر کړ — ځای په ځای ئې پښتانه وته فلنگ دی
ځنې څه لویه دعوی لرم په زړه کښې — ولې څه کړم چه پښتون واړه بې ننگ دی

خو طالع را سره هسې مدد نه کا
دخو شحال دزړه دحال ننداره وکړه

چه زما د در وېزې په کچکول لحير شی

هسې رنګه له دې ها لمه تنها خوښ يم
تر هغه چه خشك طينت د صحرا و يمه
چه شاړه وي له اقمې وزی مگس شی
چه په شان د آفتاب ننده وګرم رو يه
چه په قيد يی د قفس کړم لکه زرکه
که پيدا رلکه تصوير له خوا به نه شو

جهان شرم نام و ننګ دی
چه وفا و رخه نشته
چه يی عشق تر سره کړی
په ښا غليو جهان ارت دی
چه خوشحال باندې ناستی کا

اکوړی ، يحيی ، شهباز واړه سره زر وو
اکوړی ، يحيی ، شهباز واړه زمری وو

د حاتم غوندې مې خيل و حشم نشته
سخاوت مې په تقليد په رسم ندی
په وګړی مې خبر ي د مردی شته

هر چه کاندی نوکری د بادشاها نو

مطيع الله له موره پلاره هم سوال مکره

در و ېز ه له در و ېزه گرو ناکسی ده
چه رښتينی سيده صاف نه وی حميده !

هسی فخر شمس الدين کاندی په عشق کښې

دروغ ويل هغه کاچه يی وېره وی یا طمع

ګنه تېر تر فريدونه مې فرهنګ دی
که په تخت دپاچه کښينی هم ملنګ دی
« خوشحال خټك »

دحاتم په زړه به سهم د سوال پرېوت
« عبد الحميد مهمند »

چه مدام لکه وحشی په صحرا خوښ يم
لکه موج او اره په دريا خوښ يم
کله زه د هغه خوان په صلا خوښ يم
ستا په سر که په سايه د هما خوښ يم
تر دا هسې خنده از ه په ژړا خوښ يم
په دا حال له خپله بخته شيدا ! خوښ يم
« شيدا خټك »

که دا نه وی جهان رنګ دی
ګل به څه کړی چه خوشرنګ دی
نور خو ك نشته خو پتنګ دی
په غرو ليو باندی تنګ دی
دا بوزی ندی اورنګ دی
« خوشحال خټك »

په خپل دور واړه و ښه تېر کړ خپل وار
زه هم نه يم د گيدړو په قطار
« خوشحال خټك »

په عطا کښې له حاتمه برابر يم
زه له ځايه د سخی بابا پسر يم
په همت کښې په هر لوری نامور يم
« خوشحال خټك »

خامخا به د دربا نو منت بار وړی
« عبد الرحمان مهمند »

سل بلا شرمندګی دی په سوال کښې
« مطيع الله پير خيل »

د فلك کچکول ته مه نيسه ، کچکول
بول بول عافلان دا هسې بول
« عبدالحميد مهمند »

لکه فخر کړی پښتون په خپل نسب
« شمس الدين کاکړ »

خوشحال په دالاندی حق به وايی خو يی سرشته
« خوشحال خټك »

روهي ګلونه (۵۲۰) پ : سردار محمد : ح : سراج الدين : ر : محمد امين ن : رجب‌علي : ه : اجرائيه پښتو ټولنه ۲۷-۲-۲۶

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**